شهامت

مه کالګنه

یوولسم کال، شپږمه، پرلپسې۶۸مه ګڼه، رجب المرجب۱۴۳۹هق، اپرېل۲۰۱۸م

د درېیم نړیوال جنګ سپرغۍ څوک شیندي؟

په سوریه کې د امریکا او روسیې نیابتي کشمکش

- امریکایان ولې دیني مدارس په نښه کوي؟!
- دصهیوني رژیم تازه ظلمونه!
- پرلتونه ولسي ابتکار، که د جنرال نیکولسن پروژه
- داسلامي علومو زوال او دعلماوو فکري اضمحلال
- غوطه کې ستر بشري ناورین
- پرلت ته په پلترۍ ناست پکې خطا دي

بکدامین گناه قندوزم خونین شد؟

په ننګرهار کې مکتبونه څوک سوځوي؟

هدف واقعی امریکا از پروسهٔ انتخابات

د یرغلګرو خلاف مقاومت کې د علماوو رول

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

یوولسم کال، شپږمه، پرلپسې ۶۸مه ګڼه، رجب المرجب ۱۴۳۹هق، اپریل ۲۰۱۸م

دامتیازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰ کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه..	۱
۲	د یرغلګرو خلاف مقاومت کې د علماوو رول................................	۳
۳	په ننګرهار کې مکتبونه څوک سوځوي....................................	۵
٤	تاریخ به دا هم ولیکي!...	۷
٥	افغانان په ډبګرۍ کې!..	۸
٦	آیا ریښتیا په مدارسو کې ترهګر روزل کیږي؟..............................	۱۰
۷	دکندوز وحشي بمبار او دافغان حکومت شرمنده دریځ !.........................	۱۲
۸	دیوې کندوزۍ خور دخولې خبره!..	۱۴
۹	بکدامین ګناه کندوزم خونین شد؟.......................................	۱۵
۱۰	دمفکر! رژیم ولې دمنظورپښتون حمایه کوي!؟................................	۱۷
۱۱	دکندز غمیزې دسولې وړاندیز نور هم بربنډ کړ!...............................	۱۹
۱۲	په هوایي بمباریوکې دملکي خلکو درانه تلفات	۲۰
۱۳	دمسیلمة الکذاب وارثان او دعظیم الشان قران حافظان	۲۲
۱٤	دسولې په اړه څو حقایق	۲۵
۱٥	دصهیوني رژیم تازه ظلمونه! او نړیوالوچوپتیاولې؟..............................	۲۹
۱٦	غوطه کې ستربشري ناورین	۳۱
۱۷	ګلورینې پاڼې..	۳٦
۱۸	دکندوز دشهیدانو په یاد کې!...	۳۷
۱۹	په مدرسیو برید د څه دپاره ؟	۳۸
۲۰	امریکایان ولې دیني مدارس په نښه کوي؟!.................................	۳۹
۲۱	پرلتونه ولسي ابتکار ، که دجنرال نیکولسن پروژه	٤۱
۲۲	په سوریه کې دامریکا او روسې نیابتي کشمکش	٤۲
۲۳	دعمربن عبدالعزیزرحمه الله دخلافت نیکمرغه دور...............................	٤٤
۲٤	پرلت ته په پلټرۍ ناست پکې خطا دي	٤٦
۲٥	داسلامي علومو زوال او دعلماوو فکري اضمحلال	٤۸
۲٦	علامه غلام نبي کاموي رحمه الله	٥۲
۲۷	داسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه	٥٦
۲۸	هدف واقعی امریکا از پروسۀ انتخابات	٦۱
۲۹	په کندز کې نه جواب کیدونکی وحشت	٦۳

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان
بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

د دریم نړیوال جنګ سپرغۍ څوک شیندي؟

په افغانستان،عراق او لیبیا دوحشیانه یرغلونو پر تعقیب امریکا دخپلو استعماري عزایمو دپراختیا او تکمیل په حرص په یوبل اسلامي هېواد (سوریه) هم بریدونه وکړل او پکې څو مهم ښارونه او پوځي مرکزونه یې په نښه کړل

سوریه هغه اسلامي او عربي هېواد دی چېرته چې دنړۍ زبرځواکان (هیوادونه)دخپلو شومو ګټو او اغراضوپه سر دیوبل سره په جنګ لګیادي او پر یو بل دبري مندلو لپاره یې لاسونه دیوبل ګریوان ته اچولي چې په ترڅ کې یې په زیاته بې دردۍ دمظلومو مسلمانانو وینې لکه داوبوپشان بهوي او نړیوال یې په چوپه خوله ټول محض تماشې او ننداري ته ناست دي

دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه او امینت شورۍ چې په نړۍ کې دجنګونو دمخنیوي مسؤلیت لري او دجوړیدواساسي هدف یې هم داو چې دجګړې څخه به دحریصو جګړه مارو هیوادو لاسونه لنډوي، خو نن دادی وینو چې برعکس ملګري ملتونه دجنګونو دمخنیوي پرځای دجګړه مارو قوتونو دلاس اله ګرځیدلي او په نړۍ کې دجنګونو سپرغۍ شیندي

حال داچې د دوهم نړیوال جنګ وروسته دملګروملتونو نړیواله ټولنه ددې لپاره رامنځته شوه چې بشریت ته به له جنګونو نجات ورکوي ، ټوله نړۍ به دامن او سولې زانګو ګرځوي افسوس ! چې دا ارزو او ارمان ترسره نشو اونړیوال بالعموم او مسلمان بالخصوص دزورواکو هیوادو له لوري لا هغسې دجنګونو او مرګونو دخطرونو او ګواښونو سره مخ دي څنګه چې وړاندې وو، څکه جګړه مار هېوادونه خپلې ګټې د باروتو او

ورونو د لمبو سیوریته خوندي بولي اوددې لپاره دنړۍ کمزوري هېوادونه او ولسونه په ډول ډول تهدید ونو او ګواښونو سره ډاروي .

نو پوښتنه داده چې دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه او امنیت شورى دکوم مرض دوا شوه؟ ایا تراوسه یې پخپل محوري هدف کې شل سلنه برى هم مندلى؟ حقیقت دادى چې د۱۹۴۵زکال راهیسې له کله چې یاده ټولنه رامنځته شوې دنړۍ پیښې او جریانونه شاهد دي چې ملګري ملتونه دخپلو اهدافو په ترلاسه کولو کې له هغسې ناکامۍ سره مخ دي څنګه چې دلومړي نړیوال جنګ وروسته رامنځته نړیوالې ادارې (اقوامو ټولنې) ونشواى کولى چې ددوهم نړیوال جنګ درامنځته کیدو سپرغۍ یې وژلې واى!! او نړیوالو ته یې د هغه د زړه بوږ نوونکو پایلو نجات ورکړى واى!!

نن په عین شکل دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه د دریم نړیوال جنګ سپرغیو په وژلو کې نه یوازې ناکامه ده بلکې دنړۍ ابرقدرت هېوادونه له دغه ستیجه د دریم نړیوال جنګ قومنده ورکوي او دبشریت وژونکې اور په لمبو تیل شیندي.

په خاصه توګه دیوولسم ستمبر وروسته چې امریکا دخپلو منفي عزایمو دتکمیل لپاره دمسلمانانو په سینه کې خنجر وواهه اوپه فغانستان یې ناروا یرغل وکړ،دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه او امنیت شورى ګام په ګام ورسره مله وه، اوس دادى دعراق او لیبیا وروسته چې د سورېې نوبت راغلى نړیواله ټولنه او امنیت شورى بیا دامریکا سره ولاړدي ، دیته په کتوهر دشعور او پو هې خاوند دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه بیطرفه نه بولي او کړو وړو ته یې دشک په نظر ګوري.

د پوځي چارو څېړونکوپه اند: په سوریه کې تراوسه دامریکا یې بریدونو اهداف مشکوک دي او لا نده روښانه چې واقعاً یې هغه څه ترلاسه هم کړل چې دعوه یې لري ؟ اندیښنه شته چې امریکا یان اصلي حقایق پټوي او دکیمیاوي وسلو په پلمه غواړي دخپلو سیالانو دځملولو لپاره سوریه دنړیوال جنګ ډګراوګرځوي ځکه د سورېې پخپلمنځي جنګ کې هسې هم روسیه له وړاندې ښکېل وه امریکا غواړي ورسره هم هلته مخامخ ډغره ووهې .

او افسوس دنړۍ دیونیم ملیارد انسانانو (مسلمانانو) د واکمنو په بې وسۍ او لاپرواهۍ چې دښمن پرلپسې اسلامي هېوادونه د خپل ظلم و ستم نښنه ګرځوي او دوى بیا هم رابیدار نشول او په راتلونکي کې اندیښنه شته چې دامریکا په مشرۍ کفري ائتلاف نور اسلامي هیوادونه دورته انجام سره مخ کړي څو په نړۍ کې مسلمانان یوه پیړۍ نور هم سر پورته نکړاى شي او دامریکا او لویدیځ استعماري سیاستونه او ګټې او نه ننګوي .

هو! لا هم وخت شته چې داسلامي هېوادو واکمن دوخت او زماني حساسیتونو او نزاکتونو په درک کولو دمسلمانانود نجات پخاطر سره یو دریځ اویو غږ شي او په ګډه دامریکا له منګلونه داسلامي هېوادو او داسلام خاورې دازادۍ شعار بدرګه کړي .

د یرغلګرو خلاف

مقاومت کې د علماوو رول

عبدالرحیم (ثاقب)

افغانســـــتان د خپـــــل جیوپولیټیک اهمیت له مخې تـل د نـــړۍ د مســـتکبرو او یرغلګـــرو ځواکونو د تاخت او تازمورد وي.

یرغلګـــر د دې لپـــاره پـــر افغانستان یرغل کوي چې دوی تمـه لري د هغـه پـه لانـدې کولـو سره بـه دوی ته د نـورې نـړۍ تسـخیرول او نیول آسانه شي، خو دوی خبر نه وي چـې اصـلا افغانسـتان تـه راتـګ د دوی لپاره په خپلو پښـو د خپـل قـبر کندې ته له ورتلو سره مرادفوي.

ځکـه افغانسـتان لکـه څـومره چـې لـه جیوپـولیټیکي اړخـه خپـل خاص اهمیت لري ، په هغه اندازه یې غیرتي اوسیدونکي د بهرنیو د یرغـل په وړاندې ذاتیحساسیت لري.

مونږ ګورو چې له اسکندره مقدوني نیولې تر چنګیـز، انګریـز او پخـواني شـوروي پورې ټولو خپلې امپراتورۍ د افغانستان د لاندې کولو په نیت همدلتـه پـه رارسـیدو سره له لاسه ورکړې او مغروري ککرۍ یې د غیرتي افغانانو په لاس د افغان تـاټوبي پـه غـرو رغو کې رغیړلې دلې دي.

له افغانستن څخه په دفاع او له هغه څخه د یرغلګـرو پـه شـړلو کـې د دې هیـواد د اسلامي علماوو رول خاص اهمیت لري.

که په تـاریخي لحـاظ د افغانسـتان د خپلـواکي او دفـاع جګـړو تـه وکتـل شي دا تري جوتیږي چې په دغو جګړو کې افغاني علماوو خاص رول لرلی ، هغوی هم په خپله لـه تیري کوونکو لوریو سره د دفاع او مقاومت په سنګرو کې شهیدان شوي او هم یې افغان ولس ته له خپل دین، عقیدې او هیواد څخه د دفاع او سر ښندنې درس ورکړی دی.

د افغان انګلیس جګړې په مهال د انګریزانو په مقابل کې د نومیالي غازیانو ، هـډې ملاصاحب ، ملامشک عالم اندړ، ترنګزو حـاجي صـاحب او ... او د شـوري اشـغالګرو پـه مقابل کې د ملي غازي مولوي محمد یونس (خـالص بابـا) مولـوي محمـد نبـي محمـدي ، مولوي نصرالله منصور، ملا نسیم اخوندزاده، شهید مولـوي شـفیع اللـه او نـورو زرګونـو دیني عالمانو نومونه هغه څه دي چې افغاني تاریخ د تل لپاره پـه خپلـه سـینه کـې ورتـه ځای ورکړی دی .

د اوسنیو امریکایانو او نړیوال صلیبي ایتلاف د کفري یرغل پـه وړانـدې د جهـاد او مقاومت مسـؤلیت او قیـادت هـم د علـماوو پـه غـاړه دی چـې امیـر المـؤمنین مـلا محمـد

عمر(مجاهد) رحمه الله ، شیخ المجاهدین مولانا جلال الدین (حقاني) شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد (منصور) شهید ملا عبیدالله ، شهید ملا سیف الرحمن (منصور) شهید ملاداد الله ، شهید ملا عبدالسلام ، شهید مولوي دوست محمد او په زرگونو نور هغه سر ښندونکي مجاهد علماء د بیلگې په توگه یادولای شو چې د صلیبي یرغلگرو په خلاف یې د مقاومت سنگرونه په خپلو قربانیو او سرښندنو باندې گرم ساتلي.

د مقاومت په قیادت کې د علماوو اهمیت او مؤثریت

د دیني علماوو د اهمیت او فضیلت په اړه د مسلمانانو په ترټولو مقدس کتاب قرآن عظیم الشان کې متعدد آیتونه ، او په مبارکو نبوي احادیثو کې ډیر زیات روایات راغلي دي، هغوي د هدایت او د اسلامي امت د لارښودنې ستوري بلل شوي؛ ځکه خو د اسلام په ټولو شعائرو کې د هغوی شتون مهم او با ارزښته گڼل شوی دی.

جهاد او له اسلامي مقدساتو د دفاع وظیفه چې خپله یو شرعي مسؤلیت دی هغه وخت په ښه ډولترسره کیدای شي چې قیادت او مشري یې د علماوو په لاس کې وي .

دغه اهمیت مونږ هغه وخت ښه درک کولای شو چې کله په افغانستان کې د جهاد په قیادت کې یو شمیر داسې اشخاص ووینو چې ظاهرا خپل ځان عالم او علماوو ته منسوب گڼي او په حقیقت کې د اسلام او جهاد له روحه نا خبره وي، دوی د هرڅه تحلیل او تحریم د خپل هوا اوهوس له مخه کوي او د اسلامي احکامو له فقهي اړخ سره نابلده دي ، مونږ ولیدل چې د دغو جاهلو چارواکو د د ناسمو کړنو او فکري انحرافاتو له وجې زمونږ د ولس د یو نیم ملیون شهیدانو قرباني له خاوره سره خاورې شوې.

جهاد په فساد بدل او په ډیرو مواردو کې د هغوی د جاهلانه قیادت له وجې مسلمانان له خپل دین او جهاد څخه منحرف شول.

خو کله چې بیرته د فساد په وړاندې د مقاومت او مقابلې مسؤلیت علماوو په لاس کې واخیست بیامو د هغه پایله هم ولیده چې افغانستان یې په څه ډول حساسو شرائطو کې د دې مفسدو جاهلانو د فساد له شره وژغورو.

دا چې جهاد یوه شرعي فریضه او مدار علیه د ټولو احکامو د اسلام ده نو اړینه ده چې جهادي قیادت د علماوو لخوا ترسره شي، ځکه همدا علماء دي چې د جهاد د فرائضو، واجباتو ، مستحباتو او نواقضو په اړه دیني اگاهي لري.

د جهادي صف متحد او پاک ساتل په هغه کې د علماوو د شتون نتیجه ده ، څومره چې دا قیادت له علماوو سره پاتې کیږي په هغه اندازه یې د انحراف او بې لارې مخه نیول کیږي.

اوس چې د اشغالگرو صلیبي ځواکونو لخوا په افغانستان کې د دیني علماوو د روزنې ځایونه (دیني مدارس) په ښنه کیږي دا په راتلونکې کې د مقاومت پر مسیر ډیره منفي اغیز لرلای شي چې باید حتی الامکان یې په اړه وقایوي او تکتیکي تدابیر غوره شي. صلیبي امریکایان پوهیږي چې دیني مدارس د جهادي مقاومت د سیرابولو لپاره د بهیدونکو چینو حیثیت لري، همدا وجه ده چې هغوی په خپل ټول امکان د دې علمي منابعو د وچولو او له منځه وړلو کوښښ کوي.

خو جهادي مسؤل چارواکي لکه څرنگه چې یې تر اوسه د مقاومت په شنډولو کې د اشغالگر صلیبي دښمن هرپلان شنډ کړی باید دغې خطر ناکې توطیې ته یې هم متوجه او د هغې له منفي اغیزو څخه جهادي مقاومت د مصؤن ساتلو کوښښ وکړي.

خلیل - عزیز

په ننګرهار کې مکتبونه څوک سوځوي ؟

لـه تیرې یـوې اونـی راهـیسي دننګرهـار ولایـت دمهمندرې ولسوالی په مربوطاتوکې دادریم ښونځی دی چې دسوځول کیدوراپورونه یې ورکول کیږي

داونـی پـه اوږدوکـې ړومبی دمهمنـدری ولسـوالۍ دایمل خان لیسه وه چې دولسوالی له مرکز (ودانی) سره دیوال شریکـه ده چـې دعلـم اوعرفـان ددښـمنانوله لـوري وسوزول شوه، دوهم مکتب دهزارناو په سیمه کې وودغـه سیمه دداعش اوګوډاګي رژیم ښه پیاوړی مرکـز دی چـې درژیم ګنـې پوسـتي هلتـه ترینـه شـاوخوا پـرتي اوځـای پرځـای دي دورځـې پـه دغوپوسـتوکې اربکیـان وي او دشپې له پلوه پکې داعشیان اوسي، دریم سـوځول شـوی مکتـب دګـردي غـوث دعمـومي لاري اوسرک پـه سرموجوددی چې هلته هم څـو امنیتـي پوسـتي پـه نـږدی واټن کې ورته پرتي دي اوداجیررژیم ترنفوذلانـدي تـوده ساحه بلل کیږي

خودرژیم پـه همـدومره کلابنـده اوترامنیتـي پوښـښ لانـدي سیموکـې بیـاهم مشـهورتعلیمي مراکـز (لیسـي- ، متوسطي اویاابتدایی ښونځي) سوځول کیږي اوپه ډیـري سپین سترګی یې شرمیدلی رژیم له مسـؤلیت څخـه اوړي سپکوي .

په ننگرهار کې داسلامي امارت سیمه ییزو ملکي اوپوځي مسؤلینوددغوپیښنوپه رومبیوساعتونوکې دسوځول شوو مراکزوپیښي اوکړني په کلکه وغندلي اوهغه یې دگوډاگي رژیم پلان شده کار اوهم درژیم دخاصوملیشو(داعشیانو) معلوم الحاله جنایت وباله

داعشیانوځواونی وړاندې دمهمندري ولسوالی دگردي غوث په سیمه کې یوه زیارت اوهم ورسره په خواکي یوجامع جوماتپه بمونووالوزاوه اوگڼوعاموخلکوته یې پکې مرگ ژوبله واړوله .

له شک پرته چې امریکایان ددغوټولوبشریت ضداواسلام دښمنه اعمالوترشا که هغه دمدارسوبمبارول ، که دمکتبونوسوځول یاعاموخلکوته ضرررسول دي پوره لاس لري چې دکابل رژیم اوداعشي ملیشوپه زریعه یې دیوه طرحه شوي پلان اوستراتیژۍ له مخې پرمخ وړي ترڅودخلکوپه منځ کې بیم اوویره خپره کړي اودټرامپ ستراتیژي بې رحمه اوناترسه وښيي.

دراپورونوله مخې دوه ورځې وړاندې دحلقه بگوش رژیم د(۰ ــ ۱) قطعي خاصي قواوي دعملیاتوپه پلمه دلوگر ولایت خروارولسوالی ته تللي وي په توره شپه کې یې دخروار ولسوالی یوشمیرسیمي وپلټلي خوچې څه په لاس ورنغلل نوبیایې دولسوالی دعمومي بازارپه لورمخه کړه چې په ترځ کې دیونیم سل دوکانونورومبی قلفونه او دروازي ماتي کړي بیایې په دوکانونوکې زیاتره قیمتي اجناس اوسامانونه چوراوچپاول کړل اوپه رنجروکې یې له ځانوسره یوړل .

دکابل دمنفوري اوربتل شوي اداري دغه ورستی جرمونه اوجنایات ښیي چې نور دوئ دافغان ولس په منځ کې داوسیدواوشتون مخ اومجال نه ویني ، خپلي ورځي اوشپي شمارلي گوري اوواکمن یې دې پریکړي ته رسیدلي چې افغان ولس څه چې کاني ، بوټي ، غرونه اورغونه یې هم له یوې مخي مقابلي اومزاحمت ته راوتلي ؛ نوځکه دغه مختوری رژیم دعام ولس قتل عام ، ددیني مدارسوبمباردولو، دمکتبونوسوځولواودولس دشمتنیوچور اوچپاول ته په لویه پیمانه متي بډوهلي دي .

دمتعال رب جل جلاله ، دربارته په ډیره تضرع سوال کوو چې نور دافغان ولس له سره داسلام اوافغانیت دغه ابدي دښمنان چې هغه امریکایان اودامریکایانوجاسوسه اداره ده محوه اونابوده کړي اودمیړنی ټاټوبی پاکه خاوره اوحریم یې دهغوئ له ناولیوقدمونوڅخه ژرترژر پاک اوستره وگرځوي .

امین یارب العالمین .

تاریخ به دا هم ولیکي!

لیکوال: منیب مهاجر

نن مونږ په داسې نړۍ کې ژوند کوو چې هر څه پکې سرچپه روان دي حق ته باطل او باطل ته حق ویل د ډېرو خلکو ورځنۍ عادت ګرځېدلی حتی ځینې خلک خو په دې برخه کې ټولې پولې ما توي یوا ځې د خپلو بادارانو د خوشحالۍ لپاره هر څه چې په خوله ورشي په ویلو یې هېڅ صرفه نه کوي.

د تش په نوم اجرائیه ریاست (که داسې ولیکو) د جا ن کېري اجرائیه ریاست بده به نه وي د ویندوی خبرې مې هد ف دي چې په مظلومو ماشومانو باندې د برید څخه یې په ډېره بې شرمۍ او مړسترګۍ دفاع کوله او ویې ویل زمونږ اصلي ستونزه له مدرسو څخه را شروع شوې ده.

زه وایم د مدرسې کوم استاد یا شاګرد زما د وطن په مظلومو خلکو له هوا څخه بمونه اورولي دي؟

د مدرسې کوم استاد یا شاګرد زما وطن اشغال کړی دی؟

د مدرسې کوم استاد یا شاګرد زما د وطن با عزته ښځې سپین ږیري ماشومان علماء اوعام خلک په سپیو داړلي دي؟

د مدرسې کوم استاد یا شاګرد زما د خلکو د واده مراسم بمبار کړي دي؟

خیر ظالمه !

ته خو به هم د افغاني مور په غېږ کې روزل شوی وې،

د ماشوم توب په عمر کې خو به یوه ورځ مدرسې یا مسجد ته د درس لپاره تللی وې،

ته او خدای دې خپله قضاوت وکړه تا په مدرسه یا مسجد کې داسې څه اورېدلي چې د مدرسې استاد یا شاګرد دې داسې څه ویلي وي چې هغه د خلکو لپاره د ستونزو جوړېدو سبب شي په مدارسو کې خو د دین زده کړه کېږي که د د ین زده کړه کوم جرم وي بیا نوستا خبره سمه ده.

د کندز په ولایت کې په د دستار بندۍ په مراسمو بمبار او د قرآن کریم د نازولو حافظانو شهادت یوه دردوونکې او نه هېرېدونکې پیښه او د ټولو قوانینو خلاف عمل دی چې ستاسې وحشي صفته څېره یې ټولې نړۍ ته ښه روښانه کړه چې اصلا ستاسې ستونزه د سنګر له طالب سره نه ده بلکې هر هغه چا ته د دښمن په نظر ګورئ چې په واقعي توګه په قرآني فکر روزل شوی وي،

دا تنکي او مظلوم شهیدان هغه څوک وو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوی ته د خپل امت له جملې څخه غوره خلک ویلي دي لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي:

»خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ« (صحیح البخاري.(

یعنې بهترین په تاسو کې هغه څوک دي چې قرآن زده کړي او نورو ته یې وښیي.

ظالمانو! دې شهیدانو خو بل کوم جرم نه درلود که د قرآن زده کړه جرم وي بیا د ده ښاغلي خبره د منلو وړ ده خو پام مو وي چې نور دا ملت په خپلو اوتو بوتو نه شئ غولولی، دې غیور ملت اوس ستاسې منحوسه څېره ښه پېژندلې ده.

تاریخ به دا هم ولیکي چې څو بې ضمیره پلورل شوي او بې احساسه کسان د غربي استخباراتو له لوري د خپل ملت د وژلو لپاره ګومارل شوي وو او د خپل ملت په وژنه یې هېڅ صرفه هم نه کوله له یوبل سره یې د خپلو بادارانو د خوشحالۍ لپاره د خپل ملت په وژنه کې سیالي کوله.

افغانان په "ډبګرۍ" کې

○ عابد

نن درسره دخپل ولس یو درد شریکوم او یوداسې دسترګو لیدلی حال درسره بیانوم چې نړدې ټول ولس مو ورسره مخ دی، په معدنونو زمونږ ترټولو غني، خو ترټولو محتاج ولس مو په هرڅه کې ګاونډیوته اړ دی، په تېره بیا د علاج او تداوۍ په برخه کې خو ډېر اړمن اومجبور ملت دی اودګاونډیو په شمول مو ترلرې هیوادو علاج اوتداوي ته سفرونه کوي .

په همدې لړ کې مې دپاکستان دپېښور ښار په " ډبګري ګارډن" سیمه کې دخو تنو افغانانو داحتیاج حالت په سترګو ولید چې دافغانانو اوبیا په تېره دپښتنو غمیزه او ورسره لاس اوګرېوان حالت یې انځوراوه .

دوه تنه ځوانان دي له جامې اولباسه داسې ښکارېدل چې دافغانستان د جنوب شرق دولایتونو دیوې داسې کورنۍ غړي به وي چې هلته به د نسبتاً منځني اقتصاد درلودونکي کورنۍ وي، ځکه ګرانبیه غمي داره خولۍ یې په سر دپاکو، تورو اوږدو وېښتانو درلودونکي ځوانان وو، چې ددغې سیمې په ګڼه ګوڼه کې مې ورته پام شو او زما له مخه روان دي، هر ذی وسع اومخور کس سره په مخ کېدو ورته دواړه په ملا غبرګ ټیټ شي، په ډېر بې زړه غږ ترې سوال وکړي، خپل احتیاج او اړتیا ورته وړاندې کړي، هیڅوک ورته اعتناء نه کوي، وضعې او لباس ته په سوالیه نظر ترې تېر شي .

زه وروسته او دوی له مادمخه دي . دې حالت یې پسې واخیستم اوله یوعالم سوچونو سره پسې روان یم، که مې په هماغه صحنه ترې دموبایل ویډیو کړې وای، ددې صحنې په ثبت به ددوی د مجبور، زار، بې کسه، محتاج او مظلوم حالت (چې نږدې دټولو افغانانو حالت دی) زما ترقلم ډېر ښه انځور کړی وای، خو داچې ددرنې کورنۍ خلک معلومېدل نشر-به یې افشاکړي اوبیاشاید کورته په عمر هم نه وای راګرځولي او شوي دې وای چې له غیرته یې ځانوژنه کړې وای ، داخو دغو تنګو حالاتو او لنډ وخت دې کار ته مجبورکړي وو، چې شاید مریض به یې په بستر پروت و اوسم دواره به مزدوري ته وزګار نه وو .

همدا شان په دویم ځل راسره یومشر- سړی مخ شو، په ونه دنګ اودسپینې ږیرې خاوند باثقه سړی و، سپینه پلاستیکي خلته چې شنه لیکل پرې شوي وو ورسره وه چې غالباً کوم جوړه کالي به یې پکې و ° غږ

يې راباندې وکړ خو يو ډېر زوړ غږ چې ورته ودرېدم ، ويل : له افغانستانه مې مريض راوړی خرچه راختمه شوه که يوڅه کومک راسره وکړې° زه چې خپل مريض مې دعملياتو په مېز پروت او عاجلې اړتيا يې په منډه کړی وم° عذر مې ترې وغوښت او روان شوم، خوسمدستي مې په زړه ټک وخوړ او ودردېدم ... آه !! اوبيا چې هرڅه پسې وګرځېدم پيدامې نه کړ .

داساسي ستونزو په لړکې يواځې دتداوی اوعلاج دومره چاره ونه شوه چې هيوادوال مو په خپله خاوره کې تداوي شي. اوس يواځې دعادي علاج لپاره هم له هيواده دباندې منډې وهي او ډېر زيات کړاوونه تېروي ، داپه دې چې په خپله خاوره کې له دې اړخه په هيڅ صورت ډاډمن نه دي که تشخيص وشي، داو بې کيفيته وي اوکه دوا کيفيت پيداکړي تشخيص او بې پروايي يې تېښتې ته مجبوروي.

دسياسي موخې او ډلبازۍ په موخه مې دې موضوع ته قلم نه دی راپورته کړی اونه په حق اوناحقه يو اودبل په غندلو او ټکولو اموخته يم ، بس يواځې داسلامي ورورولۍ او دافغاني خواخوږۍ احساس مې قلم به ګوتو راکړ، په دې برخه کې له افغانانو اوعام ولس سره هر جفاګر او غدر کوونکی جهت که په هرنامه وي دغندنې حقدار دی .

که له هرډول نسبتونو، طرفونو او نومونو نه په تجريد سره افغان ولس ته نظر وکړو، نوله ډېرو لوريو ورسره ډېر ظلم کيږي اوپه تمامه معنی مظلوم ولس دی .

په هروخت اوهرځای کې بې سرپرسته اوبې سرپوښه ملت دی هيڅوک يې دپوښتنې نه شته بس دی دی او کړاو دی چې کړيږي .

که ددې مظلوم حالت اوناخوالو پړه ترډېره په خارجي اشغال اويرغل ده ولې دزمام واکدار او مسؤلين هم په هيڅصورت برائت نه شي موندلی .

په تېرو اوولسو کلونو کې هيواد ته ډېرې بسپنې وشوې اوبې حسابه پيسې راغلې، که په هرنامه وي، خو ترهيواده راورسېدلې مګر

د الله تعالی په لار کې زخمي کېدل !

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رض: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ وَالرِّيحُ رِيحُ الْمِسْكِ»». (بخاری: ۲۸۰۳)

ژباړه : له ابو هريره رضی الله تعالی عنه څخه نقل شوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : زما دې قسم په هغه ذات وي، چې زما روح د ده (جل جلاله) په اختيار کې دی، هر کس چې د الله عزوجل په لار کې ټپي شي. الله تعالی ښه پوهيږي، چې څوک د ده په لار کې زخمي شوي، د قيامت په ورځ به پداسې حال کې را څرګنديږي، چې د ټپ(زخم) رنګ به يې د وينې وي، او بوی به يې د مشکو وي.

آیا رښتیا په مدارسو کې ترهګر روزل کېږي؟

لیکوال: احمد منصور

څو ورځې دمخه مزدور دښمن د کندز ولایت د دښت ارچي په لسوالۍ کې په یوې دیني مدرسه بمبار وکړ، چې تر دوه سوو پورې علماء، فاضلان، حافظان، او عام مسلمانان یې پکې شهیدان کړل.

مزدور دښمن په اول سر کې ادعا وکړه چې د طالبانو د رهبري شورا غړي راغلي دي او د کندوز په سطحه د طالبانو عمومي غونډه وه، او طالبانو غوښتل چې د دریم ځل لپاره د کندوز سقوط پلان طرحه کړي، بیا یې چې دا دروغ افشاء شول نو بیا یې وویل چې په دې دستاربندۍ کې موجود ول، او او دلیل یې دا وښودل چې هلته د طالبانو سپین بیرغ نصب شوی وه نو ځکه مو مدرسه ترهدف لاندې ونیوله.

زه وایم چې دا یو جاهلانه دلیل دی ځکه د ارچي ۹۰ فیصده خاوره د طالبانو تر کنټرول لاندې ده، د طالبانو بیرغونه په هر بازار کې بلکې په هر ځای کې شتون لري، نو بیا په کار ده چې د ارچي ۹۰ فیصده خاوره تر هدف لاندې ونیول شي، او که د بیرغ له وجې نه یو ځای تر هدف لاندې نیول په کار وي نو بیا خو طالبانو ته هم دا خبره دلیل ګرځیدی شي چې هر ځای تر هدف لاندې ونیسي، خو نه طالبان یې ځکه نه نیسي- چې هغوی رښتیني مؤمنان دي، دا ادعاء یې هم سیمې ته د رسنیو په ورتللو دروغ وختله.

په تولنیزو شبکو کې د کوچنیو حافظانو او د تنکیو فاضلانو د شهادت تصویرونه ترسترګو کېدل، مزدور دښمن بیا د طالبانو د یو چارواکي د وژلو ادعاء وکړه ګویا چې په دې دستاربندۍ کې موجود وه خو چې روسته طالبانو د هغه چارواکي د ژوند ویډیو راپور خپور کړو، دښمن ته نور څه د دورواغو ویلو پاتې نه شوه، د ډېل عبدالله ویاند په یوه تلویزوني مرکه کې له یو ګردي میز نه وویل چې مونږ ځکه مدرسه په نښه کړه چې همدغه فارغان شوي حافظان او فاضلان په اینده کې ترهګریزې حملې کوي او ادعاء یې وکړه چې په مدارسو کې ترهګر روزل کېږي، او دا یې هم وویل چې زموږ ستونزه له مدرسو نه راپېښه شوې، نو زه په دې فکر یم چې په داسې خبرو کولو سره دا په ډاګه له اسلام سره دوښمني اعلانول دي.

اوس پوښتنه دا ده چې آیا رښتیا په مدارسو کې ترهګر روزل کېږي؟

دا ادعاء یې بې له شکه دروغ ده، ورته ادعاګانې چې څوک کوي ترې جوتېږي چې له اسلام او له اسلامي تاریخ نه ناخبره مسلمان دي دا خبره لکه د لمر په شان روښانه ده چې کله هم له اسلام څخه د دفاع لپاره قرباني ته اړتیا پېښه شوې همدغو د دیني مدارسو طالبانو ترې دفاع کړې او قرباني ته یې را دانګلي دي، دلته به یې مشت نمونه خروار څو بېلګې ذکر کړو خدای دې وکړي

چې تنده مو پرې ماته شي، د محمد ﷺ په حيات کې په مدينه منوره کې يو ځای وه چې اصحاب صفه په نوم يادېده، په دې ځای کې ډېر صحابه مېشت ول چې له رسول ﷺ څخه به يې قرآن او احاديث يادول او چې کله به رسول ﷺ چېرته جهاد ته د تللو حکم وکړو نو لومړی به همدوی تيار ول، همداسې د يوه صحابي په کور کې به صحابه وو د دين زده کړې کولې چې دا کور د دار ارقم په نوم يادېدو او همدغه صحابه به وخت په وخت له محمد ﷺ سره غزواتو ته تلل.

لږ به نږدې راشو کله چې انګريزانو هندوستان او خراسان ونيو همدغه طالبان وه چې له انګريزانو سره وجنګېدل چې په اوس وخت کې د مشهورې مدرسې يوبند طالبان وه او د هندوستان لويو شيوخو يې بنسټ ايښی وه هغوی چې د انګريزانو غرور يې له خاورو سره خاورې کړو.

همداسې رابه شو خپل هيواد ته چې د انګريزانو او روسانو مقابل کې هم همدغو د ديني مدارسو طالبان وجنګېدل، له هغه وروسته چې کله جهادي رهبران د چوکيو او واک په سر سره اختلاف وکړو آن دا اختلاف دې نتيجې ته ورسېده چې خپلو کې سره وجنګېدل، ځای ځای يې پاټکونه جوړکړل، لنډه دا چې د عام اولس په مال، اولاد، عزت، په هيڅ يې هم سرپه ونه کړه، نو همدغه د ديني مدارسو طالبان وه چې افغانانو ته يې د الله تعالی په مرسته له شر فساد څخه نجات ور کر د دوی مشري ثالث عمر اتل بوت شکن امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) کوله چې د الله تعالی په مرسته يې ډېر لږ وخت کې اسلامي نظام راووست، همداسې اوس د يرغلګرو صلبيانو او دوی لاسپوڅو سره هم د ديني مدارسو طالبان جنګېږي چې مشري علماء او شيوخ کوي، له ديني مدارسو يوازې کفار وېره محسوسوي، کوم خلک چې له مدرسو ويره لري، دوی دې په خپل ايمان وډار شي که رښتيا هم ځانونه مسلمان بولي، الله تعالی ته دې توبه وباسي او بيا دې له ورته خبرو په کلکه ډډه وکړي، داسې خبرې د افغانانو له برداشته بهر دي ځکه افغانان پوهېږي چې د اسلام ا صلي ساتونکي همدا د ديني مدارسو طلباء او علماء دي.

لاسپوڅي اداري ته وايم چې ستاسو بادارانو سره له دومره ټکنالوژيو د مدارسو او طالبانو په ختمولو کې بې ساري کوششونه وکړل خو د کاميابی پړاو ته ونه رسېدل، که تاسې د هغوی په پله قدم کېږدئ له سخت ذلت او رسوايی سره به مخ شي.

د کندوز وحشي بمبار
او د افغان حکومت شرمنده دريځ

ليکوال : بدرځلاند

افغان ظالم وحشي او د غربيانو ګوډاګي حکومت په دشت ارچي کې په يوه ديني مدرسه په داسې حال کې بمبار وکړو چې په ياده مدرسه کې د مسلمانانو د عظيم کتاب قران مجيد مبارکو او معصومو حافظانو د حفظ القران د فراغت مراسم روان وو،

ياد وحشي بريد د ټولې اسلامي نړۍ مسلمانانو ،عوامو، او اسلامي ډلو، له لوري په پراخه کچه وغندل شو،

خو دلته په افغانستان کې افغان حکومت چې ځان د افغانانو واکداران هم بولي، نه دا چې دا بريد يې و غانده يا يې معافي وغوښته بلکې په ډيره بې شرمي او سپين سترګي يې د ياد وحشي بريد ملاتړ وکړو او هغه وژل شوي ماشومان او نازک حافظان يې دهشتګر او د طالبانو مشران ياد کړل،

ټولې دونيا وليدل چې وژل شوي کسان اکثره هغه واړه او معصوم ماشومان وو چې عمرونه يې تر شپږو کالو هم کم وو،

حکومت په ډيره بې شرمۍ يوه جعلي ويډيو خپره کړه چې ګواکې دې جلسې ته د وسلوالو مشران راغلي وو،

که ياده ويډيو د عقل خاوندان په دقيق نظر وګوري نو له لمر نه هم روښانه خبره ده چې ياده ويډيو قطعا په قندوز کې شوې نه ده،

ځکه چې په ويډيو کې ښکاري چې پاخه ديوالونه او پخې کوڅې دي حال دا چې د قندوز جلسه په پټيو کې دايره شوې وه، نه پخې کوڅې هلته موجودې وې، او نه پاخه ديوالونه،

بله داچي ياده ويډيو کې څو مختلف کليپونه يو ځای شوي،

بله دا چې په ويډيو کې ليدل کيږي چې په څه بانډې اته بجې ځينې مشران د جلسې له صحنې وځي او داسې موټرو ته خيژي چې په شيشه يې د پاکستان بيرغ لړيدلی ده حال دا چې نه په ياده سيمه کې کوم داسې موټر شته او نه دومره وختي ياده جلسه شروع شوې وه چې کوم وخت کې په ويډيو کې خلک له جلسې واپس وځي،

بله غلطي يې دا ده چې د جلسې په سيمه کې له بمبار مخکې هيڅ طيارې وجود نه درلود، نو دا ويډيو يې څه وخت وکړه،

بله دا چې افغان دولت کله د کشف طیارې لري چې دوی د سیمې عکاسي پرې وکړي دوی خو صرف څو هندي هلیکوپټر او څو کمزوري امریکایي طیارې لري نو دا ویډیو یې په څه شي وکړه،

افغان وحشي غلام حکومت اوس د دې جعلي ویډیو په استناد ځان ته برائت ورکوي،

که بیا هم ویډیو جعلي نه وي نو هغه مشران چې په اتو بجو له جلسې څخه ووتل ولې دوی هغه تعقیب نکړل او هغه موټر یې ولې په لاره کې و نه ویشتل،

ولې یې د مشرانو له وتلو وروسته څلور ساعته بعد جلسه بمبار کړه حال داچې دوی په ویډیو کې ښیي چې مشران اته بجې د جلسې له صحنې ووتل او صرف عوام پاتې شول،

خو اصل خبره بل ځای ده هغه دا چې د افغان حکومت مشران ټول هغه خلک دي چې ټول د دیموکراسي او کمونیزم په وخت کې له پردیو نطفو پیداشوي، په غرب کې روزل شوي،

او اوس د امریکا له راتګ سره د اسلام او مسلمانو د مقابلې لپاره په کرایه راوستل شوي،

د دوی عقیده کفري، عادت یې کفري ،او مقصد یې کفارو ته د مسلمانانو خلاف خدمت تر سره کول دي،

دا له غلطې نطفې څخه پیدا شوي نه افغانیت پیژني، نه اسلامیت پیژني، او نه اسلامي عاطفه او ترحم لري،

ځکه مونږ ولیدل چې دې غربي غلامانو د غرب په هره غمیزه اوښکې توی کړي دي او د یو کافر ډم چې په کنسرت کې ګډېږی او ووژل شي دوی یې دلته په غمیزه کې په میاشتو شمعې بلوي،

خو د خپل ملت په سلګونو بی ګناه معصومو ماشومو شهیدانو په وژلو افتخار کوي،

خو افغانان اوس کرار کرار د دې منافقانو په غلامي پوهیږي، او په دې یې اوس سر خلاص ده چې دا بلواکه ګوډاګیان دلته د افغانانو د خدمت لپاره نه بلکې د امریکا او غرب اجیران او مزدوران دي چې دلته د نړیوالو یرغلګرو کفارو وحشي ستراتیژي په خپل مظلوم ملت تطبیق کول غواړي،

دوی ته د افغانانو د امنیت په ځای د لندن او نیویارک ښارونو امنیت لومړیتوب لري، دوی غواړي چې د نیویارک د یهودو د قتل په جرم خپل مظلوم ملت ووژني،

افغانان که له دې وحشي۔ او غربي ایجنټانو ځانونه ژغورل غواړي باید چې نور خاموش پاتې نشي،

او باید د یو ملي پاڅون په توسط دغو اجیرو بلواکو ته د خپلو عملونو سزا ورکړي او د کمونست نجیب په شان یې په دار وځړوي،

کنه خدای مکړه همدا حال به مو په هیواد کې روان وي او مونږ به صرف خپل شهیدان ژاړو او دا خائنان به مو یو په بل پسې بی دریغه دیهودو د ستراتیژی۔ د عملي کیدو لپاره وژني.

ديوې کندوزۍ خور دخولې خبره!

مونږ يتيمان يو، دمور دمړينې مو ۱۱ مياشتې کيږي، خو خير زيږ د ژمي يخ مازيګروو، لمرسترګه په ډوبيدو وه چې وړوکې ورور مې له مدرسې راغی، غيږ کې مې کلک کړو، دبخارۍ ترڅنګ مې کيناوه، چاي يې اوخوړ، خو د ورور چهره مې خفه ښکاريده،

ځان ته مې رانيږدې کړ، ورته مې وويل:

محمده !

چا خو به خفه کړې نه وی ؟

ولی داسې غمجن ښکاری؟

محمد وويل:

څو مياشتې وروسته مې دستاربندي ده، مونږ هيڅ نلرو، دا به څنګه کيږي؟

ما ورته وويل: زه چې ژوندۍ وم هرڅه به وشي، په داسې ګلانو، غاړکيو اوزرورکو به دې بدرګه کړم چې خلک به حيران شي،

له خندا شين شو، خوشاله شو او په غيږ کې يې ځان را واچولو،

خو وخت تيريدو، ما ته به چې ماما،کاکا يا نورو خپلوانو پيسې راکولی، ما به جمعه کولی، د ورور دجلسې څخه دوه ورځې وړاندې مې چې پيسې وليدی ۷۵۰ روپۍ مې ټولی کړی وی، چې ۲۵۰ مې دورور جيب ته ورکړی، هغه سخت خوشاله شو او ۵۰۰ مې غاړکۍ، زرورک او دځان لپاره حنا (نکريزې) را اوغوښتې،

دخاله

لورګانې، ماما لورګانې او نور خپل خپلوان سم ډير راغلي وه، بس ما به فکر کاوه چې زما د ورور واده ده، شپه شوه لاسونه مو ټولو په نکريزو ګلان کړل او شپه مو زياته برخه په ويښته تيره کړه، سهار شو کله چې د محمد مدرسې په لور تللو سترګې مې ورته تورې کړی، سپين کالي، توروااسکټ اوتور بوټان يې واچول، دکلي ملاصاحب اونورکليوال دخپل خپلوانو سره روان شول، هو ريښتيا چې دروازه کې وتلو نويو غږ يې راته وکړ، خورې ورور دې څنګه ښکاري؟

ما ور منډه کړه چې زما به ورور وي او هغه به ښکلی نه وي؟؟

مور مې سترګو ته شوه چې کاش هغې هم دا خوشالي ليدلی واي، دهغې همدا ارمان وو چې زوي مې دخدای دکتاب حافظ شي ، خو زه نه پوهيدم چې زما دښکلي خواږه اوګلالي ورور به دا وروستۍ خبرې او په غيږ کې نيول وي!!!

که پوهيدم ما به هيڅ له غيږې لرې کړی نه وه!!! نوره يې موبايل بند کړو سلګيو واخيسته قصه يې ترهمدې ځايه په ژړغوني غږ وکړه.

بکدامین گناه قندوزم خونین شد؟

■ نویسنده: ابوصهیب حقانی

می خواستم از حوادث تلخ فلسطین در این چند روز بنویسم، ناگهان دیدم حوادث تلخی در کشمیر رخ داده است، می خواستم در مظلومیت برادران و خواهران کشمیری ام بنویسم، ناگه دیدم سوریه غرق خون است، خواستم از سوریه بگویم که ناله عراق بلند شد، تا خواستم از عراق بگویم جگرگوشه های افغان، حافظان قرآن، عالمان دین، و بلبلان باغ محمدی در بوستان مدرسه ای در قندوز سرزمینم پرپر شدند؛ گفتم خدایا اینهمه غم، اینهمه ماتم، اینهمه اشک، اینهمه خون، اینهمه مظلومیت از کجا بنویسم که دردی نباشد، از کدامین چشم بگویم که اشکی از آن جاری نباشد، از کدام قلب بگویم که کباب نشده باشد، از کدام ناله بگویم که بلند نشده باشد؟

بکدامین گناه مدرسه ام را بمباران کردید؟

در مدرسه استادم از دین می گفت فریادش از دین بود از قرآن و پیامبر محبوبم محمد صلی الله علیه و سلم سخن می راند یعنی اینقدر این کلمات بر تو دشمن خونخوار دشوار آمد که از آسمان خدا بر بلبلان باغ محمدی به جای گل، بمب و آتش نثار کردی؟

ای خانه خراب، این دیار مسلمانان است، این مسجد و مدرسه است این اطفال بیگناه اند بکدامین گناه شهید شدند و در خاک و خون غلتیدند؟

این حادثه تلخ دشت ارچی قندوز که امروز خبر ناگوارش در خروجی رسانه ها قرار گرفت و رسانه های زرخرید با وقاحت و شرمساری تمام، سلاخی بیگناهان و تلفات بی شمار ملکی (بیش از ۱۵۰ شهید و زخمی) را به تلفات مجاهدان تعبیر کردند و خسارات جباران ناپذیر و غیرقابل بخشش جنایتکاران جنگی را توجیه می کنند نه در سوریه و فلسطین، و نه در عراق و کشمیر که در خاک افغانستان در ولایت قندوز رخ داده است.

امروز در قندوز قیامت به پا شد، خون بود که فواره می کرد، کلمه شهادت بر زبان نوجوانی جاری بود که در کنار لالایش که تازه دستار بندی کرده بود خوابیده بود؛ گلهای که به نشانه عزت علماء و قاریان به گردن شان انداخته بودند به خون آغشته شده؛ و فرش و محراب و منبر با تیکه های گوشت و استخوان علماء، حافظان قرآن و مخلصان دین و ملت دین دوست در هم آمیخته بود؛ صحنه های دلخراشی که از توصیف شان عاجزیم و

بدون تردید مشکل است توصیف خونی که از جوان طالب العلم برآمده و از دهان شیخ قرآن و حدیث فواره می زد.

انا لله و انا الیه راجعون

این غوطه شرقی سوریه، غزه فلسطین، کشمیر اشغالی، برمای مظلوم و دیگر سرزمین های مصیبت زده مسلمانان نبود بلکه این قندوز افغانستان بود که امروز در غم عزیزترین فرزندانش کباب شد، مادری که عمری انتظار بچه مولوی خود را می کشید بر جنازه اش ایستاده، پدری که فرزند دلبندش را در لباس عالم دین، دوست داشت ببیند اکنون جگرگوشه اش را در کالاهای سرخین آغشته به خون دیده و در داغ فرزند بسان اخگری در خود پیچیده و می سوزد و مثل ابر بهاران می گرید.

باز می گویند طالبان چرا با عساکر مزدور می جنگند؟ باز میگویند طالبان چرا در برابر اجیران امریکا مبارزه می کنند، باز میگویند طالبان چرا عساکر را می کشند، وقتی عساکر اجیر به فرمان اربابان خود اینگونه یک دنیا انسان های شریف و عزیز را به خاک و خون می کشند، وقتی محفل دینی را اینگونه به عزا تبدیل کرده و وقتی بالای اطفال و محاسن سفیدان که به عشق دین پروانه وار گرد علمای دین خود جمع آمده بودند را تحمل نکرده و اینگونه قتل عام می کنند طالب نه شما بگویید با چنین غلامان چه رویه باید اختیار شود و آیا این عمل آنها دشمنی مستقیم با مسجد و مدرسه نیست؟

ای ننگ بر مدعیان حقوق بشر کجایند که در دفاع از بشریت مظلوم در قندوز که تیکه و پاره شده چیزی بر زبان نمی آورند؟

ای ننگ بر رسانه های مدعی پیام رسانی آزاد، کجایند که در رسالت خویش در امر پیامرسانی خونهای علماء، حفاظ، جوانان، نوجوانان و اطفال بیگناه امروز قندوز کوتاهی نموده و به جای نشر و انعکاس حقایق در چشم ملت خاک می پاشند و جنایات تکان دهنده دشمنان اجیر را به جای نقد و انتقاد، توجیه و تاویل می کنند؟؟؟

به خدا شکایت می بریم که شنونده ترین و دادرس ترین ذات است و یقین داریم خون بیگناهان امروز قندوزیان بی جواب نمی ماند و به طوفانی از حملات کوبنده تر بر پیکر فرسوده دشمنان توسط قهرمانان عصر- تبدیل خواهد شد و از رگ اربابان کافر و نوکران ظالم شان خون خواهند کشید. ان شاء الله تعالی

و ما ذلک علی الله بعزیز

خبیراحمدم

دمفکر! رژیم ولې دمنظور پښتون حمایه کوي !؟

دپاکستان دقبائیلي سیمي جنوبي وزیرستان دمسودوپه قبیله کې دراټوکیدلي ځلمي خوځښت چې مشري یې ځوان (منظور پښتین) کوي او موخه یې دخپلوځوریدلواوکړیدلوپرګنو دحقوقو ترلاسه کول دي په دې ورستیوکې یې په پاکستان کې دیولړ غونډواواحتجاجونوپه ترسره کولوسره ښه زوراوجوش موندلای

ددغه حرکت ناره اوفریاد دادی چې دتیرولسوکلونوپه اوږدوکې په پښتون میشتوسیموپه خاص ډول په جنوبي اوشمالي وزیرستان کې چې دپاکستان دپوځ اوامنیتي کړیودعملیاتوپه ترځ کې کوم خلک نیول شوي اویاتراوسه تري تم دي هغه دې پیدااوژرترژره دې خلاص کړل شي

دغه رازدي منظوروایي چې په سینداوکراچي کې دي دبې ګناه پښتنووژونکواوقاتلینوته درنه سزاورکړل شي، په جنوبی اوشمالي وزیرستان اونوروسیموکې دي بې ځایه چکپوستونه اوپاټکونه ختم کړل شي اوهم دي په شمالي اوجنوبي وزیرستان کې دامنیت ، ترقی ، تعلیم اوبیارغوني په اړه دپاکستان چارواکي دهغوئ غوښتني اواړتیاوي درک اوورحل کړي .

ترکومه ځایه چې دمنظورپښتین دحرکت خبره اوپورته ذکرشوي غوښتني ، پوښتني اوفریاددي له شک پرته چې ترډیره حده هغه معقولي اوداوریدودي اومناسبه ده چې دپاکستان حکام دخپلووګړودغه جائزفریادونه اوکوکاري واوري اوپه زخمونوېې ملهمونه کیږدي .

خودحیرت اوتعجب ځای دادی چې دمنظور پښتون داوچت شوي غږ دبدرګې په میدان کې له بل هرچا څخه زیات دکابل رژیم اوهغه خلک چې دنوموړي رژیم په دسترخوان خري زیات ګرم اوپه اټنوکې یې ځنې غورځوي .

کابل رژیم دغه میدان دومره تود اوبرګ ساتلی چې له ولسمشرڅخه یې نیولي تر اجرائیه مشر اودسناله رئیس څخه بیا دپارلمان تروکیلانو، وزیرانواونورولوړپوړو اوټیټ پوړوچارواکوپوري له یوې مخي دمنظورپښتین دداعي غم اخیستي غونډې جوړوي ، شعارونه ورکوي اوله هغه سره دملاتړښودلو په توګه یې دمنظور دسري (خولی) بازار سخت تودکړی اوپه اصطلاح دکابل اداري هرګبروترساپه سرکړي وي !!

که بل هرڅوک دمنظورپښتون دداعیي تائیداوملاتړ کوي اویایې خولی په سرکوي هیڅ عیب اوشرم ندی ؛ خوچې دکابل رژیم اویایې امریکایي راشن خواره دغه کار کوي داپه حقیقت کې دوئ په خپل ځان لعنت وایي اوله ځانو څخه جامي باسي .

که پاکستان په خپل هیوادکې پښتان ځورولي ، وژلي اویاتري تم کړي دي له شک پرته چې ظلم اوزیاتی یې کړی ؛ خوایادکابل حلقه بګوش رژیم له پاکستان څخه سل چنده زیات دغه ظلمونه اووحشتونه دخپل ولس اوپه خاص ډول پښتونوپه مقابل کې ندي کړي اویایې همدااوس نه ترسره کوي ؟

پاکستان که هرڅه کړي اویایې کوي نودخپل پوځ له لوري یې ترسره کوي دکابل رژیمه له تاسره خو څنګ په څنګ امریکایی وحشي دافغانانوکورونوته ورننوځي

، چاپي اچوي ، هرډول وحشت اوبربريت خپروي ، دتورسرو اوسپين سروبې عفتي کوي په توره شپه کې يې دکورنارينه ولچک کوي توري خولي ورپه سرکوي اودبگرام زندان ته يې رسوي

نواياستاجبراووحشت دخپل ولس په وړاندې له پاکستاني پوځ اوعسکروځخه سوونه ځله زيات اوشرمناک ندی؟

له تيرو۱۷ کلونوراهيسی په حساب دوه ميلونه درانه افغانان تاسې ذليلواوبې ضميره څيرو دامريکايانوپه قومنده اوياهغوئ ته دجاسوسی په خاطر په بگرام ، څرخي پله ، دملي وحشت په پټواوښکاره جيلونواوتعذيبخانوکي شکنجه کړي اوبيامو دزرگونو ډالرورشوت په بدل کې خوشي کړي دي .

امريکايانوخپله مور(بم) دلته په افغانانوپه کارولە ، نيمه اتومي بمونه يې پرې وغورځول ، دفاسفورس زهريله وسلي يې پرې استعمال کړي ، ودونه ، جنازې ، مدرسي ، مکتبونه ، روغتونونه اوجوماتونه يې بمباردمان کړل په حساب درى لکه مظلوم افغانان يې يواځي په بمباريو، چاپواوډرون بريدونوکې په شهادت ورسول

ايابياهم تاسې لعنتي څيري دپښتنو دحقوقو اوسرومال دخونديتوب ناره اوچتوي اياتاسې چې کوم وحشي چلند له خپل ولس اوپه خاص ډول پښتنوسره کړی اوياېې کوی ساری اوبيلگي يې څوک په ټوله نړۍ کې ښودلی شي ؟

که نوري ټولي پيښي پريږدو اوهيري يې کړو دوه اونی وړاندې چې دکندوز ولايت دارچې ولسوالی په ديني مدرسه کې کوم استبدادتاسې امريکايي جاسوسانوترسره کړ اودحافظانو ددستار بندی په محفل موکوم بمونه واچول او۲۰۰ تنه موپه شهادت ورسول اياهغوئ افغانان اوپښتان نه وواوايادغه ستره ديني اوتاريخي دښمنی به افغانان هيره کړای شي ؟

دتعجب ځای دادی چې دکندوز دسوونوپاکو حافظانو دقاتلينو اوعاملينو دموندلواوپيداکولوپه برخه کې هيڅوک غږنه اوچتوي خومنظورپښتون چې دخپلوخلکودمظلوميت غږ پورته کوي دکابل امريکايي اردليان هغه ورسره بدرگه کوي

همدااوس برابر۴۰زره مظلوم افغانان دامريکايانواوکابل رژيم په جهنمي جيلخانوکې پراته اودرني شکنجي گالي دهغوئ دخلاصون خبره ولې څوک په ژبه نه اخلي ايادوئ انسانان اوافغانان ندي ؟

ښکاره خبره ده چې دکابل رژيم اوياېې حاميان دمنظورپښتون فريادصرف په پاکستان کې تائيدوي اوسره خولی ورسره تنها له پولي اخوا ديولړاغراضوپه خاطرپه تندي ږدي اودلته په خپله خاوره کې چې دهماغه وحشتونوشپه ورځ ارتکاب کيږي هيڅ مدني فعالان اوپرلتيان تياراوچمتوندي چې دمنظوري چيغي اوفريادپه څيردلته هم اوازپورته کړي

نومنظورپښتين دي په دې خبره پوه شي چې دکابل دغه همدردي له ده سره هيڅکله مخلصانه اودزړه له تله نده بلکي شاته يې نور هغه اغراض دي چې مستقيمادافغانستان دښمنانانوورته ديوې پروژې په شکل په لاس ورکړي

زه داخبره په صراحت کوم چې کومه ورځ منظورپښتون دا ناره اوچته کړه چې (زه په افغانستان کې هم دپښتنودحقوقو داعادي غوښتونکی يم اودټولوهغوپښتنوچې امريکايانواويادکابل رژيم شکنجه کړي اوياېې کوي په کلکه غندم اودخلاصون مطالبه يې کوم) په هماغه ورځ به تاسې ته معلومه شي چې څوک بيادمنظورپښتون ددعوي اوحرکت ملاتړ اوپيروي کوي

داپه يادوساتې چې په همدغه ورځ به دکابل امريکايي اردليان سري خوليانوپه څمکه ولي پرې څيري به اوواېي به چې منظورپښتون نور پښتون نه بلکي پنجابی اوداى ايس اى په چنگال اوداثري کې راغلی ده ؛ نوبيابه نه دلروبرناري وي اونه به دنرپښتون منظورپښتون دغه اوسني مست شعارونه !!

د کندز غمیزې د سولې وړاندیز نور هم برېنډ کړ!

لیکوال: محمد ولید

د شنبې په ورځ اشرف غني د پکتیا ولایت په تندر قول اردو کې د ملي اردو پوځیانو ته د خبرو پر مهال د سولې وړاندیز باندې یو ځل بیا ټینګار وکړ، نوموړي وویل: لدې وروسته طالبانو ته د جګړې هیڅ پلمه نه ده پاتې شوې، که بیا هم څوک جګړه کوي نو د الله مخالفت کوي او د افغان ولس مخالفت کوي.

که څه هم د اشرف غني وړاندیز په اړه وسلوالو طالبانو په خپل پخواني دریځ یو ځل بیا ټینګار وکړ او د بهرنیانو په شتون کې یې سوله مستحیله وګڼله، او د اشرف غني نمایشي وړاندیز یې یوه دسیسه وګڼله، مګر ځینې تش په نوم مدني فعالانو او د ګډ حکومت پلویانو بیا طالبان پدې ملامت کړل چې ولې سولې ته اولیت نه ورکوي، او ولې له جګړې څخه لاس نه اخلي، چې په دې موخه یې هلمند کې سمبولیک د سولې پرلت هم وواهه، ترڅو چې طالبان سولې ته غاړه کېږدي.

د اشرف غني د سولې جعلي او سمبولیک وړاندیز او د مدني فعالانو دروغجنه دعوه ډېر ژر ثابت شول، پرون ورځ په کندز ولایت دشت ارچي ولسوالۍ کې په یوه دیني مدرسه باندې چې د فراغت غونډې مراسم روان و امریکائي او د ګډ حکومت چورلکو بې رحمه بمباري وکړه، د تنکیو ماشومانو په شمول یې سلګونو کسانو ته درنه مرګ ژوبله واړوله، چې اکثریت یې ولسي وګړي وو او مدرسې ته د خپلو بچیانو د دستاربندۍ مراسمو ته ناست وو.

متأسفانه چې پلورل شویو رسنیو او خبریالانو د کندز زړه بوږنوونکي غمیزې ته طالبانو د نظامي قوماندانانو په نوم پوښښ ورکړ، ترڅو چې ولس د ګډ حکومت پر وړاندې مخالف دریځ ونه نیسي نو خیالي لیست یې هم خپور کړ چې د طالبانو لوړپوړي قوماندانان او نور چارواکي یې پکې شامل کړل، په داسې حال کې چې په دغه غونډه کې د طالبانو هیڅ کوم لوړ رتبه چارواکي ګډون نه درلود، او نه دا غونډه په طالبانو پورې محدوده وه، بلکې د یوې دیني مدرسې د حافظانو د فراغت غونډه وه.

د کندز پرونۍ غمیزې د اشرف غني پر وړاندیز باندې د بطلان کرښه راکښکړه، د نوموړي د سولې مرموز وړاندیز یې نور هم برېنډ کړ، هغه دسیسه چې یو شمېر افغانان ورباندې غولېدلي ول یو ځل بیا رسوا شوه، د ګډ حکومت دروغجنه دعوه چې سولې ته ژمن دی او د سولې لپاره هلې ځلې کوي یو ځل بیا د لمر په څېر روښانه شول، د بهرنیانو په شتون کې د سولې ډرامه هم برېنډه شوه، هر هغه څوک چې د سولې نغاره یې ډنګوله هم پدې پوه شول چې د سولې او جګړې کیلي رښتیا هم د بهرنیانو په جیب کې ده، ترڅو چې بهرنیان شتون لري نو سوله مستحیله ده، یو خیال دی او یو خوب دی.

په هوايي بمباريو کې د ملکي خلکو درانه تلفات

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تېره اوونۍ (۱۳۹۷ حمل ۱۲مه) د کندوز ولايت د دشت ارچي ولسوالۍ اړوند دفتانو سيمه کې افغان هوايي ځواکونو په يوه ديني مدرسه کې پر جوړه شوي غونډه بريد وکړ او ګڼو کسانو ته يې مرګ‌ژوبله واړوله.

نيويارک ټايمز د دشت ارچي د ولسوال نصرالدين سعدي له قوله ليکلي، چې دغه بريد د افغان هوايي ځواکونو له لوري د دستاربندۍ په مراسمو شوی. د سرچينې په حواله، شاوخوا ۱۰۰۰ تنه دلته راټول شوي وو او د بريد په پايله کې ۷۰ تنه وژل شوي او ۳۰ نور ټپيان دي.

په بل اړخ کې د افغانستان د دفاع وزارت بيا وايي، چې دغه بريد د کورنيو او بهرنيو وسله‌والو پر يوه ستره غونډه شوی او په پايله کې يې ۲۰ تنه وسله‌وال طالبان وژل شوي او همدومره نور ټپيان دي.ولسمشرۍ ماڼۍ هم په يوه اعلاميه کې دغه بريد د طالبانو پر هغه غونډه بللی، چې غوښتل يې په افغانستان کې د لويو بريدونو د کولو پلان جوړ کړي. خو د اعلامېې پر بنسټ، دا چې ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې اوښتلو راپورنه خپاره شوي، ولسمشر غني يې په اړه د پلټنو په موخه يو پلاوی ټاکلی او تر څېړنو وروسته به يې پايلې له خلکو سره شريکې کړي.

دغه بريد د پخواني ولسمشر- حامد کرزي، ځينو نورو افغان سياسيونو، د ولسي جرګې غړو او په پراخه کچه په ټولنيزو رسنيو کې د عامو خلکو له لوري سخت غندل شوی او له حکومته يې غوښتي، چې د دغې پېښې پلټنه وکړي او عاملينو ته يې سزا ورکړي.

دا چې هوايي بريدونه ولې زيات شوي، په دغو بريدونو کې ولسي خلکو ته ولې پراخه مرګ‌ژوبله اوړي او د دا ډول بريدونو دوام به کومې احتمالي پايلې او اغېزې ولري؟ هغه پوښتنې دي چې دلته مو ځواب کړې دي.

هوايي بريدونه

د افغانستان او سوېلي آسيا لپاره د ۲۰۱۷م کال په اګسټ کې د امريکا د ولسمشر- دونالډ ټرمپ د نوې پوځي تګلارې له اعلان سره سم، په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو تر "مشورې او روزنې" را محدود شوی رول د جګړې په ډګر کې زيات شو او په ځانګړې توګه خپل هوايي بريدونه يې د پخوا په پرتله زيات کړل.

که څه هم د امريکا په نوې پوځي تګلاره کې د امريکايي پوځيانو زياتېدلو او پر طالبانو د فشار راوړلو د افغان حکومت روحيه لوړه کړه؛ خو په افغانستان کې يې د سولې د ټينګښت پر وړاندې خنډونه نور هم زيات کړل؛ څکه داسې انګېرنې شته دي چې د همدې تګلارې او پر طالبانو د نظامي فشار زياتوالی د طالبانو ليکې او جګړې ته لېوالتيا پياوړې کوي.

د امريکا په نوې تګلاره کې دا هغه ټکی و، چې په تېرو کلونو کې امريکا په افغانستان کې تر ۱۰۰ زره زياتو سرتېرو سره طالبان پرې مات نه کړای شول، بلکې په افغانستان کې يې جګړه نوره هم ګرمه کړه. په تېر کال کې هم د بهرنيو ځواکونو هوايي بريدونه زيات شول او له کبله يې ملکي خلکو ته د اوښتې مرګ‌ژوبلې کچه هم لوړه شوه. د امريکا د هوايي ځواک د معلوماتو له مخې، امريکايي ځواکونو په افغانستان کې په تېر ۲۰۱۷م کال کې ۲۶۱۱ هوايي بريدونه کړي دي، چې دا شمېره په ۲۰۱۶م کال کې ۱۰۷۱ او په ۲۰۱۵م کال کې ۲۳۶ وه. د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ په ۲۰۱۷م کال کې ۳۴۳۸ ملکي افغانان وژل شوي او ۷۰۱۵ تنه نور ټپيان شوي، چې د هوايي بريدونو له کبله د اوښتې مرګ ژوبلې کچه څرګنده پکې زياته شوې ده.

په تېرو څو کلونو کې دېرۍ مهال د امريکايي ځواکونو له لوري په هوايي بريدونو کې د ملکي وګړو يا عامو خلکو د

کورونو سربېره، روغتونونه، جوماتونه او ان د افغان نظامیانو پوستې هم بمبار شوې دي. په بل اړخ په دې وروستیو کې افغان هوایي ځواکونه هم ورته هوایي بریدونه کوي او د ۲۰۱۸م کال له پیل راهیسې یې په څو پېښو کې ګڼ ولسي- وګړي وژل شوي دي.

د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله

په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې تل د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې معمولا ملکي خلک وژل شوي، چې پر عامو خلکو سربېره د بشري حقونو داخلي او نړیوالو ادارو، د ملي شورا غړو او سیاسي احزابو یې په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې دي؛ خو پوښتنه دا ده، چې ولې په دغو بریدونو کې د ملکي خلکو ژوند ته پام نه کېږي؟

په دې برخه کې لاندې ټکي د پام وړ دي:

لومړی؛ د جګړې اصولو ته نه پاملرنه :په جګړو کې د ملکي خلکو ژوند ته د پاملرنې او د بشري حقونو د خوندیتوب لپاره نړیوال اصول شته دي، چې له مخې یې باید د غیرپوځي وګړو یا هغه ځوک چې د جګړې په هیڅ لوري کې نه راځي، ټپیانو او ناروغانو، جنګي اسیرانو، خیریه بنسټونو، مقدسو ځایونو او داسې نورو خوندیتوب ته پاملرنه وشي؛ خو د نړۍ په ځینو نورو هېوادونو کې د جګړو په څېر، په افغان جګړه کې هم دا اصول نه مراعات کېږي، بلکې په تېره ۱۷ کلنه جګړه کې په پراخه کچه تر پښو لاندې شوي دي.

د بهرنیو ځواکونو له‌خوا څو ځله د جنازې او نورو دیني مراسمو، دیني مدرسو او مقدسو ځایونو او روغتونونو بمبارول، لکه په کندوز کې د بې‌پولې ډاکټرانو پر روغتون خونړی برید؛ د دولت د وسله‌والو مخالفینو له‌خوا په زیارتونو، جوماتونو، تکیه‌خانو، روغتونونو او نورو عامه ځایونو کې بریدونه، د بېلګې په توګه په سردار محمد داوودخان روغتون برید؛ او دغه راز د افغان ځواکونو له‌خوا په فراه او کندوز کې وروستي بریدونه یې د بېلګې په ډول یادولی شو.

دویم؛ د بهرنیو ځواکونو هدفي بمباري :د امریکایي او ناټو ځواکونو ځینو بریدونو ته په کتلو سره داسې انګېرنې شته دي، چې ځینې وختونه قصدا دا ډول هوایي بریدونه کېږي او په څرګنده د ملکي خلکو ژوند ته په لوړه کچه ګواښ پکې موجود وي.

د دا ډول بمباریو بېلګې هم په تېره څه باندې یوه‌نیمه لسیزه کې خورا ډېرې لیدل شوې دي، چې یوازې په تېر ۱۳۹۶هـ ش کال کې د دې ډول بریدونو له ډلې د ننګرهار هسکه مېنه کې پر ملکي خلکو هوایي برید، د کونړ په څوکۍ ولسوالۍ کې هوایي برید، د لوګر ولایت مرکز پل علم اړوند باري سیمه کې برید، د کابل په قره باغ ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو برید او ورته نور بریدونه یادولی شو.

درېیم؛ د افغان هوایي ځواک او کشفي ارګانونو ستونزه :له یوې خوا د افغان هوایي ځواکونو مسلکي وړتیا کمه ده او له کبله یې په بریدونو کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي او له بله پلوه د ناسمو راپورونو پر بنسټ بمباري، چې د استخباراتي او کشفي ارګانونو په کمزورۍ پورې تړاو لري، د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل دی. افغان حکومت اوسمهال د هوایي ځواک پر پیاوړتیا تمرکز لري او له همدې کبله یې په دې وروستیو کې هوایي بریدونه هم زیات شوي دي. له دې پرته شایي دا ډول بریدونه لا هم د بهرنیانو په امر کېږي؛ ځکه په دیني مراسمو کې د څو تنو وسله‌والو کسانو د ګډون له کبله یوه د ګڼې ګوڼې ډکه غونډه بمبارول د توجیه وړ نه دي.

د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پایلې

د افغان حکومت او بهرنیو ځواکونو له لوري په جګړه کې د ملکي وګړو ژوند ته نه پاملرنه لاندې پایلې لرلی شي:

- *د افغان هوایي ځواکونو له‌خوا دا ډول بریدونه په لویه کچه د خلکو او حکومت ترمنځ واټن ډېرولی شي.*
- *د ملکي خلکو مرګ ژوبله د خلکو کرکه پاروي او له کبله یې د دولت د وسله‌والو مخالفینو لیکې پیاوړې کېږي او د جګړې ډګر ګرمېږي.*
- *په دیني مدرسو، جوماتونو او نورو دیني ځایونو او دیني مراسمو بریدونه بیا د خلکو توند غبرګون هم پارولی شي.*
- *دا وضعیت د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو لپاره راټوکېدلې هیلې هم مړاوې کوي او داسې ښکاري، چې دواړه لوري په عامه ځایونو په بریدونو سره د بې‌باورۍ فضا نوره هم پراخوي.*

دمسیلمة الکذاب وارثان ...
او دعظیم الشان قرآن حافظان

جبران مهجور

کندز دافغانستان په شمال ختیځ کې پروت هغه سمسور او زرخیز ولایت دی چې په زیاترو ولسوالیو او سیمو یې طالبان (اسلامي امارت) واکمن دي او د افغانستان یو له مهمو سیاسي، پوځي او اقتصادي ولایاتو څخه دی چې د جغرافیوي موقعیت له مخې دهېواد ستراتېژک ولایت ګڼل کېږي ځکه په جنوب کې د سرک دلارې له بغلان، پروان او پلازمینې کابل سره نښلي، په لویدیځ کې دمزار شریف او ازبکستان هېواد سره او په شمال کې له جکستان هېواد سره نښلي ،په دې توګه کندز د افغانستان دمهمو ولایتونواو اومهمو لارو څخه دی

بل دهیواد په کچه ترټولو مهم زراعتي ولایت دی چې دکرکیلې لپاره ښې پریمانه حاصلخېزه زمکې لري او دیو ملیون څخه زیات نفوس لري چې لوی شمیر یې په کلیوالو سیمو کې میشت دي اوزیاتره خلک یې په زراعت بوخت دي

کندز له هغه مهاله چې امریکا په افغانستان کې خپل ناولی قدم ایښی پرلپسې دمختلفو ازمایښتونو، ناخوالو، نادودو او وحشتونو ښکار دی ترډیرمافیایي کړیو او د فاسد رژیم مفسدو چارواکو دخلکو ورځینی ژوند دګواښونو او ستونزو سره مخ کړی وپه خاصه توګه اربکیانو په نامه بشر- دښمنه پدیدې دخلکو ژوند ډیر ناکرار ګرځولی و بالاخر خلک مجبور شول چې غیره یې طالبانو ته خلاصه کړه او دکندز پراخې سیمې دطالبانو تړواک لاندې شوې

هم دا وجه ده چې دکندز ولس دبهرنیو اشغالګرو په ګډون د داخلي اجیرو چارواکو څخه کرکه او نفرت لري هغه سیمې چې دبهرنیو او ګوډاګي رژیم له واک بهر دي هلته خلک ځانونه نسبتاً ارام او خوندي حسوي ولې هغه سیمې چې مخامخ داشغلګرو ترولکې لاندې دي هلته هردم او هرساعت د امریکایې یرغلګرو لخوا دچا پې اندیښنه وې اودطالبانو په سیمو کې هر سړی خپله ابرو او عزت په امن کې بولي

داسمه ده هغه سیمې چې دطالبانو تر ولکې لاندې دې شاید دژوند ډیرې عصري اسانتیاوې ونلري البته د امنیت له پلوه پکې خلک ډاډه دي حیا او ناموس یې خوندي دی او دا هغه څه دي چې دیو مسلمان افغان لپاره دژوند په بیه اهمیت لري او تري دفاع کوي دطالبانو واک لاندې سیمو کې دخلکو ناموس ابرو او عزت محفوظ دی همدا سبب دی چې خلک طالبان بیا غواړي ، او ورته هرکلی وایي او ورسره ځاني مالي مرستې کوي

هغه سیمې چې دیرغلګرو او دګوډاګي رژیم تړواک لاندې دي

هلته درژیم چارواکي او عسکر په ګڼو بد اخلاقیو بې لاریو او جرمونو کې لاس لري هغوی په مختلفو بهانو خلک ځوروي ، وربانديې ظلمونه کوي حتی دخلکو دناموسونو په بې پته کولو هم بریک نه نیسي. او په دې سربیره دمخدره توکیو په کارو بار کې د دولت لوړرتبه چارواکي شریک دي هغوی ددې لپاره خاص ګروپونه ساتلي څنګه چې کندز یو له هغو سیمو دی چې تري منځنی اسیا (تاجکستان) ته مخدره توکي وړل کېږي او بیا له هغه ځایه اروپا او نورې نړۍ ته رسول کېږي ددې لپاره هرچا ډلې ټپلې جوړې کړې چې شتون یې دعامو خلک ژوند ګواښي او ورته ستونزې جوړوي هر چې دطالبانو ترواک لاندې سیمې دي هغه ددغه ډول عناصرو له شتون څخه پاکې دي په دې وجه خلک طالبان غواړي او ورسره همکار دي

ارچې دکندز یوه ولسوالۍ ده، ددې ولسوالۍ په یوکلي (تفتان) کې هاشمیه په نوم یوه دیني مدرسه ده، دغه مدرسه کې د اسلامي علومو دتدریس سربیره دعظیم الشان قرآن حفظ هم کېږي او هرکال تري په لوی شمیر حافظان او عالمان فارغان کېږي، سږکال په لوی شمیر حافظانو او علماوو ته دفضیلت پګړۍ تړل کېدې او ددې لپاره پراخ مراسم جوړشوي وو کوموته چې دبیلابیلو ولسوالیو او سیمونه په درووند شمیر کې خلک ور غلي وو ،په هم هغه شیبو کې چې دبخاري شریف ختم روان وو امریکایانو دګوډاګیانو په ملتیا دډرون او الوتکو څخه دغه مراسم په نښه کړل چې له امله یې یوسل اویا تنو څخه زیات حافظان او عالمان شهیدان او درې نیم سوه نه ډیر ټپیان شول

څنګه چې په هندوستان، بنګال، او پاکستان کې هر کال په رجب میاشت کې د دستاربندیو مراسم ترسره کېږي اوپه اړه یې غونډې جوړېږي ، افغانستان کې هم په ورته شکل رجب کې دمدرسو لخوا ددستاربندیو مراسم ترسره کېږي او د دیني علومو فاضلانو او دعظیم الشان قرآن حافظانو ته پګړۍ تړل کېږي

دخواله رسنیو لخوا نشرشویو انځورونو کې چې کوم حافظان لیدل کېږي دهغوی له نوراني مخونو دعزت او شرف ځلاګانې پورته کېږي او په سرونو یې سپینې پګړۍ او په غاړو کې یې ګلان زانګي خو افسوس! چې امریکایانو او دهغوی ګوډاګیانو ارمانجنې هیلې ووژلې او هغوی یې پخپلو وینو کې ولمبول او سپینې پګړۍ او سپین کالي یې ورته په وینو سره کړل او دتنو غوښې یې پورته په هوا کې والوزولې او غلامې نړیوالې میډیا دبرید سره سملاسي راپور ورکړ چې : افغان ځواکونو په کندز کې دطالبانو یومهم مرکز او دهغوی یوه غونډه په نښه کړې

کله چې په خواله رسنیو کې دتنکیو شهیدانو انځورونه خپاره شول ولیدل شو چې دتنکیو حافظانو جسدونه ټوټه ټوټه پراته دي او جوته شوه چې نړیواله کفری میډیا حقایق له خلکو پټوي او برعکس یې تعبیروي او دمسلمانانو په تیره دیني مرکزونو باندې دامریکایانو په وحشتونو او ظلمونو پرده اچوي

هر هغه څوک چې ازاد ضمیر ولري پوهېږي چې امریکایان داسلام دښمنان دي د دومره لوی شمیر تنکیو حافظانو ټولوژنه څه معنی لري؟ ښکاره ده دامریکا اسلام دښمني پټه نده امریکا هرهغه څوک دځان دښمن بولي چې دقرآن او مدرسې سره نسبت لري امریکا ته افغانستان کې دغسې دیني مراسم دزغملو ندي ولې دتیرو اوولس کالو راهیسې هغه په دې لګیاده چې څنګه افغانان له دین څخه لري کړي او ددې لپاره یې مختلفې دسیسې و کارولې او کوښښ یې وکړ چې

افغانانو کې داسلام او قرآن مینه کمه کړي خو په مقابل کې هره ورځ چې تیریږي دقرآن او اسلام دپیروانو سلنه لوړیږي او پکې زیاتوالی راځي

امریکا پخپل ټول وس هڅه وکړه چې افغانستان کې ددین سره دخلکو دمینې سلنه ټیټه کړي او په ځای یې مغربي مفکوره ورکړي خو دامریکا کوښښونه یومخ ناکام شول نن ۱۷ کاله وروسته اسلام سره مینه دخلکو په زړونو کې هغسې ځپانده او ځای لري څنگه چې وړاندې وه

هو!

دشک پرته اشرف غني او عبد الله په دې وحشیانه جنایت سره دمسیلمة الکذاب تاریخ تکرار کړ دحضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خلافت کې مسیلمة الکذاب دنبوت دعوه وکړه حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دهغه خلاف جهاد اعلان کړ او په جنگ کې (مسیلمة الکذاب) له دو لس سوه زیات صحابه شهیدان کړل چې په هغو کې ۷۰۰ تنه حافظان وو نن په افغانستان کې په دومره لوی شیمر خلک شهیدان کړای

شول لوی شمیر یې حافظان وو په دې توگه دایو نه بښونکی جنایت او خیانت دی چې دگوډاگی رژیم ترسره کړ او دمسیلمة الکذاب بد تاریخ تکرار کړ

د افغانستان اسلامي امارت لخوا په جاري شوې اعلامیه کې راغلي ددښمن لخوا ددستاربندۍ په مراسمو برید ښیي چې امریکا نور دمخامخ جگړې په ځای غواړي په دغسي بزدلانه جنایتونو دخپلې ماتې غچ له افغان ولس واخلي اسلام امارت دغسي ظلمونه په کلکه غندي او دغچ اخستو په اړه یې خپل هوډ تکراروي چې خامخا به که خدای کول ددي نه بښونکي جرم عاملین دمحماکمې میز ته راولي

افغان ولس باید نور انتظار ونکړي او پورته دي شي دمجاهدینو لیکې دې ډکې کړې همداراز دنړۍ دبشر حقوقو سازمان او نړیواله ټولنه باید نړۍ ته رښتیا ووایي په ورته توگه ددې غمیزې په باب لیکوالان، مبصرین او ژورنالستان دي خپل قلمونه پورته کړي او شوی ظلم دي په کلکه محکوم کړی او د دشهیدانو دکورنیو سره دي دزړه څخه خپله خوا خوږی شریکه کړې او الله تعالی دې شهیدانو ته فردوس جنت ورکړي او دهغوی پاتې کورنیو ته دي د جمیل صبر توفیق ورکړي او دظالمانو له مونگلو دي مسلمانانو ته نجات نصیب کړي

امین

دسولې په اړه څو حقایق

خالد افغان زوی

سوله او امن یوه له هغو اساسي موضوعاتو څخه ده چې نن سبا د افغان اولس د هر مجلس د بحث ټکی بلل کیږي، د کلي، جومات او جرګې له مجلسه نیولې بیا تر رسنیزو بحثونو پورې اکثره خبرې په همدې راڅرخي. زموږ اولس له تیرو څلور لسیزو راهیسې د سر تاسري سولې ارمانجن پاته شوی دی. د موضوع اهمیت ته په پام سره په دې مقاله کې د سولې اړوند ځیني حقائق راسپړو تر څو ددې موضوع په وضاحت کې راسره مرسته وکړي.

لومړی: سوله له شک پرته لکه څنګه چې انساني ضرورت دی له دیني اړخه هم مهتم بالشان امر بلل کیږي. امن د الله تعالی له سترو او اساسي نعمتونو څخه یو نعمت دی. په سورة القریش کې الله تعالی قریشو ته د خپلو سترو نعمتونو د وریادولو په مهال امن هم یو له سترو نعمتونو بللی. الله تعالی فرمایي: فلیعبدوا رب هذا البیت. الذی اطعمهم من جوع و آمنهم من خوف. ژباړه: نو دوی (قریش) دې د دې کور د رب عبادت وکړي هغه چې دوی یې له لوږې نه بچ او خواړه یې ورکړل او له ویرې یې بچ کړل، امنیت یې ورکړ.

له دې څخه معلومه شوه چې سوله او امن له شک پرته د الله تعالی یو ستر نعمت دی. د یوې ټولنې په ژوند کې اساسي حالت سوله او امن دی، جنګ عارضا پیښیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې تاسو د جنګ هیله مه کوئ. لاتتمنوا لقاء العدو... له دې څخه ثابتیږي چې سوله له دیني لیدلوري یو افضل او بهتر عمل دی او مسلمانه ټولنه باید په سوله کې ژوند وکړي.

دوهم: په افغانستان کې د سولې اړوند بل حقیقت دا دی چې افغان اولس سولې ته د اوبو او هوا په شان ضرورت لري. هغه اولس چې څلویښت کاله د جنګ په بټ کې سوځي، بیا بیا یې بمبارونه، ظلمونه، هجرتونه، ګډوډۍ، قتلونه او تکلیفونه لیدلي دي، نور یې د بې امنیتۍ زغملو تاب هم له لاسه ورکړی، هسې خو په دې اولس دالله تعالی خصوصي رحم دی چې له دومره اوږدې ابتلاء سره سره لا هم ژوند کوي. کنه د دومره اوږدو غمونو او مصیبتونو له ګاللو وروسته خو اوس باید چې ټول خلک لیونیان شوي او له ژونده بیزاره شوي وای.

خو په عموم کې که د اولس د زړه غږ ته غوږ کیږدو، ګیله او شکایت یې واورو، دعا او خواست ته یې غوږ ونیسو، نو سمدستي پوهیږو چې زموږ ځوریدلي افغانان سولې ته د یوه تر ټولو مبرم ضرورت په نظر ګوري. د افغان اولس د سولې او امن غوښتلو دغه تنده هغه څوک ښه حس کولای شي چې د اولس په منځ کې ژوند کوي، د بمبارونو، چاپو، او جګړو له امله د ځوریدونکي اولس

ستړیا او اضطراب وینی، نو بیا پوهیږي چې افغان اولس له څومره سخت حالت څخه تیریدونکی دی. الله تعالی ته سوال کوو چې زموږ د مسلمان اولس د دې سختۍ ګاللو اجرونه په قیامت کې ورنصیب کړي.

دریم: د سولې اړوند دریم حقیقت دا دی چې که د پخوانیو جګړو عوامل هر څه وو، وو به، مګر د اوسنۍ هیواد شموله جګړې اصلي علت بهرنی اشغال دی، ځکه زموږ په یاد دي چې له نن څخه اوولس کاله وړاندې د هیواد په پنځه نوي فیصده خاوره کې د اسلامي امارت تر سیوري لاندې داسې امن حاکم و، چې په نړیواله کچه وربانديې مثال ویل کیده. زموږ په یاد دي چې هغه وخت چیا د غلا، غصب، ظلم، قتل او نورو تعرضاتو تصور هم نه شوای کولای، په شپه او ورځ په ښارونو کلیو کې هر چا ازادانه تګ راتګ کولای شوای او هیڅوک په خپل سر یا مال باندې نه ویریدل.

خو کله چې امریکایي اشغالګر د سوله ساتو ځواکونو تر نوم لاندې زموږ هیواد ته راغلل، له هماغې ورځې مو د هیواد او اولس یوه بله بده ورځ پیل شوه. سوله په جنګ واوښته، بې امنیتي، غلا، لوټماري، غصب، رشوت، قسماقسم فسادونه او نورې مختلف النوع فتنې په هیواد کې راپیدا شوې، تر دې چې اوس حتی د پلازمینې کابل په تر ټولو محفوظو سیمو کې پیسه دار خلک په خپلو ځانونو او اولادونو ویریږي، چې څوک یې اختطاف نه کړي. اولس سرتاسري اضطراب او ناامنۍ په مخه کړی، د اقتصادي تشبثاتو او پانګونې لپاره ارام محیط نشته، بې قانوني او ګډوډۍ اوج ته رسیدلې چې دا ټول څه د امریکایي اشغال ارمغان دی.

څلورم: د سولې اړوند بل واقعیت دا دی چې لږ تر لږه د روانې جګړې یو اړخ (اسلامي امارت) سولې ته ژمنیتا لري او د افغان اولس د یوه حیاتي ضرورت په حیث یې پیژني. سولې ته د طالبانو د تعهد یو دلیل دا هم دی چې د خپلې واکمنۍ په مهال یې بشپړه سوله حاکمه کړې وه، اصلا د طالبانو د تحریک قیام د دې لپاره و چې هیوادوال له تنظیمي هرج و مرج او خانه جنګي څخه وژغوري او د ژوند لپاره سوله ایز چاپیریال ورته مهیا کړي.

بله دا چې په اوس وخت کې اسلامي امارت په خپلو رسمي بیاناتو کې همیشه د مؤثرو او منتجو مذاکراتو لپاره اماده ګي ښودلې او ویلي یې دي چې دوی هغو خبرو اترو ته چمتو دي چې په واقعي ډول د جګړې عامل (اشغال) محو کړي او هیواد له پایدارې سولې برخمن کړي. سولې ته د طالبانو په تعهد ځکه شک نشي کیدلای چې اصلا د روانې جګړې اصلي قربانیان او تر ټولو ځوریدلي خیله طالبان او د هغوی اکثریت ملاتړي د افغانستان د اطرافي سیمو اوسیدونکي دي، هغوی چې روزانه د یرغلیزې جګړې بیه پرې کوي، له شهادتونو، تکلیفونو او ورانیو سره سره د خپل کور او کلي پریښودلو ته مجبوریږي، نو په دې اساس د جګړې زیان ښه پیژني او د سولې اهمیت تر بل هر چا ښه ورته نمایان دی.

پنځم: که د جګړې یو اړخ (طالبان) په افغانستان کې سوله یو مهم ضرورت بولي، بالمقابل بل اړخ (امریکایي یرغلګر) بیا نه غواړي چې په دې هیواد کې سوله راشي. امریکایان افغانستان ته د سترو نړیوالو او منطقوي اهدافو د تعقیب لپاره راغلي دي. د دوی ستراتیژي دا ده چې افغانستان همیشه باید په جګړه کې وساتل شي، تر څو دلته له جګړې څخه اغیزمن یو کمزوری او ګوډاګی نظام حاکم وي، داسې نظام چې له سیاسي اعتبار نیولې تر پوځي، لوژیستکي او هر ډول مرستو پورې امریکا ته ضرورت ولري. امریکایان پوهیږي چې دغسې نظام چې د دوی

د مرستو منت بار وي بیــا هیڅکلــه دا جرأت نه شي کولای چې له امریکایانو وپوښتي چې دوی د څه لپــاره راغــلي او د افغانستان له ځمکې او فضاء پــه اســـتفاده کـــوم نړیـــوال اهـــداف تعقیبوي؟؟

د کمزورۍ او ګوډګي نظــام پــه شتون کې امریکایان د افغانستان ټول امکانات د اوس په شــان همیشــه بــې پوښـــتنې اســـتعمالولی شي، پـــه افغانستان کې د خپلو مختلفو بمونــو، الوتکو، جنګــي ټیکنــالوژۍ او نــورو وسائلو تجربې کولای شي، او دا هیواد چې د اسیا زړه او یا بام بلــل کیــږي د چین، روس او شاوخوا نورو هیوادونو د څارلو لپاره د یوې مورچې په حیــث کارولی شي. متل دی وایي (لیــوه لــه خدایه باد او باران غواړي) امریکایــان هم د خپلو نړیوالو اهــدافو لپــاره پــه افغانستان کې د جګــړې دوام غــواړي نو ځکه نه یوازې سوله په رسمیت نــه پیژني بلکې په وړاندې یې په خپل ټول توان خنډونه هم ایجادوي.

شـــپږم: د ســـولې اړونــد شـــپږم واقعیت دا دی چــې د کابــل ګــوډاګی رژیم چې له انتصاب او اکــمال نیــولې تر ورځینو مشورو پورې هر څه یې له امریکایـــانو سره غوټــه دي د خپلــو امریکایي بادارانو پــه لارښــوونه کــټ مټ له سولې سره د هغــوی پــه شــان چلندکوي.

د کابل رژیــم کــه څــه هــم پــه تبلیغاتو کې سوله خپل هدف بولي اما په عملي برخه کې یې د سولې په نــام داسې طرحه په مخ اخیستې چــې نــه معقولیت لري او نه هم د سولې لپــاره د کومې لاسته راوړنې تمه ترې کیدلای شي. له تیرو شاوخوا پــنځلس کلونــو راهیسې چې د کابل رژیم د سولې پــه نوم لومړی د صبغة الله مجــددي پــه مشرۍ کمیټه جوړه کړه او بیــا یــې د برهان الدین رباني په مشرۍ د ســولې عالي شورا رامنځتــه کــړه، حکــومتي چارواکي سوله یوازې دې ته وایي چې مخالف لوری (طالبان) دې پرته له قید او شرطه وسله په ځمکه کیــږدي او د دوی د سولې له ډراماتیــک بهیــر سره دې یو ځای شي چــې دوی ورتــه پــه غاړو کې څو پلاسټیکي ګلان واچــوي او په ټیلویزیون یې تصویرونه وښيي.

دوی فکر کوي لکه طالبانو چــې تیر اوولس کلــن جهــاد یــوازې د دې لپاره کړی وي چې په غاړه کــې یــې د سولې شورا پلاسټیکي ګلان ور ځوړند کړي. کلا وحاشا... روان جهاد چې په درنو قربانیو تر دې ځایــه رارســیدلی ستر ستر دیني او ملي اهداف له ځــان سره لاري او په یوه ارزښتناکه نظریــه باندې استوار دی.

د کابل رژیم د سولې په اړه دا دا خبره نه مني هغه چې وایي (د ســولې توافق د یوڅه له لاسه ورکولو او د یــو څه لاسته راوړلو ته ویل کیږي) مطلب دا چې د سولې توافــق تــه د رســیدلو لپاره باید یو څه له لاســه هــم ورکــړل شي، پــه ځینــو برخــو کــې تنــزل او تسامح وشي او که چیرې له لویــه سر ه (د میم زر ما ټول زما) فکر موجــود وي نو سوله به هم داسې له بندبســت سره مخــامخ وي لکــه همــدا اوس. د کابل رژیم که واقعا د سولې په ارمــان وي نو باید د خپلو امریکایي ملاتړو له شتون څخه صرف نظر وکړي، تر څو د طالبــانو اســاسي شرط پــوره او د سولې یوه واقعي توافق ته لاره هــواره شي.

اووم: او د پای خبره دا چــې لــه سولې سره تر ټولو ستر ظلم رسنیو او میډیا کړی دی، د افغانســتان رســنۍ چې نړدې ټــولې د امریکایــانو لخــوا اکمالیــږي د ســولې پــه اړه هــم هغــه خبرې ګردانوي چې د امریکایانو لخوا ورته په غوږ کې څڅول کیږي. رسنۍ د دې پــه ځــای چــې د ســولې اړونــد واقعیتونه بیان کړي، یوازې دې خبرې ته لګیدلي چې سوله یوازې د طالبــانو په یو اړخیزه تسلیمۍ سره راتلی شي. رسنۍ پرته لــه دې چــې د امریکــایي اشغال موضوع د سولې د اساسي خنډ

په حیث یاده کړي په یو طرفه توګه یوازې طالبان د سولې دښمنان معرفي کوي.

دا چې په افغانستان کې په لسګونه زره امریکایي پوځیان شتون لري، دا چې امریکایي جنرالان روزانه د پوځي عملیاتو ارقام اعلانوي، دا چې امریکایي الوتکې او جنګي چورلکې شپه ورځ د هیوادپه فضاء کې غومبر وهي او د جګړې بدمرغي خپروي او دا چې امریکایي ولسمشر د افغانستان لپاره جګړه ایزه ستراتیژي اعلانوي او په تعقیب یې اشرف غني په ډاګه وایي چې موږ له طالبانو سره نور مذاکرات نه کوو او سوله به د جګړې په زور ترلاسه کوو، یعني په طالبانو پوځي بریا به خپلوو. رسنۍ د امریکایي لوري دغه جګړه مار ادبیات کله هم د سولې وژونکي نه بولي او نه هم د سولې په موضوع کې له دغو سوله وژونکو عواملو څخه یادونه کوي. بلکې رسنۍ یوازې دې ته لګیدلي چې څرنګه د طالبانو پوځي بریدونو ته په سل قسمه دروغو ناوړه انعکاس ورکړي او طالبان د سولې د دښمنانو په حیث معرفي کړي.

د سولې له موضوع سره د رسنیو دې ظالمانه چلند د سولې به اړه د ډیری عامو خلکو افکار هم ګمراه کړي دي، اوس داسې خلک ډیر دي چې د سولې په موضوع کې یوازې طالبان ملامت بولي، څه موده وړاندې چې په کابل کې یو شمیر ځوانانو او مدني فعالانو د (د افغان پرلت) په نوم د کابل حضوري چمن کې د سولې غوښتلو لاریون پیل کړ، نو خواستونه یې ټول طالبانو ته متوجه وو. دغه راز چې په هلمند کې چې د سولې لپاره لاریون او اعتصاب پیل شو، نو شعار یې دا و چې (طالبه نور به سوله کوې!) د هلمند لاریون والو خو دا هم وویل چې دوی به د سولې غوښتلو لپاره د طالبانو تر واک لاندې سیمې موسی کلا ته لاړ شي او طالبانو ته به د سولې په اړه سوال زارۍ وکړي.

په همدې ورځو کې د جرمني هیواد دفاع وزیره افغانستان ته راغله او ویې ویل چې دې هیواد ته به نور عسکر هم راولیږي، دغه راز امریکایي جنرالانو هم په راتلونکې کې د جګړې د سختولو ګواښ وکړ، خو د کابل او هلمند پرلت والو د خارجي یرغلګرو د دې جګړه مارو ګواښونو په اړه هسې تشه یادونه هم ونکړه او نه یې هغه د سولې پر ضد وبلل. دا چې دوی یوازې له طالبانو د سولې خواست کوي ځکه نامعقوله ده چې جګړه اصلا د دوو اړخونو تر منځ متخاصم چلند ته ویل کیږي او تر څو چې دواړه اړخه د سولې په اړه ونه پوښتل شي او سولې ته ودار نه شي که یو اړخ سولې ته تن کیږدي هم سوله نه راځي.

د خارجي اشغالګرو په شتون کې د سولې خواستونه، زارۍ، اعتصابونه او منډې ترړې داسې مثال لري لکه د پاکو اوبو په یوه لوښي کې چې مرداري لویدلې وي، خو د لوښي څښتن پرته له دې چې له لوښي څخه مرداري لرې کړي یوازې په زاریو او فریادونو د اوبو د پاکوالي غوښتنه کوي.

معلومه خبره ده او تاریخي حقیقت دی چې تر څو خارجي اشغال موجود وي په وړاندې به یې جهادي مقاومت هم د لازمي نتیجې په حیث موجود وي او په دې حساب د سولې ارمان نیمګړی پاتې وي. نن سبا د سولې لپاره تر ټولو لومړنی او ضروري کار دا دی چې په بهرنیو اشغالګرو فشار وغورځول شي تر څو له افغانستانه ووځي. هغه لاریونوال چې له طالبانو د سولې خواست کوي، که د باګرام او نورو امریکایي اډو تر مخ د سولې غوښتلو لپاره کیږدۍ ووهي او لاریون پیل کړي، نو ایله به یې د سولې اصلي ادرس پیژندلی او اغیزناک کار ترسره کړی وي.

دصهیوني رژیم تازه ظلمونه!

او د نړیوالو چوپتیا ولې؟

ارمان

بیا دځه ځنډ وروسته غاصب اسرایيلي دولت دفلسطین مظلوم مسلمانان په سرو وینو کې ولمبول، اسراییلي عسکر هره ورځ په تش لاس مسلمانانو مخامخ گولۍ وروي او ښلن غازونه استعمالوي او د فلسطیني ولس د ازادۍ غوښتنې ولولې زندۍ کوي

دخبرې رسنیو په وینا: له هغه وروسته چې کله مظلومو فلسطینیانو دخپلو غوښتنو لپاره احتجاجونه پیل کړل ل اسرایيلي ځواکونو پرهغوی د ټوپکو شېلۍ ور تاوکړې او ځای په ځای اووه تنه شهیدان او ۲۵۰ تنه یې ټپیان کړل

په دومره لوی شمیر خلکو ډېزو کولو وروسته دملگرو ملتونو سرمنشي د اسراییل څخه په جدي توگه او غوښتل چې ژر ترژره دعامو پر ضد وسله کارول ودروي او دخلکو له وژلو څخه دې ډډه وکړي لیکن اسراییل دهغه غوښتنې ته کومه توجه ورنکړه او نور یې خپل ظالمانه ا و وحشیانه روش ته دوام ورکړ.

په دې سره داندیښنه قوې شوه چې دملگرو ملتونو دنړیوالو اصولو او قوانینو داسراییل په گډون امریکا او نور دوا مدار سرغړونې کوي او په بې دفاع فلسطیني ولس یې خپل وطن او خپله خاوره سور انگارگرځولې او ورته دملگرو ملتونو نړیوال اصول ارزښت نلري په علني توگه ترې سرغړونې کوي او په خورا سپین سترگۍ یې تر پښو لاندې کوي

جوته ده چې نړۍ کې هغه هېوادونه چې زبرځواک دي هغوی پرته دکوم ډار داسراییل دهڅو ملاتړ کوي او دمسلمانانو په وژلو او ځورولو کې ورسره اوږه په اوږه ولاړدي او په څرگنده هغوی دفلسطین دخلکو مشروع غوښتنې ردوي او هغوی گرم اوپړه بولي چې ولي داسراییل پر ضد احتجاجونه کوي او ورسره مخالف دي.

همدا راز څرگنده شوه چې عدل و انصاف په نړۍ کې عملاً نشته دهغه چا خبره منل کېږي څوک چې ځواک لري او دازادۍ داظهار په نوم چې کوم وحشت روان دی هغه ددې ښکارندوی دی چې نړیوال اصول او قوانین یواځې په خوله او دکاغذ په مخ نقش دي په حقیقت او عمل کې نړیوال اصول او قوانین معطل دي

امریکا یوخوا دزادئ داظهار نارې وهي خو پـه عمـل کې دازادئ داظهارژبه بندوي او دخپل یرغل دتمدید لپـاره مختلف جوازونه لټوي خو که په همدې موقع فلسطین کې مسلمانان دخپلو حقوقو غوښتنه کوي او داحتجاج له لارې خپل حق غواړي اسراییل هغوی دامریکا دمټـو پـه ځـواک وژني او په څلور کونجه نړئ کې هیڅوک دهغـوی فریـاد نه اوري

دغه دوه مخېتوب شیې چې نړئ کې دانصـاف لپـاره تلې جلا جلا ایښودل شوې دمسلمانانو لپاره جلا او دنورو لپاره جلا! که اسراییل په مسـلمانانو هـر ډول ظلمونـه وحشتونه او بشرضد جنایتونه وکړي امریکا او نړئ دهغـه پرضد نه یوائې چوپ پاتې وې بلکې نور هم په شا ټپوي چې داسراییل په ظلمونو خولې پټې اونیسي او که په کـوم اسلامي هېواد کې معمولي بشرضد حرکت وکړي امریکـا او نړیواله ټولنه سملاسي په خوځښت راځـي هغـه نـړئ تـه ترهګر معرفي کوي او پـه ضـد یـې ګامونـه پورتـه کـوي وربانديې بندیزونه لګوي آن دنیولـو یـا وژلـو پـه سر یـې ملیونونه ډالر انعام ټاکي

دې لړ کې داسلامي هیوادو لخوا چوپتیـا هـم زیاتـه خواشینونکې ده دشک پرته دمسـلمانانو موجـوده واکمـن خپلواک او ازاد ندي هغوی دامریکـا مـزدوران دي مـزدور یوائې هغه څه کولی شي چې بـادار ورتـه اشـاره وکـړي دهغه داشارې پرته یو کار هم نه شي کولی.

نو په دې توګـه داسـلامي هېـوادو دچـارواکو دغـه بزدلانه برخورد دغندلو او محکومولو وړدی باید محکـوم او وغندل شي ځکه داسرایل جنایتونه هیڅکله پټ نـدي بلکـې ښکاره او هرچاته معلوم دي

داچې دمسلمانانو سیاسیون پریکړې او ارادې پخپلـه خوښه نکوي دامریکا خوښې او پریکړې ورته اولویت لـري له امله یې اسراییل فلسطین کې له اوو لسیزو راهیسې لګیا دی په فلسطیینانو یې خپله زمکه سور انګار کړې لیکن په دغه ټوله موده کې یونر واکمن مسلمان پیدا نشو چې هغـه داسراییل په ضد او مظلومو فلسطینیانو ددفاع لپاره مـؤثر غږ پورته کړي دیته په کتو سره اسراییل دوخت پـه تیریـدو زړور شو او پرلپسې دخپلو پولو پـه غځولـو او دصـهیوني عزایمو په پراخولو کار کوي او په مقابل کې یـې مسـلمانان دغفلت په خوب ویده دي دمسلمانانو له حال او قال نه خبر ندي نو فسوس د دوی پر حال !!

غوطه کې ستر بشري ناورين

شهيد زوی

دشام په غوطې کې وحشت دتولو پولونه واوړېدلو؛ دغوطې په دوما نومي سيمې کې پر ولسي وګړو دبشارالاسد دفوځونو له لورې په کيمياېي حملې کې ۱۰۰ تنانوخپل ژوند له لاسه ورکړ چې زياتره يې مېرمنې اوکوچنيان وو.

عيني شاهدين وايې چې دکلورين غاز ددې حملې نه داغېزمنو شويو تنانوله خولونه به دسخت تکليف په حالت کې ړومبې زګ روان شو ؛ بيابه يې وينه قی کړه چې ورسره سم به يې دتل لپاره له نړۍ سترګې پټې کړې .

بشارالاسدادعا کړيده چې داحمله اسرائيلوکړيده او ويلي يې دي چې په خپلواتباعو موږ داسې سترظلم نه کوو ؛هغه زياته کړه چې دا پرموږ دحملې کولولپاره توطيه ده؛ هغه خپلوفوځ ته حکم کړيدی چې جنګ ته دې تيار اوسي .

بل لورته امريکاهم داحمله په سختوټکوغندلې ده اوبشارالاسد ددولت پرضددعملي عکس العمل ښکاره کولوپه موخه دامريکا ولسمشرلاطينې امريکاته خپل سفر زنډولی دی.

دیادولو وړ ده چې دملګروملتونو اداري کې امنيت شوری ددې حملې دڅېړنې لپاره ديوتحقيقاتي ټيم دلېږلوپرېکړه کړې ده خو دتازه معلوماتوله مخې روسې داپرېکړه ويټوکړيده او ويلي يې دي چې ددې ټيم دارکانوتعين چې دامريکا له لورې کېدلو نودابه خپلواک نه و.

داروښانه خبره ده چې دشام په کورني جنګ کې دبشارالاسد په څنګ کې دروسې دودرېدونه پس دا جنګ اوږد اودبشارالاسد ملا مضبوطه شوه ؛ که روسيه اوايران دبشارالاسدترشا نه وای ولاړ نودده دولت به لاډېر دمخه له منځه تللی او برخليک به يې له قذافي بدل نه وای.

داسې ښکاري چې امريکا پرشام دحملې کولوهوډ کړيدی اوددې لپاره يې برتانيه اوفرانسه هم له ځان سره مل کړيدي اوپرعراق چې حمله کېدله حالت هماغې ته ورته ښکاري .

دتېر۲۰۱۷م کال په اپريل کې هم امريکادشام پريوې فوځي اډې له دې املـه د۶۰ نه زيات تام مارک نومي پرمختللي توغندي وتوغول چې په وينا يې

دبشارالاسد اداري سره کیمیاوي وسلې وې ؛ ویل کېږي چې په هغه حمله کې یوشمېر روسي اوایراني فوځیان هم وژل شوي وو؛ نوامریکاشاید په راتلونکوځوورځوکې دځپلې سمندري بېړۍ نه پرشام همداسې توغندویې حمله کوي خوپداسې بریدچې هدف ته نه رسېږي نو ټرمپ شاید وغواړي چې دځپلو پرمختللوبې ۵۲ ډوله طیارو په واسطه شام لوټی لوټی کړي خودابه ورته اسان کار ځکه نه وي چې دلته روسي اوایراني فوځونه شتون لري ؛ که چرته دامریکا کومه جنګي طیاره روسي فوځونو راوغورځوله نودابه دامریکا لپاره دشکست په معنی وي چې په مقابل کې به یې امریکاخامخا جدي غبرګون ښکاره کوي اوپدې سره به ددواړوترمنځ مخامخ جنګ رامنځته کېږي چې داهیڅکله هم امریکا نه غواړي ؛ امریکا هوایي بریدونه یوازې دعراق اوافغانستان په څېر په هغوځایونوکې کوي چې یې په مقابل کې دهوایي مزاحمت خطرنه وي .

غوطه چې پکې نېږدې ۴ سوه زره مسلمانان ژوند کوي دسوریې دپلازمېنې دمشق اودشام صحرا په منځ کې هغه اباده اوزرغونه سیمه ده چې دبردئ رود یې خړوبوي ؛ دبردئ رود دشرقي لبنان نه سرچینه اخلي ؛ دپلازمېنې دمشق نه تېرېږي اوټوله غوطه خړوبوي .

دا پلازمینې دمشق ته نېږدې ددولت دمخالیفینو ترواک لاندې ترټولو وروستۍ محصوره سیمه ده.

دبشارالاسد داداري پر ضد دولسي پاڅون په لړ کې دنورو ګڼوښارونوترڅنګ غوطه هم په ۲۰۱۲م کې دبشارالاسد دواکمنۍ نه ووتله چې ترننه لا ددې اداري دواک نه بېرون ده .

شرقي غوطه دتېرو ۴ کلونوراهیسې دبشار الاسد دوحشي لښکرو او ایراني ملېشو دسخت وحشت ښکار او په بشپړ ډول ترهوایي او ځمکنۍ محاصرې لاندې ده ؛نه ترې څوک خوندي ځای ته وتلی شي او نه هم دوئ ته څوک دوا او خوراکي مواد وروړلی شي.

؛ اودتېر ۲۰۱۷م کال ددسمبر دمیاشتې نه پدې سیمې هوایي اوځمکنۍ حملې روانې دي .

دروان ۲۰۱۸م کال دفرورۍ میاشتې د۱۸ مې نېټې راهیسې دبشارالاسد اوروسې هوایي ځواکونو پدې سیمې حملې زیاتې کړې اود وروستیو ۳ اوونیو راهیسې پکې ډېر زیاتوالی راغلی ؛دهوایي بریدونوسره دبشارالاسددفوځ اوایراني ملېشوځمکني بریدونه هم یوځای شویدي چې د وحشت نه ډکو روانوځمکنو اوهوایي بریدونو په غوطې کې یوستر انساني قتل عام رامنځته کړیدی ؛ کله چې پدې ښار بمبار پیل شو نو په هماغه ړومبۍ ورځ پکې د ۲۰ کوچنیانو په شمول ۱۰۰ تنان مړه او په سونو نور ټپیان شول اوتراوسه پکې دکابو ۲سوه کوچنیانو په شمول له زرونه زیات تنان شهیدان شویدي ؛ شامي وحشي هوایي ځواکونو چې د ۲۰۱۴ م کال راهیسې دشرقي غوطې په څېر په سونو سیمې دبیلري بمونو په

وساطت په کنډوالو بدلې کړې اوس شرقي غوطه چې دخپلو مخالفینو وروستۍ ځاله یې بولي همداسې یې په کنډوالې بدله کړېده .

دنړیوالو ادارو له لورې د ورکړل شویو راپورونو له مخې ټوله غوطه په کنډوالو بدله شویده اوپخپله دملګرو ملتونو اداره وایې چې ۷۶ سلنه ټولې ودانۍ یې له منځه تللې دي .

ددې سیمې دنیولو لپاره دبشارالاسد فوځونو دروان کال د فرورۍ میاشت په پیل کې هوایې یرغل وکړ او دلته یې په سونو بې ګناه انسانان مړه او ټپیان کړل چې له امله یې پربشارالاسد نړیوال فشار زیات شو نو دغذایې موادو د سخت قلت سره دمخامخ شویو ددې ښار محصورو عامو وګړو ته دغذایې موادو درسولو په موخه بشارالاسدبمبار ودرولو ته چمتو شوی و خو بیا یې دخپل لورې دا اور بند مات او یوځل بیا یې دوحشت نه ډک بمبار اوځمکنی یرغل پیل کړ.

دشخصي رابطو لپاره دکارول کېدونکو رسنیو له لارې دټپي او شهیدانو شویو کوچنیانو خپاره شوي عکسونه سخت زړه دردونکي دي چې په مسلسل ډول خپرېدا یې باید بشري ټوله نړۍ لړزولای وای خو متأسفانه چې ټولې نړۍ دسکوت روژه نیولې ده؛ټوله نړیواله ټولنه دبشار وفوځ دوحشت ننداره کوي او هیڅوک ددې وحشت دودرولو لپاره رښتونی اقدام نه پورته کوي.

دملګروملتونو ، فرانسې ، المان دپرلپسې غوښتنې اونړیوالې ټولنې دزیات فشار؛په نړۍ کې دبشر دحقوقو دمختلفو ټولنو له لورې د اواز پورته کولو او دشخصې رابطو لپاره دجوړو شویو رسنیو له لارې دغوطې دټپیانو او مړو دردونکې عکسونو د خپریدا نه پس روسیه په ۲۷ فرورۍ موقت اوربند ته اړ شوه او ولسمشر پوتین اعلان وکړ چې دبشري خواخوږۍ پربنسټ به هره ورځ په جنګ کې ۵ ساعته وقفه راوستل کېږي؛ددې اوربند داعلان پرمهال دروسې ددفاع وزیر سرګي شویګو وویل چې په جنګ کې داتوقف به هره ورځ دسهار د ۹ بجو نه دماسپخین تر ۲ بجو پورې وي ؛ دملګرو ملتونو دامنیت شوری دروسې په شمول ټولو غړو په اتفاق په شرقي غوطې کې دیوې میاشت لپاره داوربند پرېکړه تصویب کړیده خودا اوربند هم روسې اودبشارالاسد فوځونو عملاً مات کړی ؛په پرله پسې ډول ددې پرېکړې نه سرغړاوې کوي او په مظلومو مسلمانانو یې تراوسه خپل بمبار روان ساتلی دی چې په همدې جریان کې کیمیاوي حمله هم رامنځته شوه خو هیڅوک یې دمخنیوي نشته ؛ دامریکا اقدامات دداسې حملو دودرولو لپاره ندي بلکې امریکا دداسې حملودوام غواړي خپل اهداف هم په همدې کې ویني او اقدامات یې هم دهمدې لپاره دي .

دتېر میلادي کال په اواخرو کې دروسې په سوچي ښار کې دروسې ، ایران اوترکې ترمنځ په ۳ اړخیزې غونډې کې پرېکړه شوی وه چې دمخالفینودځپلوپه نوم به دشرقي غوطې داوسېدونکوپرضددتشدد نه کار نه اخستل کېږي .

خوپرغوطې ځمکنواوهوایې وحشي بریدونوکې دایران اوروسې شرکت داثابته کړه چې دې دادواړه هېوادونه په خپلې کړې ژمنې ونه درېدل اوترکې ته یې دوکه ورکړه .

دشام په مهمې بندرګاه طرطوس کې روسې خپله سمندري اډه جوړه کړیده اود حمیم هوایې اډه هم دروسې په لاس کې ده چې له همدې ځایه پرغوطې اونوروسیمو بمبار کوي . ایران هم دمشق ته څېرمه فوځي اډه لري اوله همدې اډې نه دشام په سني مېشتوسیموحملې کوي ؛ ایران دا جنګ خپل جنګ ګڼي ؛ تر اوسه یې دپاسداران انقلاب اودنورو هېوادونوسره تړاولرونکوشیعه اجیرانوله جملې څخه ۸۰ زره وسلوال دې جنګ ته لېږلي دي چې دجنرالانو اونورولوړپوړوفوځي افسرانوپه شمول پدې ۷ کلن جنګ کې په زرونوایراني وسلوالوخپل ژوند هم له لاسه ورکړیدی نوځکه ایراني جنرالان وایې چې ددوئ (فرقه یزه) واکمني دروم تربحیرې رسېدلی ده .

لکه څنګه چې روسې او ایران په ۲۰۱۶م کال کې شرقي حلب لوټی لوټی کړ او دحلب دټولو اوسېدونکودوژلواو ویستلو نه پس یې په کنډوالو دبشارالاسد ددولت دفتحې بیرغونه ودرول داسې ښکاري چې اوس په غوطې کې هم هماغه کړنه تکرارول غواړي نوځکه دوژل شویواوټپیانوشویو مېرمنو اوکوچنیانو دردونکي خپاره شویو عکسونودمسکاو اوتهران په زړونو کې رحم رانه وستلواونه یې ددوئ ارادې بدلې کړې .

روسیه او ایران ددې سیمې دمحاصره شویو انسانانو پرضد دظلم او وحشت ودرولو او ددې سیمې د اوسېدونکو سره دبشرې مرستو طرفدار ا ن نه دي او غواړي چې دبشارالاسد او روسې هوایې فوځونه ترهغې دا ټوله سیمه بمبار کړي چې ترڅو پکې ددولت یو مخالف هم ژوندی پاتې نه شي ،که څه هم دغوطې ټول عام خلک پدې کې خپل ژوند له لاسه ورکړي اودامریکا په شمول ټول غرب هم دامریکا اوایران سره پدې هکله کوم مخالفت نه لري خوپدې شرط چې مادي ګټې یې خوندي وي .

پدې کې کوم ابهام اوس ندی پاتې چې دنړۍ ټول کفري ځواکونه دمسلمانانو پرضد متحد دي اوپه اسلام دښمنۍ کې یو دبل مرسته کوي.

روسیه ده که امریکا ده،که فرانسه،المان او برتانیه ده ټولو دخپلو مادي ګټو او نورو شومو اهدافو دحصول په موخه دمسلمانانو مختلفې سیمې دجنګ په ډګر بدلې کړیدي؛په ښکاره دوئ یود بل خلاف ښکاري خو په حقیقت کې ټول داسلام او مسلمانانو سره په دښمنۍ کې متفق دي او دټولو هدف یودی یانې اسلام او مسلمانانو ته ښه ډېر تاوانونه رسول او پروسایلو یې قابض کېدل؛دوئ په ښکاره دیوبل ظلمونه غندي خو دپردې ترشا دمسلمانانو سیمې په خپلو منځونو کې ویشي؛یوبل ته لار ورکوي او دمسلمانانو په مقابل کې دشکست پرمهال یودبل مرستې کوي ؛ نودشام دښه بربادولو ، تجزیه کولواوپه خپلومنځونوکې یې دویشلولپاره داکیمیاوي حمله اړینه وه اوشاید په نېږدې وختونوکې داسې نورې حملې هم رامنځته شي .

آیا امریکا او ټوله غربي نړۍ دومره بې وسه ده چې په شام کې دروسې او بشار دروان وحشت مخه نه شي نیولی؟

آیا دملګرو ملتونو اداره او دامنیت شورى دومره کمزوري ده چې يواځې ديوې مياشتې لپاره دبشارالاسد او روسي وحشي فوځونو نه دبمبار ودرولو غوښتنه کوي خو په اسانی يې دا غوښتنه نه منل کېږي؟

او خبره خو څه نني او يواځې دشرقي غوطې نده بلکې د ۲۰۱۱ م نه تر ننه په شام کې دشرقي غوطې په څېر دسني مسلمانانو سونو کلي؛ښارونه او بازارونه دبشارالاسد دخونخوارو ملېشو؛دايران دپاسداران انقلاب او دلبنان حزب الله او دروسي دوحشي فوځونو دوحشت ښکارشويدي؛پخپله دملګرو ملتونو اداره وايي چې په ۲۰۱۱ م کې پيل شوي جنګ کې د ۲۰۱۷م ددسمبر پورې دوژل شويو شاميانو شمېر د ۴ سوه زرو نه کم ندی.

نيم شام په کنډوالو بدل شو؛کابو ۸ مليونه انسانان دخپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول؛دلته دبشارالاسد له لورې کيماوي وسلې وکارول شوې او کارول کېږي او دشاميانو دوژلو لپاره روسانو ايران او دحزب الله لبناني ملېشو اشر جوړ کړ؛نړۍ يې ايله ننداره وکړه او ددې وحشت د مخنيوي لپاره يې هيڅ مؤثر قدم پورته نکړ.

هيڅوک داسې نشته چې دامريکا او ناټو نه وپوښتي چې دصدام حسين په لاس دځوکردانو دوژل کېدو له امله که صدام داداري ړنګول اړين و او د قذافي په حکم که دځو مخالفينو دوژل کېدلو له امله په ليبيا يرغل او دقذافي ددولت ړنګول اړين و نو ددې دومره ستر قتل عام له امله دبشارالاسد پرضد ولې کوم اقدام نه کېږي او ولې دلته ددې ستر وحشت مخنيوي اړين نه ګڼل کېږي؟

زما هدف دا ندی چې دبشارالاسد پرضد دامريکا او ناټو اقدام دشام ددرد دوا ده بلکې هدف دامريکا او نورلويديځ دستر منافقت يادونه ده چې پرليبيا او عراق يرغل کولو کې يې ستر اهداف پوره کېدل نو ديرغل لپاره يې هغه څه پلمه کړل چې ددوئ سره يې هيڅ تړاو نه و او چې دلته يې دبشارالاسد له لورې په روان وحشت کې اهداف پوره کېږي نو پدې ستر وحشت يې سترګې پټې کړيدی او عملاً يې تائيد وي.

په وینو سره دستار بندي

الیاس فاتح

څړیکې ددرد دزړه په زخم وې خورې کندوزه
چې دې ختې غبر کې سلګی دمدرسې کندوزه

په لوی وحشت جاهل،بمبار کړی دعلم کورګی
له علمه خیري دباروتو سرې لمبې کندوزه

مور یې خوشاله ده،دځوی دستار بندي یې ده نن
خبره نه ده ،چې شهیدځي له جلسې کندوزه

ما همیشه په جنازو کې دي ګلان کتلي
خو نن مې ولیدې دګلو جنازې کندوزه

که دکفري اشغال پرضد مسلمان پورته نه شي
له ځناورو به دژوند کوي اسرې کندوزه

دنړیوال ظلم پروړاندې عمري طالب دی
وې دي تلپاتې حقانیت لوړې نارې کندوزه

دافغان مرګ پسې راغلي دجهان یرغلګر
چې ترې نه جوړ نه شي فاتح دزمانې کندوزه

غزل

#عبدالسلام ضعیف

دغه بدرنګ انسانان وینم چې دنیاقتلوي
سبادي واردی خوشالیږه مه چې ماقتلوي

په بیل نامه دبیل هدف لپاره هرڅه وژني
کرارکراراول احساس بیادي تقواقتلوي

بیادي ضمیروژني دټول معنوي فکرسره
بیادنفاق په توره یوبل په سلاقتلوي

دهري ورځي پیښه بیل بیل امتحان وګڼه
تصادم نه دي ستراتیجي ده هره خواقتلوي

ماشومان وژني ښځي وژني زوړ اوځوان مووژني
څوک په تورتم څوک په تهمت څوک برملاقتلوي

ټوپک دبل مرمی دبل ماشه دبل په خوښه
دغرورځلي رنګ په رنګ جلاجلا قتلوي

امردبل مأمورمي خپل قاتل مقتول مودواړه
مرتزقه لکه لیوان اوس بې ګنا قتلوي

نن دي دتورسبادسوربیابه دسپین په نامه
هغه دوستان چې تابللي بیابه تاقتلوي

سادګي نه ده نه ساده دکمان غشی درومي
هدف واضح دی یادي سریادي پیشواقتلوي
غلامي ومنه سرټیټ کړه بیاخاموشه اوسه
کنه په نوم دي دطالب اودملاقتلوي

ضعیفه نه ښایي دوستي له کافرانوسره
نن په ټوپک بیادي دزهروپه حلواقتلوي



د کندوز د شهیدانو په یاد کې!

سمیع الله "تړون"

اولسمشره مدرسې تولې بمبار کړه
چې بچی مې نه ملا شي نه طالب شي
اولسمشره زمونږ وینې تولې ورکړه
چې خوشاله پرې یهود شي او صلیب شي

اولسمشره د قران سینه سوری کړه
چې یاسین په ژړا سر الله ته ورشي
اولسمشره بخاري کړه پاڼې پاڼې
چې خفه شي پیغمبر الله ته ورشي

اولسمشره څه عجیبې کارنامې کړې
ستا ګولۍ دي او د قام د بچو سر دی
جانماز پسې مې سرې غوښې نښتي
د امام په وینو سور زما ممبر دی

اولسمشره همدغسې مخکې درومه
د بادار د لاس کاري پلان تطبیق کا
د مشرق او د مغرب رنګونه یو کړه
په جومات کې بازاري پلان تطبیق کا

اولسمشره د نفوس شمیر نه وکا
که ډیر شوی وي بمونه ورته ډیر کا
د مغلو د چنګیز په لاره لاړ شه
دا اولس په یوه ورځ له تیغه تیر کا

خو دا بله مشوره مې هم پرځای کړه
څوک پیدا کړه چې قران در ته تفسیر کړي
دا اولس له مسلماني ختې جوړ دی
برنامې به دي له بیخه نه تغیر کړي

ته چې وږی شې کیکونه او پاپړ خوري
خو زما اولس چې وږی شي جوار خوري
له تاریخه ناخبره مفکره
دا اولس پیړۍ کې دوه ځله کفار خوري

مسلمه امت د دې ځمکې وارث دی
له دې خاورې ورکیدل یې ناممکن دي
د یوه په مرګ پنځه راژوندي کیږي
په مرګونو کمیدل یې ناممکن دي

د دې بورو میندو کړیکې خوارې نه دي
د لښکرو هومره زور ورسره مل دی
ایوبي لښکرې بیا راولاړیږي
د میوند د ټپو شور ورسره مل دی

اولسمشره که د خدای حضور ته لاړې
دا زخمي زخمي قران به درپسې وي
یو سپیڅلي عدالت ته به دې بیایي
مسلمان افغانستان به درپسې وي

* * *

درپسې مات شوم

ابراهیم صیاد

لکه ستا د مخ هنداره چې ټوټه شوه
زه هم دغسې په ملا درپسې مات شوم
د فراق سیلۍ مې تاو شوه له وجوده
ته چې لاړلې اشنا درپسې مات شوم

په مزار دې د مرغیوو چنهار وه
زه چې راغلمه په تا خاورې انبار وې
ما د زړه له درده داسې چغې وکړې
کاش چې ستا پر ځای په ما خاورې انبار وې

اوس مې زړه کې هغه مسته مستي نشته
چې خندا به مې له خولې نه بیلدله
د خوښیوو جزیرو کې ګرځیدمه
او ژړا به مې بیخي نه پیژندله

ستا تصویر سره دشپې یوازې ناست یم
د خوږمن زړګي کیسې ورته کومه
په سپیرو شونډو یې ښکل کړمه په سترګو
بیا یو څو شیبې ګیلې ورته کومه

ستا د مخ وړانګې مې سترګو ته درېږي
چې سپږمې د اسمان غیږې نه ښکاره شي
لکه شمعه په ګریوان مې اوښکې توی شي
لکه شمعه خپل وجود راته لمبه شي

د زخمي مرغۍ په شان باندې راپریوځم
د درمان په ځای دردونه غیږه راکړې
څوک مې نه پورته کوي له خړو خاورو
بس یوازې ستا غمونه غیږه راکړې

اوس زما ښو هم خړ غبار نیولای
زه صیاد هم په دې لار درپسې ځم
بې له تا مې دنیا ورانه ده جانانه
ښکاري زه هم له دې ښار درپسې ځم

په مدرسو برید د څه د پاره؟

لیکوال: شفیق افغان

په علمي مدرسو برید دا نه اول دی او نه به اخېرنی وي، دیني مدرسې د اسلام هغه مرکزونه دي چې له برکته يې اسلام تر ننه په حق پوره ساتل شوی،

څنګه چې غرب د ترهګر تر عنوان لاندې جګړه د اسلام سره شروع کړې نو نه غواړي چې د اسلام مظبوطې کلاګانې (مدرسې) د خپل فعالیت وکړي.

غرب نه یواځې دا چې مدرسې له منځه وړي بلکې د همدې مدرسو سره د تړل شوي مسلماني ټولنې د تعلیم د سطحې دښمنان هم دي.

د اشغال په لومړیو کلونو کې به مو له بي بي سي او نورو غربي رسنیو څخه دا راپور بیا بیا لوستلای وي چې طالب مکتب وران کړ

د همدې مکتب اصلي ورانوونکي زمونږ وطن ته راغلي غاصب یهودیان دي چې د خپلو کرایه شویو اتباعو په واسطه یې دا رنګ کارونه کول.

یهودو به د کار دوه هدفه تر لاسه کول یو دا چې په ټولنه کې د طالب خوځښت بدنام کړي

بل دا چې دا مسلمانه ټولنه د هر رنګ تعلیم له اړخه کمزوري وساتي

مکارو یهودیانو به سهار د جوړ مکتب افتتاح وکړه خو بیګا ته به يې کرایه شویو افغانانو ته امر وکړ چې باید مکتب وران کړی او بي بي سي یا نورو کفري رسنیو به سبا په ډکه خوله د مکتب د سوځولو په راپور شخوند وهلو.

کله چې د غرب دغې مصنوعي لوبې نتیجه ورنه کړه بلکې برعکس طالب له نظامي اړخه دوهم نمبر کې د تعلیم او تربیې کچه سمبول وساتله نو بیا یې دا څو کاله دا لوبه شروع کړې چې د عملیاتو نیم سلنه توجو یې د مدرسو لور ته اړولې،

د مدرسو د استادانو او شاګردانو ترور او بندیانول،

دمدرسو نړول،

د مدرسو تړل،

دا هغه څه دي چې د اشغال په اړدو کې يې په سترګو وینو ،

اشغالګر یهودیان غواړي په مدرسه د برید په نتیجه کې طالب په عقدوي چلند مجبور کړي تر څو د ورته عکس العمل په بدل کې طالب په مکتب یا پوهنتون برید وکړي .

اشغالګر یهودیان غواړي له یوه اړخه دوی مدرسې تر برید لاندې ونیسي چې په دې سره به مو د اسلامي علومو ګراف راټیټ شي

او د دوی له فکره که طالب په مکتب یا پوهنتون برید وکړي نو په دې کار سره به مو خدای مه کړه د عصري علومو ګراف راټیټ شي.

او د اشغالګرو یهودیانو لومړی هدف هم دا دی چې د دغې مسلمانې ټولنې دیني او عصري تعلیم دومره کمزوری کړي چې د خپلو اسلامي احکامو او ولسونو له تاریخ څخه مو په کامله معنی ناخبره وساتي او بیا راباندې د ډیموکراسی د بدنام او رټل شوي قانون کاذبانه احکام ومني او د تل لپاره مو د غلامي په خوب ویده کړي.

خو الحمد لله چې د طالب په رقم هوښیار زعامت لرو، طالب نه یواځې دا چې ورته عکس العمل نه ښیي بلکې له نظامي عملیاتو څخه وروسته يې زیاته توجه د خپل ملت د تعلیم او تربیې لوړولو ته کړې، هغه که په دیني مدرسو کې وي یا د عصري علومو په مرکزونو کې چې د هیواد په بېلابېلو سیمو کې د مدرسو پوهنتونونو مکتبونو تاسیس او د تعلیم له نظره په لوړ معیار ساتل يې ښکاره بېلګه ده.

طالب باید څه وکړي؟

څنګه چې اوس اشغالګر یهودیان نور د ماتیدو په درشل کې دي نو شاید د وحشیانه بمباریو تر څنګ په مدرسو بریدونو ته هم زور ورکړي او د همدغو کافرو په لاس تربیه شوي تش په نوم مسلمان عسکر به يې هم له امر څخه سر غړاوی ونه کړي خو طالب ته په کار دي چې حوصله وساتي او لکه روان چې دی د ورپاتې او بیچاره ولس د تعلیم سویه د همداسې بې توپیره ژوندی او په لوړ معیار جوړه وساتي.

بې طالبه مو مه کړې.

امریکایان ولې

ديني مدارس په نښه کوي؟!

شاهد (غزنیوال)

د امریکایانو لخوا د کندوز ولایت د دشت ارچي ولسوالۍ د هاشمیه ديني مدرسي بمبارول د هیواد په داخل او نړیواله کچه پراخ غبرګونونه را وپارول.

په متعددو اسلامي هیوادونو کې د امریکایانو د دې وحشت په خلاف د مسلمانانو لاریونونه راووتل او د رابطة علماء المسلمین په څیر د اسلامي علماوو نړیوال سازمان هغه پرجنګي جنایت بللو سربیره هغه پر اسلامي مقدساتو ښکاره تیری وباله.

د افغانستان په داخل کې هم په مختلفو ولایتونو کې د علماوو او ديني مدارسو لخوا په کلکه وغندل شو او په کندوز سربیره په کابل، ننګرهار، پکتیا او یو شمیر نورو ولایتونو کې یې په خلاف احتجاجي لاریونونه تر سره شول.

د افغانستان سیاسیونو، پوځي ماهرینو مدني فعالانو حتی د رژیم د پارلمان او مشرانو جرګې وکیلانو دا برید بشري جنایت وباله او د مدارسو په نښه کول یې د افغان ولس پر اسلامي معتقداتو ښکاره تیری وګاڼه.

تر ټولو ستر جنایت!

په افغانستان کې د امریکایي اشغال له پیله تر اوسه په زرګونو ځله پر ولسي اهدافو او ولسي وګړو د برید کولو ډېرې خونړۍ حادثې پیښې شوې خو هغه د دشت ارچې پر ديني مدرسې د برید له پیښې سره د مقایسې وړ نه دي.

ځکه له فراه نیولې، تر کندوز، کندهار، هلمند، شینډنډ، غزني، لوګر، ارزګان، پکتیا، پکتیکا، خوست، ننګرهار، کاپیسا او ... ولایتونو پورې ډېر ځله امریکایي یرغلګرو د ولسي خلکو د غم او ښادي پر مناسباتو، ودونو، د جنازې پر مراسمو د ختم او خیرات پر غونډو، کلنیکونو او روغتیایي مرکزونو او نورو کلیوالي تجمعاتو چې کله هم هغوی برید ونه کړي او ډېر ولسي خلک یې شهیدان کړي وروسته یې بیا په یوه ډول نه یوه ډول د دغه جنایت له ترسره کولو ښښنه غوښتې او هغه یې یو غیر عمدي عمل ګڼلی.

مګر د کندوز د دشت ارچې پر ديني مدرسې برید چې عیني شاهدان، د پیښې ټول قربانیان، او د کندوز ملکي روغتون صحي چارواکي هغه یوه ملکي ساحه ګڼي او شهیدان شوي او ژوبل شوي کسان ټول ملکي خلک او د مدرسي ديني زده کوونکي او ښوونکي بولي، خو برید کوونکی لورې چې له امریکایي یرغلګرو څخه د دفاع په خاطر یې د برید مسؤلیت په خپله غاړه اخیستی پر دې ټینګار کوي چې دوی په پلاني او عمدي ډول دا برید په همدې مدرسې تر سره کړی او هلته وژل شوي او ژوبل شوي کسان چې په هغو کې اکثریت د قران کریم کم

عمره حافظان وو د دوئ په قول ټول وسله وال ترورېستان وو.

په یوه ځل د ډېرو دیني عالمانو او حافظانو وژل.

د دشت ارچي پر هاشمیه دیني مدرسې برید په داسې حال کې وشو چې هلته د شمال زون د مشهورو مدارسو او مساجدو خواوشا ۲۰۰۰ تنه مشهور دیني عالمان او خطیبان را ټول شوي او د هاشمیه مدرسې د دوره حدیث فارغانو او د قران کریم حافظانو ته یې د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون کړی و.

دغه علماء او هغوی ته مخامخ ناست د دوره حدیث فارغان او د قران کریم حافظان په هغو ویډیویي تصویرونو کې هم واضح ښکارېږي چې د کشفي الوتکې په وسیله له فضاء څخه عکاسي شوې.

د دشت ارچي مدرسه چې د شمال په سطحه یوه مشهوره دیني مدرسه او د هغې مؤسس ګوجر اغاصاحب د کندوز یو له مشهورو علمي شخصیتونو څخه ګڼل کېږي چې د مدرسې د دستاربندۍ په مراسمو کې یې د کندوز ولایت ډېرې قومي مشران او منورین ګډون کوي، پر دې سربیره معمولا دغسې مذهبي مراسمو ته د سیمې په سطحه ډېر متدین خلک کوم چې له دیني علم، مدرسې او قرآن کریم سره مینه او تعلیق لري را ټولېږي چې په دې سره ویلای شو چې د دشت ارچي مدرسې غونډه د دیني عالمانو، حافظانو او سیمه ییزو منورینو یوه تر ټوله لویه دیني اجتماع وه چې د امریکایانو لخوا په قصدي او پلاني ډول په نښه شوه تر څو وکړای شي په یوه ځل د شمال اکثریت علماء، حافظان او دیني منورین ووژني.

ولې پر دیني مدارسو برید؟

اوس پوښتنه دا ده چې امریکایانو او د هغوی داخلي ملاتړو ولې پر نورو جنګي جنایتونو سربېره د دیني مدارسو په نښه کولو لاس پورې کړ؟

دا ښکاره خبره ده چې علماء او روحانیون د مذهبي او دیني مکلفیت له مخې د هر یرغلګر په وړاندې تر بل هرچا له مخه د خپل دین او هیواد په دفاع کې لومړی مقام لري.

همدا علماء دي چې افغانستان ته د اسلام د مقدس دین له راتګ سره سم یې د دلته د دیني تعلیماتو د ښوونکو په حیث رول لرلی، د هر اشغالګر په مقابل کې یې د مقاومت قیادت په غاړه اخیستی، د مقاومت په سنګرونو کې یې لومړنۍ قرباني ورکړې او ولسونه یې د اشغالګرو په مقابل کې د مقابلې، جهاد او مبارزې میدان ته تیار کړي.

په تیرو دوو نیږدې ۱۹ او ۲۰ پیړۍ کې اشغالګر انګریزان او تیري کوونکي شورویان همدې علماوو له افغانستانه شړلي دي.

د امریکایي اشغال په مقابل کې د روان جهاد او مقاومت قیادت هم د همدې علماوو په غاړه او ټول سنګرونه یې په هغوی ښایسته دي.

امریکایي اشغالګرو هم دغه واقعیت ښه درک کړی؛ ځکه یې د ټرمپ په نوي ستراتیژۍ کې د دیني مدارسو او دیني عالمانو په نښه کولو او له منځه وړلو ته خاص ځای ورکړی دی.

د دشت ارچي دیني مدرسه هم د همدې استراتیژۍ له مخې شخصا د امریکایانو لخوا هدف او د په نښه کیدو مسؤلیت یې داخلي مزدورانو ته ځکه پر غاړه ور اچول شو چې هغوی هم د اسلام او قران په دښمنۍ کې له ځان سره شریک کړي.

پرلتونه ولسي ابتکار،

که د جنرال نیکولسن پروژه

میوند سادات

له څه کم یوې میاشتې راهیسې- په هلمند، کندهار، پکتیا، غزني او کابل کې دسولې په نوم پرلتونه روان دي، د پرلتیانو شعار سوله ده، خو جګړه کې د ښکېلو اړخونو (یرغلګرو+ کابل حکومت او طالبانو) له جملې یوزاې له طالبانو د سولې غوښتنه کوي، یوزاې له طالبانو د سولې غوښتنه، د پرلتیانو بې طرفي ګواښي او پرلتونه د یرغلګرو او حکومت پروژې شکل اختیاروي. له پرلتونو دیرغلګرو ملاتړ او پراخ رسنیز انعکاس د پرلتیانو پر خپلواکۍ سیوری خپور کړی او ددوی د سولې شعارونه یې تر سوال لاندې راوستلي دي.

افغانستان کې زیاتره رسنۍ د یرغلګرو په نوښت رامنځته شوي، استخباراتي شبکې یې تمویلوي او پر دیو سفارتونو کې یې برنامې جوړیږي، په کومه پیښه او فعالیت کې چې دافغان ولس غرونه غرونه ګټې نغښتې وي، خو دیرغلګرو ګټه پکې نه وي، همدا رسنۍ خبرې او تحلیلي پوښښ نه ورکوي. دپرلتونو په اړه اکثرو رسنیو خورا تاوده- تاوده راپورونه ورکړل، ګنو رسنیو له پرلتیانو سره مرکې وکړې، دګوتو په شمار او لسګونو پرلتیانو پرلت ته یې تر ضرورت او اهمیت ډیر خبرې پوښښ ورکړ، دا ولې؟ تر کاسې لاندې خو به نیمه کاسه نه وي؟!.

داکټرو پرلتونو مشرې دهغو کسانو په لاس کې ده، چې حکومتي دندې یې ترسره کړې او ځیني یې لاهم پر حکومتي وظیفو او پردیو سفارتونو کې پر دندو موظف دي.

پرلت که دجنرال نیکولسن تولنیز فشار؟!

دروانو پرلتونو له اصلي موخو څخه افغانستان کې د یرغلګرو عمومي قوماندان جنرال نیکولسن پرده پورته کړه، نوموړي کندهار کې په ډاګه وویل چې پرلتونه یې پر طالبانو د ټولنیز فشار په توګه ایجاد کړي دي، نیکولسن چې دګډ حکومت یو شمېر وزیران، دکندهار والي، امنیه قوماندان او دولایتي شوری غړي پرې راټول وو، دخبرو په مهال وویل چې پر طالبانو یې پوځي، سیاسي او ټولنیز فشارونه وارد کړي او دوام به ورکوي، نیکولسن نور هم تفصیل ته ولاړ او په خورا صراحت او ویاړ سره یې کندهار او هلمند کې پرلتونه پر طالبانو د ټولنیز فشار دبېلګو او لاسته راوړنو په توګه یاد کړل.

http: //www. bbc. com/pashto/afghanistan- ٤٣٧٨٤٤٢٦

پر پرلتونو داولې ورځې د اشغالګرو او حکومت دملاتړ شک و، خو دجنرال نیکولسن څرګندونو د پرلتیانو په اړه شکونه په یقین بدل کړل. کټ مټ میاشت وړاندې جنرال نیکولسن اندونیزیا کې دافغانستان په اړه دعلماوو غونډې ته په اشاره وویل چې پر طالبانو به مذهبي فشار هم وکاروي. اشغالګر ودطالبانو (ولسي- جهادي مقاومت) پر ضد ټولې ممکنه هڅې وکړې او په راتلونکي کې هم د طالبانو پر ضد له هیڅ راز دسیسې، فشار، وحشت او تذویر څخه مخ نه اړوي.

دجنرال نیکولسن ټولنیز فشار (پرلتونه) دجنرال پیټریوس داربکیزم په څېر داشغال د بقا او دجهادي مقاومت دځپلو په موخه ترتیب شوې پروژې دي. کوم کسان چې له یرغلګرو سره دځپلې خاوري اشغال کې مرسته کوي، اوس لا وخت تېر نه دی، پر خپلو کړنو باید پښېمانه شي او دیرغلګرو له دام څخه ځانونه خلاص کړي، له خپل دین او وطن سره ژمنتیاثابته کړي. هغه کسان چې یرغلګرو استخدام کړي نه دي، د سولې ارمان د پرلتیانو سره یو ځای کړي، د جنرال نیکولسن خبرې بایدذړه په غوږو واوري، سم دلاسه د پرلتونو سره خدای پاماني وکړي او په لاشعوري توګه دیرغلګرو ددسیسو ښکار نه شي.

په سوریه کې

د امریکا او روسیې نیابتي کشمکش

#خالد غورځنګ

دنړۍ په نقشه کې دوه هیوادو زمکنی مساحت ترټولو زیات پراخ ښکاري، په دغو دوه هېوادو کې لومړی روس دی او دوهم چین دی، په زړه پورې داده چې دغه دواړه هېوادونه سره ګاونډیان هم او دواړه سره دوستان او ملګري هم، چا به کله نه وي اوریدلي چې د روسیې لخوا چین ته ګواښ شوی او یا چین روسیې ته کوم اخطار ورکړی وي

یومهال شوروي اتحاد سپر پاور و، هغه غوښتل ځان تر ګرمو اوبو ورسوي، ددې لپاره په مخ کې پراته ګڼ هېوادونه یې اشغال کړل، کله چې خپل هدف ته درسیدو لپاره یې په افغانستان یرغل وکړ دلته نه یوازې دتاریخي او تریخ شکست سره مخ شو بلکې په ټو ټوټو او برخو وویشل شو، داخبره هرچیرې تقریباً دهرسړي له خولې اورو، چې دشوروي اتحاد په ړنګولو کې کلیدي کردار دامریکا وو او په میډیا باندې هم داخبره زوتیږي چې امریکا مجاهدین وروزل او هغوی ته یې مرستې او وسلې ورکړې او دشوروي اتحاد په ضد یې وجنګول

ښکاره ده دایو جلا بحث دی چې امریکا کله او دڅه لپاره مجاهدینو سره مرستې کولې؟ او هغې ددې موقع نه دځان دګټې لپاره کومه ګټه او فایده پورته کوله؟ حال داچې هغه مهال چې شوروي ګرمو اوبوته دځان رسولو هوډ درلود نړۍ دامریکا په ګډون هیڅ هېواد هم د شوروي له ډاره سر پورته کولی نشو، دشوروي اتحاد له رعب او دبدبې امریکایانو ته به خوب هم نه ورته، خو کله چې هغوی ولیدل چې باتور افغان قوم په تش لاس دشوروي اتحاد تمام غرور ننګوي او په وړاندې یې سینې سپر نیولې نو په بدن کې یې ساه وچلیده او دمجاهدینو ملاتړیې وکړ

ددې لپاره چې شوروي کمزوری کړي دافغاني مجاهدینو ترشاه ودریده مجاهدین چې داسلام دسرلوړۍ او دخپل هېواد دازادۍ لپاره جنګیدل امریکا ضرف ددي لپاره دهغوی ملاتړ وکړ چې شوروي ماتې او خوړې

ځکه روسیې او چین دجلا، جلا نظریو له لارې په نړۍ کې دخپلې برترۍ جال غوړولی و او په مقابل کې یې امریکا هم ورته پلان او اراده لرله چې په ګرده نړۍ کې دخپلو پوځي هډو دجال په غوړولو سره یې غوښتل دنړۍ خپلواک هېوادونه او خلک دخپل تاثیر او رعب لاندې کړي او په ټوله کې دا دریواړه هېوادونه په یوبل باندې دبري ترلاسه کولو لپاره سره په سیالۍ بوخت ول او ترمنځویې کوچني هېوادونه او ولسونه ضرور متضرر شول لکه ایشیا او دافریقا ځیني هېوادونه...

نن ورځ چې په سوریه کې کوم څه روان دي ترشاه یې دریواړه هیوادونه دي چې دیوبل په ضد ولاړدي ځکه بشارلاسد چې دروسیې دمهمو متحدینو څخه دی دشام په جنګ کې دریواړه په څرګنده په مقابله کې ښکیل

دي امریکا په شام کې دداعش او ځینو
نورو ډلو ملاتړ کوي او په مقابل کې یې
روسیه ده هغه دشام دحکومت ملاتړ
کوي اوس دغه دپوځي ډګر ترڅنګ
په سیاسي او دیپلوماتیک ډګر
کې هم پیل شوی چې په
دي لړ کې د دواړو
لوریو ایتلافي هېوادونو
هم ددغو سیالیو ډګر
ته دانګلي

څه موده وړاندې
بریتانیې دیو روسي
جاسوس دوژلو په سر
دبریتانیې او روسیې ترمنځ اړیکي
خراب شوي روسیې چې دبرتانیې په
ځواب کې څه وکړل او دبرتانیې
دیپلوماټان یې دجاسوسۍ په تو ر
ونیول ددي په غبر ګون کې امریکا
روسیې ته سخت پیغام ولیږه او له
خپل هېواد څخه یې دروسیې
دیپلوماټانو دویستلو اعلان وکړ نو په
دي توګه امریکا دبرتانیې په ملاتړ
دروسیې په مقابل کې ودریده دا
معامله لا سړه شوې نه وه چې دامریکا
ایتلافي ملګري هېواد فرانس هم
دروسیې دیپلوماټانو شړلو اعلان وکړ

دکتنکو په اند: په دې نیابتي
جنګ کې ګټه یوازي او یوازي لویو
هېوادونو ته رسي نه کوچینو هېوادو
ته، کمزورو او کوچنیو هېوادو ته سیوا
ددینه چې نقصان به ورته رسي او بل
به هیڅ هم ترلاسه نکړي، دا مهال
څوک نشي ویلی چې دنړۍ ورو هېوادو
ته دا نده پکار چې هغوی ځانونه



دامریکا او روسیې ترمنځ شکېل کړي
خو پوهېږو چې دا دهغوی کمزوري او
مجبوري ده ولې که هر کوم هېواد
ورسره ملګرتیا ته زړه ښه نکړي همدا
هېوادونه هغه لپاره په نړیوال ډګر کې
مشکلات پیدا کوي دنا امنۍ کندې ته
یې ټېل وهي، ددې مثالونه بوسنیا،
اندونیزیا، برما او نور دي

اوس مهال امریکا جواري
بایلونکي ته ورته ده او په افغانستان
کې یې جنګ بایللی دخپل ځان د
ژغورنې هلې ځلې کوي

په سیمه کې نوي جنجالونه
جوړول غواړي دافغانستان دننه
دیرلتوالو په نامه یې هڅې پیل کړي او
په دې سره دخپل بري لپاره چانسونه
ګوري بل لورته په نړیواله سطحه هم
امریکا غواړي چې ځینې داسې
جریانونه رامنځته کړي چې په سبب
یې دخلکو پام دامریکا د شکست نه په
بله واوړوي مثلاً: امریکا چې په
سوریه کې دسعودي
عربستان سره ملګرې
ده او دهغه نه ملاتړ
کوي هدف یې په
سعودي عربستان
فشار راوستل دي
چې هغه اسرایل
غاصب رژیم تسلیم
کړي او ورسره
دیپلوماتیک اړیکي پیل کړي،
چې دا کار هم دنیابتي جګړې پایله ده
ځکه په شام کې امریکا هغه مهال
دسعودي ملاتړ کوي چې کله سعودي
په فلسطین کې دامریکا دریځ او مني
او اسراییل ته مشروعیت او بښي، یو
وخت و چې شوروي اتحاد ګرمو اوبو
ته درسیدو لپاره جنګ ته اړ و خو اوس
مخامخ جنګ ته ضرورت نشته بلکې
دنیابتي جنګونو وخت دی او یوازې
نیابتي جنګ دهر مرض دوا بلل کېږي
خو څنګه چې شوروي دګرمو په ارمان
کې په ټوټو او برخو وویشل شو داسې
به امریکا هم دخپلو پوځي هډوو جال
غځولو هوډ کې دتاریخي او شکست
سره مخ شي او هم په نړیواله سطحه به
یې رول او وقار ته درنه ضربه ورسي.

د عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ ٱللَّهُ

دخلافت نیکمرغه دور

سجاد ننګیالی

شپې ناوخته یو سړی دامیر المؤمنین دکور دروازه ټکوي، ورته دنیمې نړۍ واکمن بیرون راوت سړي داشرفیو یوه ډکه کڅوړه امیر المؤمنین ته وړاندې کړه او عرض کوي امیر المؤمنین! له سل میله لرې یوکلي څخه راغلی یم او د زکات دا پیسې ستا خدمت ته وړاندې کوم! امیر المؤمنین ور ته په افسوس سره وویل: کاشکې! هلته یا لارکې دې ویشلې وای، ماته د راوړو کوم ضرورت و؟ هغه عرض وکړ: امیر المؤمنین! ما په ټوله لار کې دا اواز کاوه خلکو! ماسره دزکات مال دی که څو ک ضرورت لري هغوی دې راشي چې ورېې کړم! لیکن په سل میله لار کې یو محتاج تن په لاس رانغی په دې وجه ما تاته راوړو

داد امیر المؤمنین عمر بن عبد العزیز دخلافت بختور او نیکمرغه دور و، چې په هر لور داسې امن و امان او خوشالې وه چې چاته دزکات اخستو ضرورت نه و، او دسل میله لرې څخه یوتن درومي او په لاره کې ناري وهي! راشئ ماسره دزکات مال دی که هر چاته یې ضرورت وي هغه دې یوسي، هغه سړی دکوم ډار پرته سفر کوي نه ورته زکات اخستونکی په لاس ورځي او نه کوم لاره وهونکی... مجبوریږي دوخت امیر المؤمنین ته ورځي او هغه ته یې سپاري څو پخپلو بې وزلو او غریبو رعایاوو وویشي.

دپام وړ داده چې دنیمې نړۍ واکمن په کور پهره کونکي نشته، ګام په ګام پوښتنې ګرویږنې نشته او په نیمه شپه کې یوتن نیغ دامیر المؤمنین کورته ځي هغه ته دروازه ور ټکوي، داچې بل څوک ورته راوځي پخپله هغه (دوخت خلیفه) ورته راوځي او ددې په ځای چې دشپې ناوخت ورتلو په وجه هغه و رټي ورته په خوږه لهجه کې هرکلی وایي....

حضرت عمر بن عبد العزیز دبنو امیه وو اتم خلیفه و، چې دسلیمان بن عبد الملک وروسته خلیفه شو، څوک چې دخپل عمده، پاکېزه او باتقوا کردار او سیرت په وجه دتاریخ پوهانو په اند: په راشدینو خلفاوو کې شماردی نوموړی دهجرت په ٦١ کال مدینه منوره کې زیږیدلی و، دمور لخوایې دنسب سلسه امیر المؤمنین حضرت عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ ته رسي

دروضې مبارکې تر خوا اوسیده، په دې وجه کوچنیوالي کې یې عظیم الشان قرآن حفظ کړی و او دعبد الله بن عمر رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ او انس بن مالک رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په ګډون دیوشمیر صحابه وو او تابعینوڅخه د زده کړو حاصلولو ویاړ هم په برخه شوی و

سربیره په دې چې نازولی او په یوه شتمنه کورنۍ کې رالوی و دکبیره ګناهونو څخه مجتنب او په زیات شوق و ذوق سره عبادت کول یې خاص وصف و او شاید په همدې وجه وروسته دمدینې منورې دوالي په حیث په دنده او ګومارل شو

سلیمان بن عبد الملک حضرت عمر بن عبد العزیز خپل ځای ناستی مقرر کړ ی و خو نوموړی خبر نه و، دخلیفه دوفات وروسته لومړی په پاکت کې دبند وصیت لیک په اړه دخلافت د چارواکو څخه بیعت واخستل شو اوبیا پاکت پرانیستل شو، پکې دعمربن عبد العزیز نوم دخلیفه په توګه لیکلی و، په دې پریکړه دخلافت اکثرو غړو ناخوښې او بشوده لیکن دخلافت ذیصلاح او وسلوال په لاس څواک چا ته دبغاوت

اجازه ورنکړه او له ټولو یې بیعت واخیست په دې توګه عمربن عبد العزیز خلیفه شو

دخلیفه په حیث دغوره کیدو وروسته نوموړي په مسجد کې لنډه وینا وکړه خلکو ته یې وویل: که تاسو غواړئ زما په ځای بل شخص خپل خلیفه مقرر کړئ زه به خوښ شم! لیکن دخلکو اکثریت په خوشالۍ سره نوموړی دخلیفه په حیث قبول کړ نوموړي پخپله لومړۍ خطبه کې داسلام دلومړي خلیفه حضرت ابو بکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اتباع کې څه وویل هغه په زرینو کرښو کې په لیکلو ارزي:

د نوموړی دخلیفه په حیث دغوره کیدو وروسته یومخ بدل شو هغه ښکلا، نفاست او غوره لباس چې په تن کول یې خاصیت و... په درویشانه لباس بدل شو، دسورلۍ لپاره ورته داعلی نسل اسونه راوستل شول نوموړي دځان لپاره قچر غوره کړ، دپخوانو خلفاوو دوخت دود و چې هر چیرې به خلیفه په سفر روان شو تري مخکې به یو بیرغ په لاس شخص روان و، عمر بن عبدلعزیز دځان لپاره دا تشریفات لغوه کړل ویلې: زه یو ادنی مسلمان یم هیڅکله داسې کومې ځانګړتیا ته حاجت نشته

دبنوامیه کورنۍ غړي دسلیمان بن عبد الملک میراث ویشلو ته په تمه وو خو عمربن عبد العزیز په یو فرمان دهغه ټول میراث بیت المال ته او سپاره

نوموړي خپل ځان په پوره توګه دشریعت تابع کړ او دبنو امیه خلفاوو په ځای یې دراشدینو خلفاوو دسیرت پیروي پیل کړه دخلیفه کیدو وروسته یې د خپلې میرمنې ټولې ګاڼې او زیورات په بیت المال کې جمع کړل، په نیمه نړۍ دواکمنۍ باوجود کور کې خادمه نه درلوده بلکې ټول خدمت دهغه میرمنې (فاطمې) خپله کاوه، څوک چې دخلیفه عبد الملک بن مروان لور، او د دوه خلفاوو ولید بن عبد الملک او سلیمان بن عبد الملک خور وه

په دې علاوه یې په بیت المال کې دخلیفه د ذات لپاره مداخله لغوه کړه، دخلکو په تحفو او عطیو یې بندیز ولګاوه، شاهي کورنۍ غړو ته دبیت المال څخه معاشونه ورکول یې بند کړل چې له دې امله د شاهي کورنۍ خلک سخت ناراض شول

دعمربن عبد العزیز تر دورې دنویومسلمان شویو نه به جزیه په دې دلیل اخستل کیده چې ځیني، ځیني نامسلمانود جزیې نه ځان خلاصولو لپاره به مسلمانان څرګندول خو حضرت عمر بن عبد العزیز رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دغه ډول جزیه اخستو بندیز ولګاوه او له امله یې په بیت المال کې کمښت راغی هغه په مقابل کې سرکاري لګښتونه راکم کړل او دبوديجې کسر یې جبیره کړ

په دې سره خلکو کې خوشالې راغله دیو کال تیریدو وروسته دخلافت تر واک لاندې خلک دومره خوشال او سوکال شول چې دزکات او صدقات مالونو اخستونکي چاته په لاس نه ورتلل، عمربن عبد العزیز دخلکو دفلاح او بهبود لپاره ځای په ځای سرایونه جوړ کړل او د مسافرو لپاره تر دوه ورځو پورې وړیا ډوډۍ ورکول پیل کړل ددې غوره سیرت او ښو اخلاقو پایلې ترلري لري و غځیدې او په لوی شمیر خلک په اسلام مشرف شول په سند کې دراج داهر ځوی (جی سنګه) مسلمان شو، تدوین تحریث حدیث باندې کار پیل شو، دتدوین حدیث کار بشپړول چې یوه لویه کارنامه ده دنوموړي په حکم پیل شوه دوخت علماوو په نوم یې یو لیک ولیکه: زه ګورم اسناد اوړدیږي او دحدیثو علم مړ و ای کیږي نو تاسو احادیث ولیکئ! دامیر المؤمنین ددې حکم وروسته داحادیثو په لیکلو کار پیل شو کوم چې وروسته داسلامي شریعت دقانون لپاره اساس او ګرځیده

الله تعالی دې دنوموړی په قبر رحمتونه نازل کړي او په ډیر لنډ وخت کې یې داسلام او مسلمانانو غوره خدمتونه وکړل .

پرلت ته په پلتړۍ ناست پکي خطا دي

ص صارم

دپرلت اصطلاح زمونږ موجدو اديبانو هغه وخت په مطبوعاتوکې رايج کړه، چې دلرې پښتونخوا په ځينو برخوکې احتجاجي ناستې کېدلې، احتجاجي ناستې يا غونډې چې عموماً دواکمنو په یوشمېر کړنو او حکمونو دنيوکو په غبرګون کې کيږي٥ په پرلت کې دهمدغې معنا دراوړلو کوښښ شوی اوله هماغې ورځې مې په ذهن کې راګرځي چې شايد دغه کلمه به يې له ځمکې سره دورنونو له لګېدلې ناستې څخه اخيستې وي چې ډېر خلک ورته پلتړۍ يا پلتۍ وايي .

خو په هيواد کې دبل مقصد لپاره ترسره کيږي اوبيخي معکوسه معنا ترې غواړي، دواکمنو او زورواکو پرځای له هغه چا غوښتنې کوي چې دوخت جابر يې دځمکې په تل کې بولي او دځمکې په سر ورته په ژوند نه دي قائل .

داچې اوږده انقلاب زمونږ خلک اوس دومره حساس کړي چې هرڅومره پټې اوباريکې معاملې صورت نيسي، سرغنه يې معلوموي او هيڅ هم ترې پټ نه پاتي کيږي، همدا شان يې دناستو پرلتونوڅرک لګولی او ډېروته اوس معلومه شوې چې پرطالبانو دفشار لپاره مطلقاً دملي امنيت پروژه ده ، ځکه ډېرې داسې پوښتنې شته چې ترسره کېدونکي پرلتونه ترسوال لاندې راولي .

په دې اړه مطبوعاتو ډېرڅه رابرسېره کړل اوډېرې پوښتنې يې ورته متوجه کړې : ولې داشغال په وړاندې پټه خوله دي ؟! ولې يې يوه نيوکه هم پرحکومت نه شته ؟! حکومتي چارواکي دڅه لپاره پکې مقيد ګډون کوي ؟ په ولسي۔ خلکو دحکومت او امريکايانو بمبار ولې نه پکې غندل کيږي ؟! داربکيانو له ظلمه اوحکومت ضد دولسي۔ خلکو اعتراضيه پرلتونه ولې له پامه غورځول شوي و او دغه مخصوصو پرلتونو ته مطبوعاتي هوا ورکول کيږي ؟! تردې چې اوس خو داهم ورپسې رابرسېره شوه چې دپرلتوالو او ملي امنيت دمشر (ستانيزي) ترمنځ هم ديوه نفر پرسر هره شپه د زرو ۱۰۰۰ افغانيو په نه ورکړه شخه شولانګه رامنځته شوه چې درازد افشاکولو ګوانښ يې هم ورته کړی و. دغه راز داپوښتنه هم کيږي چې طالبانو خو له سولې انکار نه دی کړی، خو امريکايانو ويلي دي چې له طالبانو سره به سوله نه کيږي، نو ولې له

امریکایانو دا غوښتنه نه کیږي چې طالبان له تاسو سره سوله کوي تاسو یې ولې نه ورسره کوئ ؟! او که حکومت سوله ورسره وکړي هم، دامریکایانو دنه مداخلې تضمین څوک کولای شي ؟

ترڅو چې حقایقوته تسلیم نه شو او واقعیتونه ونه منو، په کاره بار ترمنزله نه شو رسېدلای ، په دې کې هیڅوک شک نه کوي چې هیواد اشـــغال دی اودکابــــل اداره دامریکایانو له امره وتلې نه ده، دنړۍ نړدې ټول ولسونه په همدې نظـــر دي او افغانســـتان اوس مستعمره هیواد بولي، دولسونو په سطحه ترشهادت لوی سند او دلیل بل څه وي ؟ که دطالبانو جنګ اومبارزه د قدرت لپاره وای° ډېر ژر به دوزارتونو او چوکیو دتضمین په شرط راښکته شوي وو او له مبارزې به یې لاس اخیستی و، هغوی په واز کومې نارې وهي چې زمونږ جنګ د خپلواکۍ لپاره دی، هیواد مو اشغال دی ، او همدا دولس غږ هم دی، افغان مسلمان غیور ولس هیڅکله په استعمار او غلامی نه شي راضي کېدلای، همدا دلیل دی چې له هرډول بمباریو، لوږو، تندو او کړاوونو سره سره بیا هم له طالبه لاس نه اخلي او اوږه په اوږه ورسره ولاړ دی .

ددې ولس داغفال او خطاایستلو لپاره ډېرې حیلې او وسیلې وکارول شوې، دټولو بیه یې پرې کړه او دسر په قربانیو ترې راووتل، نور نه خطاکیږي، نږدې دوه لسیزې وشوې چې همدا لوبه ورسره روانه ده او دومره اوږده موده دهرې تجربې او ازموینې لپاره بس ده، چې دسختو سختواو پېچلو لوبو او دسیسو له لارې ونه شوه، له پاسته او نرم " پرلته" خو بیخي نه شي کېدلی، نو ځکه خو وایو چې پرلت ته په پلترۍ ناستې کړۍ پکې خطا دي، له سره دې غور پرې وکړي، که دقدرت او غولوونکې امریکایي حمایت نه په تجریددغه ډول کړنوته دقیق متوجه شي، پخپله به دحقایقومنلوته تیارشي او حقیقت به ورته څرګند شي .

* * *

د اسلام او مغربیت ترمنځ کشمکش

د اسلامي علومو زوال او دعلماوو فکري اضمحلال

داسلامي نړۍ ثقه مفکر عالم مولانا سید ابو الحسن علی ندوی

ژباړه: ابوظهیر

داسلامي نړۍ نویو زده کړه یالو ځوانانو او دهغو خلکو (دچا په لاسو کې چې دحکومت او سیاست واګې دي) په بې لارۍ، ناروغه تفکر او له دین څخه د مایوسۍ یابیزارۍ سبب ترډېره هغه جمود او اضمحلال دی کوم چې داوږدې مودې راهیسې داسلامي علومو پر مرکزونو او استازوطاري دی، ددې جمود او اضمحلال پروجه دا علوم چې په حقیقت کې دیرمختیا او ارتقاء له سترو صلاحیتونوبرخمن دي خپل صلاحیت وافادیت او دنوی ژواندانه درهنمائي قابلیت هغه روڼ ثبوت یې وړاندې نکړ، کوم ته چې دتنازع للبقاء په دې دور کې اړتیا ده، داسلامي علومو پخوانی تعلیمي نصاب په هغه زمانه کې پرلپسې بدلیده او دژوندانه سره یوځای روان و، په کومه کې چې په زیات څنډ سره انقلابونه رامنځته کیدل او په نوعیت کې کوم اساسي توپیر نه لاره، هغه انقلابونه داشخاصو، واکمنو او کورنیو دبدلون نوم به و؛ خو ددې باوجود دنصاب جوړونکو او په اسلامي نړۍ کې دعلمي او تعلیمي تحریک رهبرانو پرلپسې پخپل ذهانت سره دحقیقت پالنې ثبوتونه وړاندې کول او پکې له بدلون او زیاتونو یې کار اخیسته؛ لیکن کله چې دنولسمې پیړۍ زمانه راغله په کومه کې چې دکورنیو واکمن پاتې نشول بلکې دتهذیبونو، افکارو او اقدارو له پلوه انقلابونه رامنځته شول خو دانقلابونو ډیروالی او شدت (دواړه) د حد څخه متجاوز شول؛ تعلیمي نصاب راغی او پر یو پړاو داسې تم شوچې دهر تغیر او زیاتونې یې انکا ریې وکړ، په مضامینو، مقررو کتابو، دتعلیم په اسلوب اوپه هرڅه کې یې پر هغه روش اصرار وکړ کوم چې هندوستان کې د درس نظامي دمؤسس (ملا نظام الدین لکنوی (۱۱۶۱هـق) منځنې ختیځ کې داتلسمې پیړۍ ازهرعلماوو دزمانې راهیسې جوړ و، د فقهې او اسلامي قانون پراختیا، زیاتونو او هغو نویو مسایلو (کوم چې نویو اکتشافاتو، نویو اقتصادیاتو او نویو تنظیماتو پیدا کړي وو) کې داجتهاد نه کار اخستل ترک کړ، اجتهاد چې د مهمو نازکو او نهایي ضروري شرائطو (چې تفصیل یې داصولِ فقه په کتابو کې شته) ته په پام په هرصورت دعلماوو فریضه دی او دبدلیدونکې زمانې درهنمائې زریعه دی عملاً معطل او بند کړای شو او دیو معاصر عرب عالم (استاذ احمد

الزرقاء، دشام دقانون پخوانی وزیـر او دعـمان اسـلامي جامعـه کـې دفقهې استاذ) په بليغُ الفاظو: دعلماوو په اند (شرعاً) دا دوازه پرانیستل ممنـوع نـه و، خو په هغه کیلې چې بیرته کیده دڅه وخت نه هغه ورکه وه

داسلامي علومـو، قـرآني معـارفو او اسـلامي شريعـت لپـاره چـې دکـوم څواکمن، مؤثر او زړه منونکي تعبیر او تشریح ته اړتیاوه هغه که یومخ نایاب نه و کمیاب ضرور و، دغسې علـماء خـال، خـال لیـدل کیـدل چـې د دینـي حقایقو ابدیت، دژوند صلاحیت او داسلامي برترۍ نقش یـې دځـوان کهـول په زړه او مغزو کښلی وای او پخپلو څواکمنو علمي نقدونو، فني تحلیلونو او تجزیو سره یې دنوي تهذیب طلسمونه نړولي وای

داسلامي قانون دتدوین نوې اړتیا!

په دې کې شک نشته چې داسلامي نړۍ په مختلفو برخـو کـې داسـې ممتـاز دینـي شخصـیتونه پیداشـوي چـې ځینـي سـترې حلقـې یـې پخپلـو څواکمنو اوپه زړه پوري شخصیتونو اغیزمنې کړې او یوه لویـه طبقـه یـې لـه ذهني ارتداده ژغورلې، هم یې په ځینو برخو کې د فقې او اسلامي مسائلو په اړه تر یو څه ځایه انفرادي کار کړی او فقه (اسلامي قانون) یې په نوي لبـاس کې وړاندي کړی (دمثال په ډول: داستاذ مصطفی زرقـاء دقـدر وړ ,,کتـاب المـدخل الفقهـي العـام'' د ډاکټـر مصـطفی السـباعی کتـاب ,, الاحـوال الشخصیة'' [۱-۲-۳] په مصر کې شیخ ابـو زهـره هـم ځینـي مسـائل پـه نویـو مسائلو لیکلي) خو په دې سربیره په اسلامي نړۍ کې دیو څواکمن او نړیوال تحریک کمښت پرلپسې محسوسیږي کوم چې د ځوان نسل رشته داسلامي علومو له زخیرې سره او ترې، په اسلامي علومو کې یې نوی روح پوکړی وای څو داحقیقت یې ثابت کړی وای چې اسلامي قانون او فقه یو پراخ او مخ پـر ودې قانون دی او په داسې ابدي اصـولو ولاړدې چـې هیڅکلـه زوړوالـی نـه قبلوي بلکې دژوندانه د تغیراتو او پرمختیـاوو سره دیوځـای تـګ د وړتیـا نـه برخمن دی او په شتون کې یې دهیڅ وضعي او انساني قـانون پنـاه نیولـو تـه اړتیـا نشـته همـدا د اوسـني عصرـ هغـه اړیـن مسـؤلیت دی چـې اسـلامي هېوادونه اونني اسلامي ټولنـه د ذهنـي او ټـولنیز ارتـداد وژغـورل شي، څـو دغرب پالنې او جدیدیت روانه تونده څپه کیني، کومـه چـې اوس مهـال پـر اسلامي نړۍ کې پخپلـه ټولـه مستۍ او طغیـانۍ سره بهیـږي علامـه اقبـال ددې کار داړتیا، اهمیت او اوږ دمهالو پایلو په اړه څومره ښه لیکلي:

زما عقیده ده چې کوم شـخص د اوسنۍ (حال) زمانې دقانون پـه اصـولو (jurisprudenceجورس پروډن) باندې یوه تنقیدې کتنه وکړې دقراني احکامو ابـدیت بـه ثابـت کـړي، هـم هغـه بـه داسـلام مجـدد او دبنـي نـوع انسـان ترټولو ستر خادم وي، پـه نیـږدې ټولـو هېوادو کې اوس مسـلمانان یـا دخپلـې ازادۍ لپاره په جنګ لګیـادي اویـا پـه اسلامي قوانینـو کـې غـور کـوي غـرض داچې دا وخت دعمـلي کـار دی څکـه زما په ناقصه رایه اسلامي مـذهب اوس دزمانې په تله تلـل کیـږي او شـاید پـه اسلامي تاریخ کې ددینه وړاندې داسې وخت نه وي راغلی (اقبـال نامـه حصـه اول ۵۰-۵۱)

داسـلامي فقهـې نـوی تـدوین او توسـیع دکـوم نـوي قـانون داسـاس ایښودو مرداف ندی چې دنویو اصـولو وضع کولو او دعدم نه وجود تـه دکـوم څیز راوړوته اړتیـا ولـري، اسـلامي فقـه دقـانون هغـه لویـه پانګـه او دانسـاني ذهانت او زیار هغه عجیبـه او نـا اشـنا بیلګه ده چې مثال یې دنړۍ په قانوني ذخیرو کې مندل مشکل دی دا دژونـد په ډیره لویه برخه او دپخوانی عصر په اکثرو حالاتو باندې حـاوي دی، یـواځې دومـره اړتیـا ده چـې دهغـو حکیمانـه اصولو او کلیاتو نه (کـوم چـې سرار پـر قرآن او حدیث مبني دي) دنویو جزیاتو

استنباط وکړای شي او تري داوسني ژوند داړتیاوو او بدلونو په اړه رهنمائي ترلاسه شي، ددې فقهې ذخیرې وسعت او دهغې دقانوني قدرو قیمت داندازې معلومولو لپاره دمشهور شامي فاضل او قانون پوه مصطفى احمد الزرقاء دکتاب " المدخلُ الفقهيُ العام اِلى الحقوق المدنية" له مقدمې يو اقتباس را اخلو کوم چې نوموړي دپاریس پوهنتون داسلامي قانون په اوونیز سیمنار کې داسلامي فقهې په اړه دغربي قانونپوهانو دتاثراتو او نظریو وړاندې کولو په ضمن کې وړاندې کړی نوموړی وایي:

دمماثلو قوانینو نړیواله اکاډمۍ کې د ختیځ قانون څانګې دپارس پوهنتون دقانون پوهنې په پوهنځي کې چې د۱۹۵۱زکال دجولایې په ۲مه داسلامي فقهې اوونیزه ولمانځل شوه او په اړه یې یو کانفرانس جوړ شوی و، د یاد کانفرانس مشرې دپارس پوهنتون داسلامی فقهې فروفیسرموسیو (millot) کوله اوپکې دعربي او غیر عربي هېوادو دقانون پوهنځیو استاذانو دجامعه ازهر نماینده ګانو عربي او فرانسوي قانون پوهانو، همدا راز مستشرقینو هم په لوی شمیر رابلل شوي وو دمصر۔ څخه څلورتنه استازي غوره شوي وو دوه تنه له (فواد جامعه) نه یود (جامعه ابراهیم) د حقوقو پوهنځي رئیس او دجامعه ازهر څخه هیئة کبار العلماء (دازهر هغه لویه شوری ده چې په مهمو دیني او علمي مسائلو کې پریکړې کوي) یو تن استازی ددمشق پوهنتون دحقوقو پوهنځي له لوري ما او ډاکتر معروف الدوليبي استازیتوب وکړ استازو د ټولو دیواني، فوجداري او مالي قوانینو په پنځو عنوانو بحثونه وکړل کوم چې داکاډمی لخوا له وړاندي څخه په لاندي ډول تعین شوي وو:

(۱) دملکیت اثبات (۲) دعامه ګټو لپاره استملاک (دخلکو په ملکیتونو قبضه) (۳) دجرم ذمه داري (۴) داجتهادي فکري مذاهبو پر یوبل اثر (۵) دسود په باره کې داسلام دریځ

داټول لیکچر ونه په فرانسوي کې تیار شوی وو او دهرې موضوع لپاره یوه ورځ ټاکلې وه دلیکچر وروسته ویناکونکي او دکانفرانس استازو ترمنځ مباحثه کیده، چې دموضوع او ضرورت له پلوه به کله اوږده هم شوه او کله به لنډه، خو لنډیز یې قلمبند کیده

ددغه ډول مباحثې په منځ کې یوتن غړی چې دفارس دوکیلانو دټولنې مشر و، پورته شو ویلي... زما په پوهه کې دا نه راځي چې په دې عمومي خیال کې چې اسلامي فقه جامده ده او پکې دنوې ټولنې داړتیاوو پوره کولو صلاحیت نشته او ددې کانفرانس دویناوو او مباحثو نه داصولو شواهدو په اساس بلکل برعکس چې کومه نتیجه را وزي ددې دواړو په منځ کې به زه څنګه مطابقت پیدا کړم؟

دکانفرانس په پای کې ټولو استازو بالاجماع یو پریکړه لیک لاسلیک کړ چې دهغه ژباړه په لاندې ډول ده:

ددې کانفرانس ګډونوال دې بحثونو ته په کتو کوم چې داسلامي فقهې په لړ کې وړاندې شول او ددې بحثونو په نتیجه کې داخبرې په ښه توګه روښانه شوې چې....

(الف) له کوم شک او شبهې پرته اسلامي فقه يو ځانګړی (قانوني و دستوري) ارزښت لري

(ب) په دې ستره قانوني پانګه کې دفقهي مذهبونو د اختلافونو، معلوماتو، مدلولاتو یوه لویه خزانه شته کومه چې داعتراف او تحسین وړده او دهمدې په وجه اسلامي فقه ددې قابله ده چې دنوي ژواندانه اړتیاوې او غوښتنې پوره کړي

نوموړي خپله دا ارزو هم ښکاره کړه چې هر کال دې دا اوونۍ لمانځل کېږي او دکانفرانس دفتر دې ددې ذمه دار او ګرځول شي چې دهغو موضاعاتو یو فهرست تیاروي کوم چې په راتلونکې ناسته کې دبحث او مذاکرې اساس ګرځول ضروري وي، دکوم اهمیت چې دتیرو بحثونو څخه جوتیږي

دکانفرانس استازي هیله کوي چې داسلامي فقهې لپاره د یو داسې کتاب تیارولو لپاره دي یوه داسې کمیټه جوړه شې دکومې په زریعه چې دقانون دکتابونو څخه استفاده او مراجعت کول اسان شي او هغه داسې فقهې دائرة المعارف او ګرځي چې په کې داسلامي قانون تمام نوي معلومات په نوي طرزسره ترتیب کړای شي

دامید رڼا

نوې لوستې ډله چې دخپل مخصوص عصري تربیت او نویو صلاحیتونو پر بناء دقیادت او رهنمائي له منصب څخه برخمنه ده دخپلو ټولو کمزوریو اومزاجونو سربیره کوم چې دغربي زده کړو او روزنې پایله دي دحق قبلولو له صلاحیت او استعداد څخه محروم ندي، بلکې په عامه توګه هغوی دپریکړې کولو په ځواک او دکار کولو په وړتیا او حقیقت پالنه کې دځینو نورو ډلو څخه ممتاز ه دي، ددغې ډلې ډیری وګروته چې هر کله یوه خبره صحیح او حق ښکاره شي په پوره جوش او ولوله دهغې په تبلیغ او پراختیا کې ګډون کوي په دې ډله کې لوی شمیر داسې خلک شته چې هغوی داسلام سره ژور اړیکي او رښتینی عشق لري ددې ډلې له منځه داسلام ځیني لوی صحیح الخیال او عمیق النظر مفکران او داسلام شیدایان پیدا شوي، ډیرو دینې دعوتونو او اسلامي تحریکونوته دهمدې ډلې نه سرځارونکي سپاهیان په لاس ورغلي، په افغانستان او منځني ختیځ کې علامه سید جمال الدین افغاني، شیخ محمدعبده او شیخ حسن بنا او په هندوستان کې دخلافت له تحریک نیولي تر اوسني عصر۔ دټولو دیني تحریکونو رهبران دهمدې ډلې نه ترلاسه شوي اوس هم که ددین داعیان په مخلصانه بڼه کوښښ وکړي او دغه ډله وروزې دهغوی له ذهنونو هغه شکوک او شبهات لرې کړي کوم چې دلویدیځ دمخصوص تعلیمي مزاج دهغوی په ذهنونو کې پیدا کړي نو دایماني سپرغیو په بلولو کې به بری ترلاسه کړي کومې چې اوس دهغوی دزړونو او مغزو دننه دي؛ نو اوس هم د دې ډلې دننه اقبال او محمد علی پشان دفکر او عمل حښتنان پیدا کیدای شي دا د دین دداعي لپاره یو داسې حیرانوونکی اوخوشالې ښونکی انکشاف دی چې په لیدو یې په ژبه بې اختیاره راځي ع

ایسي چنګاري یارب اپنی خاکسترمین تهي

دنړیوال حالت بدلون لپاره او په اسلامي نړۍ کې دستر انقلاب لپاره اړتیا ده چې دیني داعیان ددې ډلې لورته خپله توجه اوګرځوي ځکه دهمدې ډلې ناسم پوهاوي او بې لارۍ اسلامي نړۍ دذهني ارتدادله ګواښ سره مخ کړې او داسلامي هېوادو لوری یې دخالص اسلامیت په ځای دمغربیت په لور ګرځولی او عام خلک یې دخارویو د بې ژبې رمې او پادې پشان د نا اسلامي قیادتونو په لاس ورکړي او دهمدې ډلې په اصلاحولو سره دوهم وار بیا دمغربیت نه داسلام په لور بیول کیدای شي

ذرا نم هو تو یه متي بړي زرخیز هی ساقي

نوربیا ...

* * *

د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

علامه غلام نبي کاموي رحمه الله

الياس «فاتح»

که له يوې خوا دافغانستان جهادي خاوره دتل لپاره دنړۍ دمستکبرو امپراتوريو هديره گرځيدلې او داشغالونوبدبويه مړي يې پکې دفن شوي دي، له بلې خوا يې علمي افق له داسې ځلانده ستورو څخه ډک پک دی، چې دنړۍ هرې خواته يې د امن او عرفان وړانگې شيندلې، چې ددغو ځليدلو او نوموتو ځلکښونکو څخه يو هم دخپل وخت سترعالم علامه مولوي غلام نبي کاموي رحمه الله دی.

زوکړه يې: دهېواد نابغه عالم، سترمحدث او فقيه حضرت مولانا غلام نبي کاموي د ملا محمد حسين زوی، د ملا صاحب گل لمسی او د محمدعمر کړوسی دی، چې په ۱۳۱۲ هـ ق کال د ننگرهارولايت د کامې ولسوالۍ د سنگرسرای په کلي کې کې نړۍ ته راغی.

زده کړه يې: لومړنۍ زده کړې يې په ننگرهار کې دخپل پلار له آندوې او لاربښوونې مطابق دهيواد له نوميالیو عالمانو څخه ترسره کړې، او دلاعلمي پرمخيون په پار يې د هندوستان په لورې په سفر پسې ملا وتړله.

هلته په هند کې يې د «بهوپال » په سيمه کې تر يوې مودې پورې سبقونه ولوستل، بيا يې ډهلي ته مخه کړه، او ورپسې دارالعلوم ديوبند ته لاړ، دسفر په دې لړ کې يې؛ د فقه، اصول؛ منطق، فلسفې، معاني، حساب، هيئت، رياضي، کلام، او نور مروجه علوم ولوستل، او بيا يې په دارالعلوم ديوبند کې دتفسير او احاديثو دورې هم ولوستې او دمحدثينو سرخېل حضرت مولانا شاه انورشاه کشميري رحمه الله، څخه يې داحاديثو سند ترلاسه او فضيلت پگړۍ پرسر کړه.

استاذان يې: دهغه له ځينو استاذانو څخه په لاندې ډول دي:

امام المحدثين مولانا شاه انورشاه کشميري رح

مولانارحمدل خان کندهاري رح (هند- ډهلی)

مولانا تاج الدين افغانی رح، مشهور په کابلي ملاصاحب (هندوستان- ډهلی)

ددهبايي ملاصاحب رح (هندوستان - بهوپال)

مولوي محمدابراهيم کاموي رح

مولوي مسکين کاموي رح

مولوي عبدالقديرچارباغي رح

دمزينې لوی ملاصاحب رح

مولوي عبدالعلي رح

تدريس يې: له فراغت وروسته يې په ديوبند کې د يو تکړه مدرس په توگه ۴ کاله تدريس وکړ، او ورپسې

يې په ډهلي، مکې، او پيښور په بېلابېلو مدارسو کې دا مبارکه لړۍ روانه وساتله.

له دې اوږدې تعلمي او تدريسي- سلسلې وروسته دخپل ګران ټاټوبي په لور وکوچيده، او ۱۳۲۴ هـ ش کال د کابل په عربي دارالعلوم کې د يو نامتو او ټولمنلي استاذ په حيث مقرر شو او په نوموړي دارالعلوم کې يې تر ۱۳۳۱هـ ش کال پورې تدريسي خدمات ترسره کړل. په لومړيو کلونو کې يې د تکميلي درجې درس ورکاوه، او وروسته د دارالعلوم شيخ الحديث او د بخاري شريف يو نامور متخصص استاذ ومنل شو. او ددې ترڅنګ يې دقضاتو په مدرسه کې هم دهدايې شريفې درس ورکاوه، او ددې سربيره يې دکابل ملي راډيو کې هم اسلامي ځانګړې خپرونې، تقريرونه، مقالې او علمي تبصرې کولې...! چې له دې امله د يو منلی استاذ او دهيواد د يو سترعلمي شخصيت په توګه وپېژندل شو. لکه څرنګه چې پلار يې ورباندې غلام نبي نوم ايښی و، په رښتيا هم دژوند په هره لحظه او لحاظ غلام نبي شو، اود نبي اکرم صلی الله عليه وسلم دمقدس دين او د ده دمبارکو حديثونو عالم او معلم پاتې شو، څکه به يې پخپله هم ويل:

غلام نبي ام بمعنی ونام
چنان دارم بخيرالانام

علميت يې: لورانه خدای پر علامه غلام نبي دعلومو دروازې خلاصې کړې وې، او دمعقولاتو او منقولاتو له ذخائرو يې برخيز کړی و، پر دې سربيره يې پر سياسي بصيرت او اجتماعي صلاحيت نازولی و. هغه به چې کله دخدای وربښلي علميت په جوش او ځپانده جذبه کې راغی، نو غاړه به يې دومره هسکه شوه، چې په معاصر پېر کې به هيڅوک د عالم په توګه په نظر کې نه ورتلل.

مولاناغلام نبي کاموي سوالونو ته د مولاناحسين احمد مدني ځوبونه:

دا چې مولاناغلام نبي ددريابي علم خاوند شاه انورشاه کشميري په ځانګړو شاګردانو او دهغه پرعلمونو تاند او ځپاند شوی و، کله چې شاه صاحب له دې نړۍ سترګې پټې کړې، او پرځای يې مولاناحسين احمدمدني شيخ الحديث مقرر شو، نو مولاناغلام نبي دهغه دعلميت اقرار نه کاوه.

ددارالعلوم سرحد (پيښور) مهتمم او د داراالعلوم ديوبند فاضل؛ شيخ الحديث مولاناسيدمحمدايوب جان بنوري رحمه الله، يو ځل سترجهادي لاربنود حضرت اقدس مولاناجلال الدين حقاني حفظه الله، ته د مولاناغلام نبي صاحب دعلمي څواک په رابطه يوه خاطره بيانوله، او زياته يې کړه چې د علامه مولوي غلام نبي صاحب او محدث العصر- علامه محمد يوسف بنوري صاحب ترمنځ ډېره ټينګه ملګرتيا وه، او دواړه دشاه صاحب خصوصي شاګردان وو، خو مولانا غلام نبي صاحب په عمر کې تر مولانابنوري صاحب مشر و، او دواړه به دلته راتلل.

يو ځل علامه مولانا سيد محمد يوسف بنوري راته کيسه کوله، چې په دارالعلوم ديوبند کې له حضرت شاه صاحب څخه وروسته شيخ العرب والعجم حضرت مولانا حسين احمد مدني صاحب شيخ الحديث مقررشو؛ خو مولانا غلام نبي صاحب به د مولاناحسين احمدمدني

صاحب علميت نه منلو، او ده به ويل: بس، دشاه صاحب څخه وروسته عالم نشته!

ما خورا زياته ارزو درلوده چې يو ځل مولاناغلام نبي هندوستان ته راشي (مولانايوسف بنوري دغه وخت د هند په ډابهيل سيمه کې شيخ الحديث و) چې ديوبند ته يې بوځم، نو دخداى شان و، يوه مياشت وروسته راغى. مونږ چې شپه تېره کړه، سهار وختي دارالعلوم ديوبند روان شوو؛ مولانا حسين احمد مدني صاحب د بخاري شريف درس شروع کولو سره سم، مونږ ورته کيناستو. مولاناغلام نبي صاحب د مولانامدني صاحب په طرف ځنګ اړولى و. نو ما په زړه کې خداى ته سوال کاوه، چې دبخاري شريف په درس کې داسې علمي نکات راشي، چې مولاناغلام نبي ته د مولانامدني علميت ښکاره شي؛ دا خبره مې زړه کې تېرېده راتېرېده چې مولانا مدني صاحب له خولې په حديثو درس کې علمي، منطقي او فلسفي دلايلو سره خبرې شروع شوې، نو مولاناغلام نبي پر مولانامدني اعتراضات پېل کړل، او مدني صاحب سره له زيات عمره په ساړه سينه دده سوالونو ځوابول، دې لړۍ تر دې پورې دوام وکړ، چې دبخاري شريف درس له يو نيم ساعت څخه، تر ۳ساعتونو پورې وغځيده، په دې لړ کې، دهغه د يوې فلسفي پوښتنې په ځواب کې مولانا مدني صاحب مدلل ځواب او ترځنګ يې دصدرى دوه صفحې عبارت په ياد ولوست؛ دې ځواب سره يې مولانامدني صاحب ته مخ او توجه يې راواړوله، او بيا يې هم خبرې کيدې، تردې چې درس پاى ته ورسيده، او مولانامدني صاحب لاړ. ما له ده څخه پوښتنه وکړه، چې اوس دې د مولانا صاحب دعلميت په هکله څه رايه ده؟ ماته يې ويل: يوسف جان مولوي صاحب! اوس مې دمولاناحسين احمدمدني په باره کې دا رايه ده: که چېرې په دې زمانه کې نبوت جاري واى، نو مولاناحسين احمد مدني به دنبوت دمنصب څښتن و!

تأليفات يې: مولانا غلام نبي په هر علم کې ځانګړې مهارت درلود، او په درسي ډګر کې يې لوى لوى عالمان، فاضلان مدرسين او قاضيان خپلې ټولنې ته وړاندې کړل، دغه رنګ دتاليف په ميدان کې هم خورا په زړه پورې خدمت ترسره او په هر علم کې يې په سختو درسي کتابونو لمنليکونه (حاشيې) ليکلي او ګڼورتالفات يې کښلي دي، لکه:

۱ـ د قاضي مبارک - حاشيه

۲ـ دحشر داجسادو په اثبات کې (له عقلي دلايلو ډکه رساله)

۳ـ النبوة والرسالة

النبوت والرسالت« کتاب » يې: په دغه جامع او ګټور کتاب کې د ډاروين دنظريې ترديد او په اعتقادي موضوعاتو کې دعقلي او نقلي دلايل په تفصيلي توګه ځاى په ځاى شوي دي. ديادونې ده چې مولاناته په دغه کتاب باندې د وزيرفيض محمدخان لخوا دمعارف دوزارت پر مهال يوه لوړه علمي جايزه ورکړل شوې، او ددې کتاب د ډېرژرچاپ ژمنه يې ورسره کړې وه،، خو ويل کيږي، چې د درسي کتابونو دچاپولو له کبله ددې کتاب په چاپ کې ځنډ راغى، ليکن وروسته مولانا په وار وار دپوهنې وزارت ته دا عرض وکړ، چې دجايزې مادي عوض مو بيرته واخلئ، او دا کتاب راکړئ، چې زه يې په شخصي لګښت چاپ کړم، خو له بده مرغه چې هغه ارزښتناک

کتاب نه مولاناته بېرته ورکړل شو او نـه تراوسـه چـاپ کړل شو.

کابلي تفسير او زحمت يې: په ۱۳۲۴هـ ش کال کې دپاچا ظاهرشاه لخوا دحکومت صدراعظم ته امر وکړل شو، چې دشيخ الهند علامـه محمودالحسـن ديوبنـدي او دمولاناشيخ الاسلام شبيراحمدعثماني دقران کريم ترجمه او تفسير له اردو څخه پښتو او فارسي ملي ژبو ته وژباړل شي، او کابلي تفسير منځته راشي، نو دحکومت په فرمان دغه درونـد او تاريخي خدمت ترسره کولو لپاره دهيـواد له درنو نومياليو عالمانو څخه کميټه جـوړه شـوه، او پـه دغه کميټه کې يو هـم ممتـاز او دتـرجيح خاونـد غـړی مولاناغلام نبي کاموي و. هغه د نوموړي تفسير په رابطه داسې وېلي: ما ددې تفسير په ژباړه کې په دې بسنه نـه ده کړې، چې دا دلويو نامتو استاذانو ليکنـه ده، او دا اسـناد کافي دي، بلکې ددې تفسير ماخذونـه بـه مـې پـه بشـپړه توگـه دپخوانيـو او وروسـتنيو مفسـرينو پـه معتمـدو تفاسيرو کې لټول او له دې تطبيق او تصديق وروسته بـه مې دخپل نظر اظهار کاوه.

دولتي عهدې يې: کلـه چـې مولانـا افغانسـتان تـه راستون او د کابل په دارالعلوم کې د لويو کتابونو مدرس مقرر شـو، نـو دتـدريس ترڅنـگ يـې دپـوهنې وزارت دلوړپوړو شخصـيتونو سره د علمـي، اجتماعـي غونـډو برخـوال و، بيـا دپـوهنې دعـالي شـورا پـه تصـويب او دصدارت عظمی په فرمان د دغې شورا غړی وټاکل شـو. د دې ترڅنگ يې د اطلاعاتو وزارت شرعـي مشـاور پـه توگه هم دنده اجرا کوله. بيـا د حکومـت لـه طرفـه پـه ۱۳۳۱هـ ش کال دکندهار دمرافعې قاضي په توگه وټاکـل شو، د څه مودې په تېريدو سره دسردار محمد داود خان په حکومت کې داعزاز په توگه په ۱۳۳۴ هــ ش دکابـل دمرافعې قاضي مقرر شو، او ورپسې په خپل وړانديزسره متقاعده وشميرل شو.

دا چې حکومت يې دعلمي لوړ حيثيت څخه استفاده ضروري گڼله نو ۱۳۴۱هـ ش کال ددکتور محمديوسـف پـه دوره کې دافغانستان دجمعيت العلماء غړيتوب ورکړل شو. او بيا په ۱۳۴۲ هـ ش دمشـورتي کميټـې غـړی وټاکـل شـو. وروسته په ۱۳۴۳هــ ش دافغانسـتان دلـويې جرگـې ممتاز غړی مقرر شو. او په ۱۳۴۴کال د۱۲دورې شروع کيدو پـه وخت کـې دپاچـا ظاهرشـاه پـه فرمـان دمشرـانو دجرگـې انتصابي سناتور غړی وټاکل شو.

رحلت يې: مولانا کاموي په همدغې وروستۍ وظيفې د اجرايت په حالت کې؛ علمي او ملتـي نـړۍ تـه ترسـترو خدمتونو وروسته په ۱۳۴۹هـ ش کـال دزمـري مياشـتې پـه ۷نيټه دتشنج عصبي په رنځ اختـه او د وزيـر اکبرخـان پـه روغتون کې بستر او د زمري په ۲۳مه نيټه دجمعې په ورځ ديادې مريضۍ له امله په ۲بجې، دخپـل خـوی او دوسـتانو په حضور کې دژوند په وروستۍ شيبه کې پـه لاس پورتـه کولو سره د «الله اکبر» کلمه وويله، او په ۷۸کلنۍ کې يې دتل لپاره له دې نړۍ سره خدای پاماني وکړه. انا لله وانا اليه راجعون

دزمري په ۲۴مه نيټه يې جنازه دکابـل لـه دارالعلـوم څخه په موټر کې دپل خشتي جامع جومات ته يووړل شوه او دجنـازې لمـونځ يـې دالحـاج حـافظ مولانامحمـدامان (دجمعيت العلماء غړي) ادا، او جنـازه يـې د حکومـت پـه اعزازي تدابيرو سره د وطنوالو په مدرگـه کـامې تـه راوړل شوه، او جسد يې د ده لـه توصيې سره سـم خپلې پلارنـۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو. روح يې ښاد او يـاد يـې تل اوسه!



د اسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه

ابو الخیر عارف محمود

دوهمه برخه

درنو لوستونکو! که تاسي دقرونِ ثلاثه دتاریخ په دقت سره څېړنه وکړئ نو دتاریخ دتدوین په دغه زمانه کې د درواغو ښکاره کیدو په لاملونو اوموخو کې به تداخل او مومئ، ډیرځلي به په یوه پیښه کې سبب او موخه دواړه مندل کېږي! که ته د نفس واقعې په لور گورئ نو تاته به دهغې سبب ښکاره شي خو که په همدې واقعه باندې دنتیجې له پلوه غور وکړای شي ددي به یو هدف او غرض هم ښکاره شي؛ لنډه داچې د دروغو یلو ځیني داسې ژور، اساسي او واضح اسباب دي چې دهغو په وجه د قرون ثلاثه په دور کې په عامه توگه او دتاریخ د تدوین په مهال په خاصه توگه درواغ ویلو ریښې غځیدلي...

هسې خو د درواغو ویلو اسباب ډیردي لیکن موږ دلته څو په شمار راوړو:

... دروغ ویلو اساسي لاملونه

د دروغ ویلو لاملونه اوا سباب په لوی شمیر دي چې دلته یې موږ دځینو مهمو اسبابو یادونه کوو:

١.... سیاسي اختلافونه

په اساسي توگه سیاسي اختلافونه هغه مهم لاملونه دي چې سبب یې اسلامي امت ټوټې ټوټې شوی او پر مختلفو مقابلو فرقو یې ویشلی او هم دیوبل سره لاس او گریوان او وینو ته یې تږي کړي

دسیاسي اختلافونو پیل دحضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دخلافت دوري په وروستیو کې اوشو او بالاخر په ١٣٢هق کې دابوالعباس سفاح په لاس بیدریغه وینو په تویولو دبنو امیه کورنۍ د واک په ړنگولو منتج شو او داسلامي نړۍ اوسنی حالت په دې دلالت کوي چې دهم هغه وینې داغ تراوسه داسلامي امت په لمن پروت دی

٢..... فکري او مذهبي بې لارې اوبې اعتدالي

فکري او مذهبي بې لارې هم د سیاست د خیټې زیږیدلې، دسیاست ړندې فتنې فکري او مذهبي بیلتونو ته لا نوره هوا ورکړه او نه یواځې یې دلا ژور والي او پراخوالي بنستونه کینول بلکې ددفاعي دریځ پخپلولو سره یې ورته د سپېڅلي، شرعي او مذهبي خدمت رنگ هم اوباښه، څنگه چې دصراط مستقیم څخه انحراف کوونکي چې ځانونه اسلام ته منسوب گڼې او بې لارې فرقې لکه خوارج او روافض دواړه دهمدې سیاسي فتنې له خیټې زیږیدلي اوبیا په همدې غیره کې یې روزنه او پالنه شوې اود همدې فتنې په ملاتړ دصراط مستقیم نه منحرفو فرقو پخپلو تنو سپېڅلي مذهبي رنگه لباس په تن کړی چې

دقداست ترشايې داسلامي امت دتيرو ديارلس پيړيو راهيسې وينې توېول روان دي

.... باطني ناروغه (کفر، نفاق او زندقه)

پاتې شوه خبره دباطني ناروغيو، لکه کفر، نفاق، زندقه، حسد، کينه، دد نيا محبت و حرص او نور داټول هغه اسباب دي چې ډير خلک يې په درواغو ويلو او پکې دمهارت او امتياز په پيدا کولو مجبور کړي او بيا ددي بدو او په زهر لړونکيو تاثيراتو ډيروالى هغه مهال راځي کله چې په دغو باطني ناروغيو او سياسي او مذهبي اختلافونو کې امتزاج رامنځته شو، غرض داچې دا هم هغه مرکزي او ژور بنسټيز اسباب وو چاچې درواغجنو روايانو ته زمکه هواره کړه، ورته يې چاپيريال جوړ کړ چې دهغو په وجه هغوى نه يوازې درواغ ويلو لورته متوجه شول بلکې په دې کې ديوبل نه دوړاندي تلو په بدمرغه سيالۍ کې ښکېل شول څو دخپل باطن گومان سره سم د دروغو پر مټ خپل مذهب ته خدمت وکړي او د خپلو مصالحو او شهواتو تکميل وکړي

۴.... دځانگړې فکري او مذهبي ډلې ملاتړ...

دروغ ويلو له اسبابو څخه يو سبب دصراط مستقيم څخه منحرف کونکی د مخصوص فکري مذهبي لوري ملاتړ کول دي علامه ذهبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ليکي:

د روغجن او کذاب احمد بن عبد الله جويباري دکراميه ډلې په نصرت او دفاع کې دمحمد بن کرام لپاره احاديث جوړول، او محمد بن کرام به هغه پخپلو کتابونو کې ليکل

هم داسې بل دروغجن او کذاب قاضي محمد بن عثمان نصيبي دروافضو په دفاع کې احاديث جوړول او ابو جارود بن منذر کوفي په مثالب صحابه کې احاديث جوړول عبد الرحمان بن خراشي شيعي هم داکار کاوه، هغه دشيخينو (ابوبکرو عمر) رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ په مزعومه مثالب کې دوه رسالې وليکلي او دروافضو ديو ستر امام په وړاندې يې کيښودې چې هغه ورته دوه زره درهم دانعام په توگه ورکړل

لوستونکو! غور وکړئ دپورته يادو درېواړو کسانو داحاديثو جوړولو څخه هدف يوازې دخپلې خاصې فرقې دفکري او اعتقادي افکارو ددفاع کولو څخه علاوه بل څه نه و، داخلک يوازې دپيغمبرانو عليهم السلام نه وروسته دبالاتفاق خير البشر او افضل البشر صحابه وو رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ په خلاف د خپل زړه کينې ښودلو په خاطر دروغ ويل، روافضو داهل بيتو او حضرت علي رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ په باره کې نيږدې درې زره جعلي احاديث جوړ کړي

۵... ترغيب و ترهيب

دروغ ويلو په اهدافو کې يو هدف خلکو ته ددين ترغيب ورکول اودهغو ی زړونه نرمول او دخپلې مزعومه نظريې سره سم هغوی خلکو ته داجر اميدونه ورکول او دگناه څخه دمخنيوي لپاره يې ترهيب ورکاوه څنگه چې ځينې جاهل او غا لي صوفي ډوله خلکو هم ددغه بد فعل ارتکاب کړی

٦.... مادي او اقتصادي گټې ترلاسه کول

دروغ ويلو د مرکزي اهدافو او اسبابو څخه يو مهم او اساسي هدف ناپوهه عوام ځان ته مايل کول او دهغوی

نه مادي او اقتصادي ګټې ترلاسه کول او خپل خواهشات او غوښتنې سرته رسول وو

دا طرز العمل په ګمراه فرقو سربیره قصه کوونکو واعظانو هم خپل کړی، هغوی خلکو ته درواغجن روایتونه، عجیب و غریب او محیر العقول داستانونه جوړوي، څو خلک دهغوی څخه متاثر شي او دمعاشي او مادي اړتیاوو په پوره کولو کې ورسره مرسته وکړي حافظ ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکلي:

ابراهیم بن فضل اصفهاني (مړ۵۳۰ه) به د اصفهان په بازار کې ودرید او په همدي وخت کې به یې له خپله ځانه احادیث جوړول او خلکو ته به یې او رول او دهغو کاذبه روایتونو سره به یې دصحیح روایتونو اسانید نښلول

۷.... شخصي او ګوندي ګټې:

په دروغو کې دمنافست یو مهم سبب او هدف د شخصي او ګوندي ګټو لپاره ځینې دسترو او مشهورو خلکو په مدح یا ذم کې احادیث جوړول هم وو، څنګه چې دروافضو عمومي حال و علامه ذهبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د امام زرى رَحِمَهُ ٱللَّهُ په حواله لیکلي: نعیم بن حماد دامام اعظم ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مثالب کې درواغجن روایتونه جوړول

علامه ذهبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکلي: احمد بن عبد الله جویباري دامام اعظم ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مدح کې یو حدیث جوړ کړی و په دې ټولو اسبابو او اهدافو کې دغور او فکر کولو وروسته داخبره ښکاره کېږي چې دروغ ویلو او خورولو اساس د درواغجنو روایانو باطني ناروغۍ وې خو سیاسي، ګوندي، مادي او معاشي عواملو په ژورتیا او نشاط کې یې نور زیاتوالی رامنځته کړ

په اسلامي تاریخ کې دروغ ویلو ناوړه اثردروغ ویونکو روایانو دغه مخصوص ډلې زموږ په ټول اسلامي تاریخ عموماً او په قرون ثلاثه کې خصوصاً ډېر بد او زهر لړونکی اغیز شیندلی، دغور او فکر ځای دادی چې ددغو درواغجنو روایانو روایتونه زموږ په تاریخ، ادب او دیني تصنیفونو کې سرایت کړی دی او دهغو یوه لویه برخه ددغسې روایتونو څخه ډکه ده چې دهغو په نتیجه کې هغه تصانیف دثقه روایتونو ترڅنګ ددغو خرافاتو او متناقضاتو ټولګې هم وګرځیدې

دطبري تاریخ یوه سرسري څېړنه

دکومو حقایقو په اړه چې موږ په تیرو مخونو کې یادونه وکړه، هغه زموږ داسلامي تاریخ سره څومره اړه لري او دهغو څومره بد اغیز شوی دهغو دسرسري څېړنې په غرض موږ دتاریخ په کتابونو کې دعلامه ابن جریر طبري (مړ ۳۱۰هـق) مشهور کتاب او تصنیف [تاریخ الأمم والملوک] چې په [طبري تاریخ مشهور دی] دنمونې په توګه غوره کړی دی، دطبري تاریخ زموږ دوخت داسلامي تاریخ د مهم مصدر او مأخذ سربیره دقرون ثلاثه په اړه ترټولو مهم کثیر المعلومات او مستند کتاب دی په دې وجه طبري او دهغه کتاب دلنډې پیژندګلوۍ وروسته په اصل موضوع غږېږو، څو لوستونکو ته داخبره ښکاره شي چې علامه طبري پخپله ثقه دی خو دهغه کتاب دوچو لمدو (رطب و یابس) دواړو مجموعه دی

دابن جریر طبري لنډه پیژندګلوې

نوم یې محمد، د پلار نوم یې جریر، دنیکه نوم یې یزید او کنیت یې ابو جعفر دی په طبرستان کې زیږیدلی

په دې نسبت سره ورته طبري ويل کېږي دزوکړې کـال پـه باره کې يې دوه قوله دي: ۱.... په ۲۲۴ه کال پـه پـای کـې زيږيدلی ۲.... په ۲۲۵ ه کال کې زيږيدلی ابن جرير پخپلـه دخپل ژوند لومړني حالات داسې بيان کړي: وايـي: مـا پـه اووه کلنۍ کې عظيم الشان قرآن حفظ کړ په اته کلنۍ کې مې دخلکو امامـت شروع کـړ او دنهـو کلـو پـه عمـر مـې حديث ليکل پيل کړل، ابن جريـر طـبري دعلومـو او فنونـو دتکميل لپاره دمختلفو سيمو دعلماوو نه زده کړو لپاره ګڼ سفرونه کړي په عراق کې يې دابومقاتـل نـه فقـه لوسـتې داحمد بـن حـماد دولابي څخـه يـې کتـاب المبتـدي ليکلـی مغازي يې دمحمد بن اسحاق په واسطه دسلمه بن فضل نه حاصل کړي او همدا يې دخپل تاريخ لپاره اساس ګرځـولی په کوفه کې يې دهناد بـن سری او د موسـی بـن اسـماعيل څخه احاديث حاصل کړي دسليمان بن خلاد ظلحـی نـه يـې دقرائت علم حاصل کـړی بيـا لـه هغـه ځايـه بغـداد تـه لاړ داحمد بن يو سف تغلمی پـه صـحبت کـې ميشـت شـو او دهغه وروسته دشافعي فقهې لورته متوجه شو او همدا يې خپل مسلک او ګرځاوه، څوکاله يې دهغې له مخې دخلکو استفتاوې ځوابولې او په بيروت کې يې دعباس بـن وليـد بيروتي څخه دشـاميانو پـه روايـت کـې قـراءات وتـلاوت مکمل کړل .

په مصر کې هم تراوړدې مودې ميشـت و او بيـا لـه هغه ځايه شام ته لاړ او بيرته مصر ته راغی له امام مـزني او عبد الحکم دځامنو څخه يې دشافعي فقهې علـم مکمـل کړ او دابن وهب دشاګردانو څخه يې مالکي فقـه ولوسـته غرض داچې علامه طبري په حديث، تفسير، قراء ات، فقـه، تاريخ شعرو شاعري او په ټولـو مروجـو علومـو او فنونـو کې مهارت ترلاسه کړی و ا وپه مختلفو عنوانو يې نيـږدې ۲۶ کتابونه کتابونـه تصـنيف کـړل پـه هغـو کـې دتفسـير طبري نه علاوه تاريخ طبري ډير زيات مشهور او معـروف دی

دطبري تاريخ لنډ ه پيژند ګلوي

ددي کتاب نوم تاريخ الرسل والملوک يا تاريخ الأمـم والملوک دی البته دطبري تاريخ پـه نـوم عـامو او خواصـو کـې مشـهور دی دعلامـه طـبري دا تصـنيف پـه عـربي تصنيفونو کې مکمل او جامع ګڼل کېږي دا کتـاب دهغـه نه وړاندينو مؤرخينو لکه يعقـوبي، بـلاذري، واقـدي، ابـن سعد او نورو په مقابل کې اکمـل او دهغـه نـه وروسـتنيو مؤرخينو لکه مسعودي، ابـن مسـکويه، ابـن اثيـر او ابـن خلدون او نورو لپـاره يـو لار ښـود تصـنيف ګرځيـدلی پـه معجم الأ دباء کې ياقوت حمـوي لـيکلي چـې: ابـن جريـر پخپل دي تصنيف کې د۳۰۲ه ترپايه حالـت بيـان کـړي او دچهارشنبې په ورځ په ۲۷ م ربيع الاول په ۳۰۲ ه کې يـې بشپړ کړ

دليکلو طرز يا اسلوب يې

ابن جرير دخپل تاريخ شروع دزمانې دحدوث نه کړې دلومړي مخلوق قلم او نورو مخلوقاتو دتذکرې نه يې پيـل کړی بيا دهغه وروسته دادم عليه السلام او نـورو انبيـاوو او رسولانو اخبار او حالات يې په تورات کې دانبيا عليهم السلام شته ترتيب تـه پـه کتـو لـيکلي تـردي پـورې چـې درسـول اللـه ﷺ بعثـت پـورې دټولـو قومونـو حالات او واقعات يې بيان کړي داسـلامي تـاريخ حـوادث يې دهجرت دکال نه نيولې ۳۰۲ هجري کـال پـوري مرتـب

کړي او دهرکال مشهور حوادث او واقعات یې بیان کړي په دي علاوه په دي کتاب کې حدیث، تفسیر، لغت، ادب، سیرت، مغازي، واقعات، شخصیات، اشعار، خطبات او معاهدات په ښکلي اسلوب کې دمناسب ترتیب سره یوځای هر روایت یې دهغه راوي او قایل لورته (پرته دتحقیق او نقد) منسوب کړی، دکتابونو او فصلونو په عنوانو یې ویشلی او دعلماوو په ویناوو یې ښایسته کړی دی

دطبري مصادِر

طبري دخپل دي کتاب لپاره چې دکومو مصادرو انتخاب کړی دی هغه دادي: ۱..... تفسیر... دمجاهد، عکرمه اونورو نه یې نقل کړی ۲..... سیرت یې دابان بن عثمان، عروه بن زبیر، شرجیل بن سعد، موسی بن عقبه، او دابن اسحاق څخه نقل کړی ۳.... دارتداد او دښارونو دسوبو حالات یې دسیف بن عمر اسدي نه نقل کړي ۴..... دجمل او صفین جنگونو واقعات یې دابو مخف او مدائني څخه نقل کړي ۵.... دبنو امیه تاریخ یې دعوانه بن حکم څخه نقل کړی ٦... دبنو عباس یې حالات یې داحمد بن ابو خیثمه دکتابونو لیکلي ۷... داسلام څخه وړاندې دعربو حالات یې عبید بن شریة الجرهمي محمد بن کعب قرظي او دوهب بن منبه څخه اخستي ۸... داهل فارس حالات یې دفارسي کتابونو دعربي ژباړو څخه اخیستي ۹... په ټول کتاب کې دمصنف اسلوب دادی چې واقعات و حوادث او روایات دهغو داسنادو سره یوځای پرته دکلام نه ذکرکوي ۱۰.... دکومو کتابونو او مؤلفین څخه یې چې استفاده کړې ده ځای په ځای دهغوی په نومونو تصریح کوي ۱۱... دطبري تاریخ گڼ شمیر تکمیلې لیکل شوي او څوتنو یې اختصار هم کړی دی او پخپله طبري ترټولو لومړی یې لاندې (ذیل) لیکلی څینو ښاغلو یې په فارسي کې ترجمه هم کړې بیا دفارسي څخه ترکي ژبې ته ترجمه شوی دی

نوربیا....

د وخت مغرورو ته؟

#حافظ جهادمل

د وخـــت مغـــرور دې څملـــولي طالـــب جانـــه!
پر-جهـــان دې شرمـــولي طالـــب جانـــه!

تـــه اتـــل دزمـــانې يـــې دزړه سره
ډېرغربيـــان دې پـــرزولي طالـــب جانـــه!

دنـــړۍ کفـــاردې مـــات پـــه خـــالي لاس کـــړل
هرميـــدان نـــه دې شـــړلي طالـــب جانـــه!

دامـــت دســـترگوتوره پـــه تاويـــاړو
ســـتاپه څنـــگ کـــې دربـــدلي طالـــب جانـــه!

دخالـــدبن وليـــدياددې تـــازه كـــړو
ســـوپرتاپه صـــفركړي طالـــب جانـــه!

دالله ددیـــن گټـــونکی قهرمـــان يـــې
هرتـــاريخ داســـې لـــيکلي طالـــب جانـــه

جهادمـــل حـــافظ دې مـــل دحـــق كـــاروان يـــم
ســـتاكارونه دي ســـپېڅلي طالـــب جانـــه

هدف واقعی امریکا از پروسهٔ انتخابات



به رسانه های کشورهای دموکراتیک و گفته ها و نوشته های دموکراتان اگر نگاه شود آن ها چنان وانمود می سازند گویا بزرگ ترین آرمان مردم کشورهای غیر دموکراتیک دسترسی به حق رای دهی است و مداوای همه دردهای نهان وعیان آن ها در انتخابات نهفته است، همچنان رمز رفاه و خوشحالی کشورهای دموکراتیک حق رای دهی است، زیرا مردم این کشورها می توانند زعامت سیاسی خود را در سطح کوچه و منطقه و کشور انتخاب بکنند و پس از هر چهار یا پنج سال در مورد تغییر یا ابقای آن ها تجدید نظر بکنند، همچنان از امریکا یا غرب اگر پرسیده شود حاصل تلاشهای مشروع، غیر مشروع و تریلیون دالری آن ها در افغانستان چیست ؟ بی درنگ خواهند گفت : دموکراسی.

بلی، امریکا و غرب تلاش نمودند دموکراسی را در افغانستان رواج بدهند، اما دموکراسی به کدام معنی ؟ همین که با استفاده از « آزادی بیان » مقدسات دینی و ارزشهای ملی افغان ها به تمسخر گرفته شود، همین که با استفاده از « تنوع کلتور » فرهنگ غربی در جامعهٔ اسلامی افغان ها رونق داده شود، همین که با استفاده از « اقتصاد آزاد » معادن و منابع بیش بهای کشور به تاراج برده شود، همین که با استفاده از « جنگ بر ضد تروریزم » عالمان و حافظان بمباران شوند، نه به معنای اینکه مردم حق انتخاب زعماء خود را داشته باشند، نظام کشور را به دست بگیرند و در تصامیم ملی و بین المللی شان آزاد باشند، بلی، واقعیت تلخ همین است که افغانستان کشور مستعمره است و مردم چنین کشورها اختیار ندارند که زعامت خود را انتخاب بکنند و زمام کشور را به دست خود بگیرند.

امروز مقامات رژیم، مسئولان کمیسیون انتخابات، نهادهای ناظر، رسانه ها و مؤسسه ها از کم رنگی روند ثبت نام رای دهندگان داد می زنند و بر ناکامی پروسهٔ مقدماتی و کلیدی انتخابات اعتراف دارند، به گفتهٔ مسئولان کمیسیون انتخابات تخميناً ۱۳ یا ۱۴ ملیون نفر واجد شرایط رای دهی هستند، اما وضعیت کنونی نشان می دهد که آمار ثبت نام کنندگان اگر در روز های آینده سه چند هم افزایش یابد تا مدت معینه (که دو ماه است) از یک ملیون بالا نمی رود، گویا شمار مجموعی ثبت نام

کنندگان به ۱۰ در صد واجدان شرایط رای دهی هم نمی رسد.

فرمانده نیروهای امریکایی جنرال نیکلسون به قندهار رفت تا مردم را به سهم گیری در انتخابات تشویق بکند، وی دران جا گفت : « ما به‌گونهء قوی از کمیسیون مستقل انتخابات پشتیبانی می‌کنیم و از هیچ‌گونه حمایت آنان دریغ نمی ورزیم» ، جان بس (سفیر امریکا در کابل) نیز افغان ها را به اشتراک در پروسهء انتخابات تشویق کرده است، مقامات رژیم با خانم های شان به گونهء سمبولیک در مراکز ثبت نام حاضر شده اند، قرار است مسئولان کمیسیون انتخابات و رییس ادارهء ثبت احوال نفوس در نشست عمومی مجلس سنا فراخوانده شوند و در مورد عدم علاقمندی مردم به روند ثبت نام استجواب شوند و از همه خبر داغ تر اینکه جنرال رازق (فرمانده پولیس قندهار) هشدارداده است : کسانیکه کارد رای دهی نداشته باشند عرایض آنان در ادارات دولتی پذیرفته نمی شود، این تلاش ها و زورگویی ها به جای که افغان ها را در مورد شفافیت انتخابات اطمینان بدهد و ذهنیت منفی مردم را دگرگون بسازد اعتراضات و ملاحظات آن ها را در قبال انتخابات بیشتر وقوی تر ساخته است.

واقعیت اینست که امریکایی ها و دست نشاندهان آن ها نه در قبال انتخابات های گذشته پوزش می خواهند و نه هم افغان ها را در مورد شفافیت انتخابات آینده اطمینان داده می توانند،امریکا تا هنوز بر اردوی که به دست خود ساخته است، پرورش و مجهز کرده است و هنوز هم معاش می دهد باور پیدا نکرده است، پس چگونه می تواند بر افغان های که از دل و جان با امریکا نفرت دارند و امریکا را عامل همه فجایع و مشکلات کشور می دانند باور بکند و حق انتخاب زعامت را برای آن ها بدهد، هدف واقعی امریکا و مزدوران آن فریب دادن جامعهء جهانی و مشغول داشتن افغان ها به این و آن است،

بلی ، امریکا می خواهد با سهم گیری مردم در روند انتخابات برای جهانیان جلوه بدهد که افغان ها بر دموکراسی (جعلی و نمایشی ما) باور دارند، همچنان می خواهد توجه افغان ها را ز عامل اصلی مشکلات که اشغال است به جنجال های قومی، سمتی و لسانی مبذول بدارد.

افغان ها نیز می دانند که هدف از حضور نظامی امریکا در افغانستان چه است و نیز می دانند که سیاست استعماری و استثماری امریکا در قبال افغانستان تغییر نخورده است و نمی خورد، حالا افغان ها هدف واقعی امریکا را به خوبی درک کرده اند، خانم گیتا بهزاد (رییس محل زنانه در مرکز ثبت نام لیسهء سلطان راضیه غوری) به یکی از رسانه ها می گوید : « در پنج روز گذشته ۳۲ تن به این مرکز ثبت نام مراجعه کرده‌اند، وقتی پرسان می‌کنیم چرا نمی‌آیید؟ می‌گویند : در انتخابات‌های قبلی که آمدیم چه شد که بعد از این بشود.

په کندزکې نه جواب کیدونکی وحشت

محمد سعید

پوره اوولس کاله وشول چې زمونږ دگران هیوادمظلوم ولس د اشغال او استعمارترڅنګ د اغیارو له گنو دسیسواوپیلانونو سره گواښ دی داسی دسیسی او پیلانونه چی موخی یی داسلامی تهذیب ختمول اوپایلی یی دغربی قانون عملی کول دی،

داسی دسیسی او پیلانونه چی د مسلمان اسلامیت، غیرت،اواقتصادپه داسی شکل کی ښکار او له مینځه وړل غواړی چی راز یی صرف له همدوی سره پټ اوددوی په لاس جوړاوگمارل شوی کسان په کی کارونه ورته ترسره اوپرمخ بوځی.

اغیارو ډیری دسیسی پکار واچولی او لا یی هم دالړی جاری ده لیکن اسلام پال او افغانی الاصل مسلمان ولس په ډیره چټکی سره د دوی دغه مفسدی دسیسی درك او بیا یی شنډی کړی.

دا اوس وخت چی د مجاهدینو فتوحات ورځ تربلی ورځی په زیاتیدو دی، چی په فتحو یی ډیر شواهد اوځینی کړئ هم قایلی دی

همدارازمجاهدین دهیوادپه اکثرو سیموکی سلطه او حاکمیت لری عام ولس یی هم پوره ملاتړ لری

او بلی خواته امریکایان اودهغوی لاسپوځی ملگری یی دناکامی درشل کی پراته دی امریکایان دا نه غواړی چی دا حقیقت دی ښکاره شی ځکه چی ددی حقیقت په څرگندویی کی دوی ته ډیرزیات تاوانونه اوخطری دی

دوی ته دخپلو رسیدلوتاوانونو د انتقام په موخه او زمونږملت ته د زورنی او زورولو په غرض ناحقی حملی کله په واده یا په جنازه کله په بازار یاپه کلی کله په مدرسه یاپه مکتب کله په جومات یاپه قومی جرگو جاری ساتلی دی دا داسی حملی وی چی جبرانیدونکی نه دی.

داشغال د اوږدوالی اودهمداسی حملو دجوازاودزیاتوالی لپاره یی دادسیسه پکاراچولی چی پخپل لاس تربیه شوی اوگمارل شوی کسان دبادشاه او وزیر په نوم رامخ ته کوی او دانتخاباتو دروغژنه، غیرمنصفانه پروسه راوړاندی کړی او په پوره سپین سترگی او ناانصافئ سره اعلان وکړی چی فلانی په انتخاب کی کامیاب او رئیس شو

افغان مسلمان ولس چی د دوی داشغال دختمیدولپاره په مقابلی اوجهادلاس پوری کړی ده هیڅکله یی هم په داسی انتخاباتوکی گډون نه ده کړی او نه هم په داسی شرایطواوحالاتو کی د دوی سره په دی انتخاباتوکی برخه اخلی، نو دوی به څنگه کامیاب اوانتخاب شی.

داهرڅه دافغانانو دهوکه کول او غلطول دی چی گټه اوفایده یی صرف امریکایانواود هغوی لاسپوڅوته رسیږی او بس. دا اوس په گاونډی هیواد پاکستان

دمهاجرو میشت ځایونوکی چی د رأی اخیستنی دلاری چی کوم کمپاین په یو اوبل نوم او همداشان په درواغژنو وعدو او ژمنو جاری ده دا په افغانستان کی دراروان انتخاباتو لپاره دمهاجروله طرفه نماینده جوړول دی

د دی مطلب داده چی راروان انتخابات ډیر پراخ دی اومهاجرهم حصه په کی لری،

مهاجرچی دخپل مذهب،عزت ساتنی په قصد خپل گران هیوادترك او پریښود او د هجرت په دیارکی د بی وطنئ سختئ زغمی هیڅکله به هم په دی بیکاره او بی ارزښته پروسه اود اغیاروترسیوری اوسپر لاندی انتخاباتوکی حتی الوسع ونډه وانخلی.

اوپه دسیسی کی دننه ډیره بده خو لاداده چی شځی طبقه هم کاندیدیږی هغه خبر رایاد شی چی سږی خلاص شول اوس شځی مشری کوی.

د داسی دسیسو د ناکامی په هیله

د جنرال رادمنش کاذبانه منطق

■ احمد مختار

د جنګي جنایاتو د ماهیت او تعریف له مخې د دشت ارچي پرهاشمیه مدرسې باندې د امریکایي ځواکونو هوایي برید واقعا چې یو وحشیانه عمل او جنګي جنایت دی.

ځکه هلته په نښه شوی ځای خالص ولسي هدف دی چې له امله یې یوزیات شمیر ولسي وګړي چې هغه هم د دیني مدرسې ښوونکي اوزده کوونکي دي په ډیره بیرحمې سره شهیدان شول.

د کابل رژیم د دفاع وزارت دروغجن ویاند جنرال رادمنش د دې په ځای چې دا وحشیانه برید تقبیح او له امله یې له ولسه ښښنه وغواړي له خپله لوري له دغه پر تر سره کولو او د دې وحشیانه برید پر توجیه کولو ټینګار کوي.

د دغه بې منطقه جنرال په کاذبانه توجیهاتو کې دوه ټکی ډیر د حیرت او هیښتیا وړ دي

لومړی دا چې نوموړي د دې جنګي جنایت د توجیه کولو لپاره ویل چې دا بمباري د قرآن کریم د حافظانو د دستاربندي پر مراسمو نه ؛ بلکې د وسله والو طالبانو پر یوه پوځي نمایش (رژه نظامي) باندې تر سره شول چې په هغه کې تر ۳۰ زیات وسله وال طالبان او دهغوی مسؤلین ووژل شول.

او دوهم دا چې نوموړي په یاد برید کې د شهید کړل شویو تنکي ماشومانو او حافظانو په اړه ادعاء وکړه چې دا حافظان خپله د هغو وسله والو طالبانو د پیرونو په وسیله وژل شوي کومو چې دلته په پوځي مانور کې ګډون درلود .

نوموړي د دې خبرې په توجیه کې ویل چې دا ماشومان وسله والو طالبانو د دولتي ځواکونو د بد نامي په خاطر ووژل او د خپلې دې بې منطقه ادعاء د اثبات لپاره یې دا دلیل ارائه کړ چې د وژل شویو حافظانو پر جسدونو موجود ټپونه ټول د سپکو وسلو ټپونه وونه د د الوتکو د بمونو د پارچو ټپونه. خو کله چې سیمي ته ټاکل شوی دولتي پلاوي ورغي او هلته یې په سیمه او روغتونونو کې د ټپیانو زخمونه له نیږدې ولیدل او له ډاکټرانو نه یې په دې اړه پوښتنه وکړه ، نو هغوي ټولو وویل چې مونږ ته راوړل شوي ټول زخمیان د بمونو په پارچو لګیدلي نه په مرمیو.

یاد پلاوي او ورسره ژورنالیستانو وروسته په خپله هم له ټپیانو سره خبري وکړي او د هغوي د ټپونو ژوندي تصویرونه یې له رسنیو سره شریک کړل چې په هغو کې واضح لیدل کیږي چې د پیښې زخمیان ټول د بمونو په پارچو لګیدلي او سوځیدلی دي نه د سپکو وسلو په مرمیو باندې.

د دروغجن راد منش په منطق کې د هیښتیا وړ خبره داده چې دوې مسلمان مجاهدین هم په خپل ځان قیاسوي او وایي چې د غونډې تنکي حافظان هغوي په خپله د دولت د بدنامولو په غرض وژلي.

سبحان الله !

دا به کوم ضمیر او وجدان وي چې یو څوک د قرآن کریم معصوم حافظان د دې په خاطر ووژني چې فقط مقابل لوری د ولسي خلګو په شهیدانولو تورن کړي؟

جنرال راد منش د یرغلګرو امریکایانو د یوه اجرتي مزدور په حیث ټول افغان ولس ته د خپل جاهلانه منطق له سترګو ګوري .

دی فکر کوي چې مسلمان افغانان به همدا د ده احمقانه استدلال ورسره ومني .

خو هغه د پښتو مشهور متل له مخې چې د دروغو منزل لنډ دی ...

د دروغجن رادمنش او د ده د ټول مصنوعي رژیم همدوغو ټولو کاذبانه استدلالاتو د یوې لحظې لپاره هم ولس قانع نه کړای شو ځکه د یادو استدلالاتومنل خپله د یوه سالم تعقل له مخې داسې جنون او بیعقلتوب دی چې ریښتیاوالی یې فقط د رادمنش د کاذب تعقل له مخکی ممکن دی.

نور افغان ولس پوهیږي چې رادمنش د یوه اجرتي دروغجن په حیث خبري مصداقیت دومره له لاسه ورکړی چې په ډیروحالاتو کې خپله دی هم په خپلو خبرو باور نه لري.

د لوګر ولایت د ځلانده ستوري

شهید قاري محمد داؤد "خالد"

ژوند ته لنډه کتنه

څه وړه هستي خونه وه ؛که ووایو چې داخلاص، توکل،عزم،متانت،عاجزي، تقوی او رښتونولۍ غونډي لوړو اخلاقو مجسم غرۍ چې ترخاورولاندي شونودهغه په وصف کې به مو زیاتوب نه وي کړی .

زوکړه او زده کړې :

قاري محمد داؤد "خالد" دحاجي لونګین زوی اودآمرالدین لمسی له نن څخه(۳۴)کاله وړاندي وروسته له هغي چې دهغه کورنۍ له روسي ښکیلاک څخه دپاکستان خیبرپختونخواه ایالت ته هجرت کړی ؤ دکوهاټ په سیمه کې زیږیدلی چې بیاله هغه ځایه دپېښوردجلوزوکیمپ ته وکوچېدل .

نوموړي دلوګر دازري ولسوالي دباغک کلي دشهاب الدین له جهادي اوشهید پروره کورنۍ سره تړاؤ درلود.

قاري "خالد" په ووړکتوب خپل پلاردعظیم الشان قرآن دحفظ لپاره دمردان تحفیظ القرآن مدرسي ته داخل کړ،له حفظ پوره کولووروسته یې ددیني زدکړو پیلیزکتابونه ترډیرې درجي پوري دخپل تره زوی مولوي نعمت الله (سعید) اوځیني نورواستادانو څخه ولوستل،دېنځمي اوشپږمي درجي کتابونه یې دپېښورپه پندوکي له محترم مولوي لطف الله صدیقي اومولوي محمد حقاني صیب څخه،پاتي کتابونه یې په بیلابیلومدرسوکي لوستلي اووړه دوره یې دهیواد له نامتو عالم شیخ الحدیث مولانا رحیم الله (حقاني) څخه دیوممتازطالب په توګه سرته رسولي وه .

مسلکي فعالیت اودندي :

شهیدقاري محمدداؤد "خالد" خپلوخوږو احساساتو، لوړهمت اوسپیڅلوارمانونو د۲۰۰۶زیږدیزکال په شاوخوا کې د قوماندان قاري عبدالرحمن(کوم چې دپکتیکا، پکتیا او خوست بیلابیلوسیمو او ولسوالیو؛ لکه زیروک؛نکې، ارګون ،صبریو،څتوکنډو، سپیره او...ته تګ راتګ درلود) ترمشري لاندي داسلامي امارت دسپیڅلي لښکرملګری کړچې هغه مهال یې څتوکنډو، سپیري، صبریو،نکي او...په تشکیلونو کي برخه درلوده اوڅه موده وروسته له شهیدمولوي محمد داؤد (جلالي) صیب سره یو ځای اوپه لوګراو ننګرهار کي یې جهادي فعالیت پیل کړچي بیادنوموړي اخلاص،لوړهمت ،جګړه ایزي تجربي اوښې وړتیاته په کتودلوګر ولایت عمومي مسئول، خپل مشرشهید(جلالي) صیب اودولایت په سطحه ځیني نورومسئوینوله لوري اود هغوی په اصراردسیمي د خورو ورو مجاهدینو دیوي ډلګۍ مشري،د خوښي ولسوالي له لوري دولایتي کمیسیون غړیتوب اولوګرته دنوروولایاتوڅخه راتلونکو مجاهدینو درهبري دنده هم ورډغاړې شوه اوتر وروستۍ ساپوري په پوره میړانه،لوړ متانت اودیوزړه وړونکي مشرپه توګه خپلې تولي دندي سمبال کړي .

"خالد"د اشغالګرو او دهغوی دمزدورانوترڅنګ دداعشیانو په وړاندي هم دننګرهاردخوږیانو، چپرهار، دیبالا او نازیانو په سنګروکي دیوغښتلي قوماندان په توګه خپل رول اداکړ.

"خالد" د کورترهوساینواوارام ژوند د جهاد دسنګر اودجګړي ډګرستونزي،ن اخوالي،ستړي ستوماني اود دښمن مخ ته شپي په ویښه لوبول تربل هرڅازیات خوښول؛ نوموړی دجهاداومبارزي په لاره کي ډیري سړي او تودي هم ګاللي چې یوځل۲۰۱۴زیږدیزکال په ننګرهارکي د(۶) تنه شهیدانوترڅنګ دی هم سخت ژوبل شوچې ډیرزرخدای(ج) ورته صحت ورکړاو یو ځل۱۴۲۹سپوږمیزکال دپاکستان خیبر پختونخواه په هنګوسیمه کې د پاکستان له تحریک سره دلاس درلودلوپه

توردډریونوروملګرو په ملګرتیاونیول شوچې څه موده وروسته بیاراخلاص اوپه جهادي دنده یې لاس پوري کړ.

شخصیت : قاري محمدداؤدیوداسې خوږمن،مخلص،ډېر وړتیا، ستري حوصلې، لوړواخلاقوخښتن اودجهاد او اسلامي امارت اهدافوته متعهد،وفاداراوژمن مشرؤچې نه یوازې دخپلوملګروترمنځ بلکې په خپلواو پردو ټولوکې یې محبوبیت اوپه دښمن یې لاهم ځانګړی اغیزدرلود،په لومړي لیده کاته به دې دا سې انګیرله چې د ځوکالوخوږملګری دی .

قاري "خالد"دخپلې ډلګۍ مشري مخکې اوهم وروسته لکه چې مووویل په بیلابیلوولایتونوکې خورا په زړه پوري فعالیتونه کړي وه اودهغوپه مټ یې ځانته دخپلوملګرو له منځ څخه دباوریوداسې پوستې ترلاسه کړی وه چې ساری یې ډیرکم لیدل کیږي .

قاري "خالد" دخپلوملګروجګړه ایزي اواخلاقي روزنې ته هم ځانګړې پاملرنه درلوده؛دجمې د لمانځه، د ماسپښین له لمانځه وروسته دمشارع الأشواق ـ دعوت جهاداو... مجاهدینو ته اورول، د ماښام له لمانځه وروسته سورت واقعه ـــ دماسخوتن له لمانځه وروسته سورت ملک اودسهارله لمانځه وروسته سورت یس ډله ایزډول لوستل اوهم د تراویحودختم پابندؤ.

قاري محمد داؤد له هرډول غدر،خیانت،بدلمنې اوسختې رویې ځان ګوښه ساتلی وه؛هیڅوک نشي ـ ثابتولای چې "خالد" دکوم شرعي منکرځای ته اویادهغه په وخت هلته شتون درلود؛ماله هغه سره د طالبي په لس کلنه اوږده ملګرتیاکې کله هم ورڅخه تونده اوسپکه خبره نه ده اوریدلې اوهمدالامل ؤ چې چاهم هغه یوځل لیدلی خامخا یې دهغه ښېګڼه بیان کړي؛کله ناکله خوبه له دښمن څخه هم په مخابره کې اوریدل کیدل چې که ټول طالبان د "خالد" غوندي وي نوموږورته تسلیم یو؛همدارنګه د "خالد" یوازېنۍ ډلګۍ ده چې د(۶۰)نفروپه شاوخواکې نوی فاضلان اودمدرسوطالبان ورکې برخه لري .

شهادت یې :

شهیدمحمدداؤد "خالد" دنوروطالبانوپه څیرتعلیمي کال له پای ته رسیدوسره سم خپل په دووګروپونوویشل شوي (۵۰)کسیزتشکیل چې لومړی (۳۰)تنه ګروپ وړاندې تیرشوی وه په دوهم (۲۰)کسیزګروپ کې دپکتیاځاځي اریوب ارغنه سیمې دزیړګل دغرونوپه لوړوڅوکوکې د مزدوردښمن له کمین سره مخ شو.

داچې دوی له یوې دینې مدرسې دسنګرپه لورخوځیدلي اودپاکستان له پولې داوښتلوپه مهال ؤله یومیل کلاشینکوف اویوې چانټې پرته چې له "خالد" سره ؤنورتجهیزات یې نه درلودل؛نومړه وړي په همدغه یوه میل کلاشینکوف په پوره میړانه له دښمن سره(۲)ساعته مقاومت جاري وساتلای شوچې مکاردښمن تري بیابیاد تسلیمۍغوښتنه هم وکړه خود "خالد" په څیرډټینګ عزم مجاهدته هیڅ دمنلووړنه وه او دګیدړ له سل کاله ژوند څخه یې دزمري یوه ورځ ژوند غوره وباله هغه ؤچې دښمن ته له مرګ ژوبلې اړولو وروسته (۳۳)کلن "خالد" هم دسرپه بیه دخپلو(۱۳) ملګروژوندااوازادي وژغورل اودخپلو (۶)ملګروپه ګډون د۱۴۳۷سپوږمیزکال درجب په(۱۹)مه دشهادت لوړمقام ته ورسیداو درجب په(۲۱)مه د شپې مهال(۱)نیمه بجه دخپل پلرنې کلي(باغک)دشهیدانوپه هدیره کې خاوروته وسپارل شو(انالله واناالیه راجعون).

دنوموړي دجنازي په مراسموکې دهغه ګڼو خپلوانو، عقیدت مندو،عوامو او مجاهدینوملګرو چې شمیره یې (۱۹) صفونوته رسیده ګډون درلود.

شهید "خالد" شاته دموراوپلارترڅنګ(۳)کشران ورونه(چې له دوی څخه داشرف الله په نامه یویې له شهید (جلالي) صیب سره ځخمي شوچې بیاد(جلالي) صیب دجنازي دمراسموپای ته رسیدو په مهال په شهادت ورسید)،(۴) اولادونه،یوه تورسري اوپه خپله جهادي روحیه روزلې دمجاهدینویوه ډلګۍ پریښوده .

هو !شهید "خالد" که څه هم سپیڅلې ډیرارمانونه به یې نیمګړي له ځان سره وړي وي اودهغه دوینودرنګینیوپه بنه به وروسته پوره شي خوچې دده سپیڅلې تګلاري اوخوږوخاطروته ځیرشونوداسلامي امارت سپیڅلې صف ته تر وروستۍ ساه وفاداري اوتعهداوبیاشهادت په ګډون ډیرنورارمانونه یې پوره هم شول ؛ روح دې یې ښاداو یاددې یې تل پاتې وي .

شهید فجر

انجنیر محمد نذیر تنویر

دکتور مهندس فادی محمد البطش مخترع نخبه فلسطینی فجر اول ثور ۱۳۹۷ مصادف به ۲۱ اپریل ۲۰۱۸ در مسیر محل سجده گذاران از برای خالق هستی توسط صهیونیست های بزدل در شهر کوالالامپور پایتخت مالزیا به شهادت رسید.

إِنَّا لِلَّـهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

ما از آنِ الله ئیم و به سوی او بازمی‌گردیم.

پولیس شهر کوالالامپور در بیانیه خود با تائید حادثه افزود:

صبح امروز دو نفر موتورسایکل سوار با نزدیک شدن به فادی البطش که در حال عزیمت به سوی مسجد برای ادای فریضه نماز بود، وی را به رگبار گلوله بستند که بر اثر اثابت ۱۴ گلوله در لحظات نخست، جان را به حق سپارید.

فادی البطش ۳۵ ساله استاد پوهنتون و محقق فلسطینی در ساحهٔ الکترونیک بود که قبل از عزیمت به مالزیا برای ادامه تحصیل در اداره برق شهر غزه مشغول به کار بود. وی به دلیل فعالیت های تحقیقی خود، جایزه بهترین دانشمند عربی را از پوهنتون ملی مالزیا دریافت کرده بود.

رهبران جنبش های مقاومت فلسطین، سازمان جاسوسی اسرائیل (موساد) را مسئول این جنایت دانسته اند.

رسانه های صهیونیستی از خالد البطش به عنوان مهندس وابسته به حماس یاد کرده و او را به شرکت کردن در فعالیت های نظامی حماس متهم کردند که خود توجیه بر قضیه در دست داشتن صهیونیست ها را نشان می دهد.

نباید فراموش کرد که شیخ یاسین رحمه الله نیز در فجر، بعد از ادای نماز صبح، توسط طیارات صهیونیستی ترور گشت.

بدون شک، همچو اعمال بزدلانه و ناجوانمردانه طاغوتیان عصر کنونی، بیداری اسلامی را بیشتری را در پیشرو خواهد داشت، زیرا آنانی که در راه الله جل جلاله شهید می شوند، نزد پروردگار شان زنده اند و ثمرهٔ خون پاک شان، مجاهدین بیشتری را در مزرعه های مقاومت اسلامی خواهد رویاند:

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّـهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾

و کسانی را که در راه الله کشته می‌شوند، مرده مشمار، بلکه آنان زنده اند و بدیشان نزد پروردگارشان روزی داده می‌شود (و چگونگی زندگی و نوع خوراک ایشان را فقط الله جل جلاله می داند و بس).

د افغانستان ټولنه او ملا

■ نصیب ځدراڼ

په فیسبوک کې د نجیب ننګیال په نوم د یوه لیکوال لیکنه مخې ته راغله د خپل قلم زړه یې د ملا په مخالفت کې ښه تش کړی و. ویلي یې و چې خان لمونځ ونکړي نو ملا څه نه ورته وایي او غریب چې لمونځ ونکړي نو ملا د منافق لقب ورکوي. آخر کې یې لیکلي و چې ملا وایي د پیغمبر وارث یم خو کارونه یې د ابو جهل دي.

مختصر- دا چې ټولې بدبختۍ یې په ملا ور تپلې وې.

چې حق خبر وي باید سترګې وړباندې پټې نه کړو. لرې تګ ته ضرورت نشته خپل وطن ته وګورو چې د باروتو تجره ګاه تر جوړه ده. لکونو کونډې، یتمیان او معیوبین ژوند پکې کوي او نوره نړۍ سپوږمۍ ته ورسیده او له هغې مخکې مریخ ته روانه ده او د بمونو د مور تجربې په افغانستان کې کوي.

زموږ د وطن د بدبختیو او ناکامیو ستر علتونه څوک دي؟

ظاهر شاه څلویښت کاله باچاهي وکړه. خلک یې د څارویو غونډې محکوم ساتلي وو آیا ظاهر شاه ملا وو؟

نور محمد تره کي د سردار داود په مشروع او جائز حکومت کودتا وکړه نسکور یې کړ. سردار داؤد یې سره له خپلې کورنۍ ۱۷ کسانو وواژه. په اسلامپالو یا د دوی په اصطلاح په ملا فکره خلکو یې پیل وکړ په له کورو، مدرسو، پوهنتونو او بازارنو څخه به یې ونیول او تري تم به یې کړل. په زرګونو محصلین، طالبان، قومي مشران او عام خلم یې له خاورو لاندې کړل. آیا تره کی هم ملا و؟

ببرک کارمل چې روسانو ته یې امیلونه ور په غاړه کړل او هرکلی یې ورته ووایه او روسانو د لکونو افغانانو وینې تویې کړلې آیا ببرک کارمل هم ملا و؟

شاهنواز تنی هم ملا و چې له نظامي رازونو او طیارو سره پاکستان ته وتښتېد خو نن په عزت سره په کابل کې ژوند کوي؟

نجیب چې کله د خاد مشر شو، د تره کې په قدمونو یې پل کېښود. په زرګونو افغانان یې پرته له کومې محکمې او عدالت ووژل؛ آیا هغه هم ملا و؟

حامد کرزی او دوستم چې خړ څادرونه به یې له مخونو تاو وو او سي ای اې عسکرو ته به مخکې مخکې روان وو ټول وطن یې په اشغال کړ آیا هغه هم ملایان وو؟

اشرف غني چې له ناټو سره یې دایمي تړون وکړ او د شاه شجاع ثاني کردار یې ادا کړ آیا اشرف غني هم ملا دی؟

ننګیال وایي چې ملایان په څلویښت کلدارو فتوی خرڅوي. خو د تش په نوم ملایانو نه په څنګ تیر شوی څوک چې په ډالرو فتوی ګانې خرڅوي. لکه سیاف، لکه خان میر، لکه ظاهر حقاني او لکه ملا تره خیل؛ څوک چې د امریکایي پوځي افسرانو سره ناست وي او په تخرګو کې یې د دوی د اشغال د حقانیت فتوی نیولې وي او هغه افغانان چې د زرګونو کیلومترو لرې نه راغلي انګریزانو نه د خپل وطن دفاع کوي هغوی د ډالرو په زور ترهګر، اشرار او ورانکاري ثابتوي. داسې درباري او تش په نوم ملایان چې د ټولو علماء اکرامو رنګ یې بد کړی هغوی ته په وطن مینو ملایانو نوم ورکوي.

سوال دلته پیدا کیږي چې ریښتوني ملا څوک دی؟ ملا زموږ ټولنې ته څه ورکړي؟ او بدل کې یې څه ترې اخیستي؟

زموږ د پیدائښ نه ونیسه تر مرګ پورې ملا په هر ډګر کې زموږ سره دی. کوچنی ماشوم چې پیدا شي په غوږ کې اذان ملا ورته کوي. مور پلار یې که د ښوونځي مصارف لري او که نه خو جومات ته یې د قرآن کریم د زده کړې لپاره خامخا ورلیږي. که ژمی وي که اوړی، باران وي که واوره، ملا پنځه وخته په جومات کې د الله اکبر د غږ سره موږ جومات ته ور بولي. نور د هر چا رخصتي وي خو د ملا رخصتې نشته. اکثر خلک چې ځانونه د ملا مخالف بولي چې کله یې کور کې مړی وشي بیا ملا ته ور منډې وهي. او ملا د مړي د غسل نه تر جنازې ورسره وي. بیا د همدې سړی ملا په غیږ کې یې راټینګ کړی وي او تسلی ورکوي.

دا د ملایانو مخالف خلک د ملا نه څکه بیزاره دي چې دوی غواړي اسلام د خپلو خواهشاتو تابع کړي خو ملا یې په لار کې خنډ جوړ شوی. دوی کله د لیلن په مفکوره پسې منډې وهي کله بیا د بش، اوبامه او ټرمپ بوټ پاکي شروع کړي او ملا یې په قلم، بیان او ټوپک د غلطې لارې راګرځوي بس همدا د دوی او د ملا لانجه ده.

ریښتوني ملایانو څوک دی؟ ریښتوني ملا خو ملا محمد عمر مجاهد (رح) و چې هغه خاینان یې له وطنه پسې واخیستل چا چې په هره ولسوالۍ کې ځان ته حکومت جوړ و په خلکو یې ژوند حرام کړی و، اوس اکثر په پارلمان، ارګ او وزارتونو کې ناست دي او زړه دنده یې په بل شکل پیل کړې ده.

رښتوني ملا ملا داد الله اخوند و چې هم یې روسان وټکول هم یې د امریکایانو ماغزه ور وګرځول پس له شهادته یې هم امریکایان جسد ته حیران ولاړ و چې دا څه عجب سړی و.

ریښتوني ملا مولوي جلال الدین حقاني دی چې روسانو مغرور دښمن ورته وویل او د ناټو په

ضد یې بیا ټوپک راوخیست ځلور بچیان یې شهیدان شول خو نه یې ضمیر په امتیازاتو خرڅ کړ نه یې سر ډالرو ته ټیټ کړ.

ریښتونی ملا مولوي اختر محمد منصور و چې بدن یې په باروتو سوی سکور کړ خو ناټو ته یې سر ښکته نکړ.

ربښتونی ملا مولوي نصر۔ الله منصور و چې روسان یې په منډه کړل خپله هم شهید شو او زوی یې مولوي سیف الرحمن منصور د شاهي کوټ غرونه له کبرجنو صلیبیانو په نجسو مړو ولړل او خپله هم شهید شو.

ریښتونی ملا شیخ عبدالحمید حماسي د چا ژبه چې تل د حق لپاره ښوروي.

دا د ملایانو مخالف خلک د ملا نه ځکه بیزاره دي چې دوی غواړي اسلام د خپلو خواهشاتو تابع کړي خو ملا یې په لار کې خنډ جوړ شوی. دوي کله د لیلن په مفکوره پسې منډې وهې کله بیا د بش، اوبامه او ټرمپ بوټ پاکي شروع کړي او .

دا لیسټ دومره اوږد دی چې په یوه کتاب کې نه راټولیږي. ملا تل د وطن او دین ساتنه کړې ده. خلقیانو، پرچمیانو، کمونستان، ډیموکراتانو د وطن سودا هم کړي ده. له وطنه تښتیدلی هم دي خو ملا تل لګیا دی د دوی کرل شوي ازغي صفا کوي.

ملا مجاهد دی

ملا زموږ رهبر دی

الله تعالي دي زموږ ټولنه "بې له ملا" نه کوي.

هغه خواړه چې

د سترګو کمزوری لید تیزوي

طب ثابته کړې ده چې د لید کمزوري او د عمر زیاتېدو تر منځ اړیکه شتون لري، چې د عمر په زیاتېدو سره په طبیعي ډول لید کمزوری کیږي، خو له روغتیا ډک ژوند کولای شي ستاسې کمزوری لید تیز کړي او د سترګو دید ستونزو څخه مو خلاص کړي.

په همدې اساس ځانګړې څېړنې ښایي چې ځینې غذایي خواړه لکه زنک «کوټ یا جس» یو ډول کیمیاوي ماده ده، مس، ویټامین C او E، او د بیټا کروټین مادې کولای شي ستاسې کمزوری لید چې د عمر ډېروالي له امله شوی وي ۲۵ سلنه تیز کړي.

په امریکا کې د سترګو څېړنیز مرکز هغه خواړه چې د سترګو لید په تیزوالي کې مرسته کوي وړاندې کړي په لاندې ډول دي:

ماهي

ماهي په عام ډول غوړ اسیدونو لري، چې په طبي اصطلاح (omega-۳) ورته ویل کیږي، دا په اکثره ماهیانو کې موندل کیږي.

ځینو څېړنو ښودلې چې د ماهي غوړ یا اومیګا ۳ اسیدونه کولای شي د سترګو اوبو وچوالي اندازه کمه کړي، په ځانګړې ډول هغو کسانو ته چې د کمپیوټر، لیپټاپ یا مبایل شیشې ته زیات وخت ګوري.

وچه میوه:

د څېړنو پر اساس وچه مېوه هم د غوړ اسیدونو «اومیګا ۳» او ویټامین E په پراخه کچه لري، چې کولای شي د عمر پورې اړوند د سترګو لید کمزوري مخه ونیسي، هغه وچې میوې چې سترګو ته ګټه لري، اغوز، کاجو، ممپلي او داسې نورې دي.

تخمونه، دانې یا بوټي

هغه تخمونه یا دانې چې ویټامین E او اومیګا ۳ اسیدونه لري، د وربشې تخم، د پمبې تخم او د ویټیلریا «Salvia Vitellaria» (دغه تخم په سویلي امریکا کې ډېر کرل کیږي، چې د پخولو ترځنګ د درمل په توګه هم استعمالیږي) تخم دی، دا د سترګو په روغتیا کې ګټور ثابتیږي.

ګل لرونکي تروې مېوې

هغه تروې مېوې چې له پخېدو مخکې ګل کیږي، لکه مالټه، انګور او لیمو، چې د ویټامین C

لویه سرچینه ده، او د اکسایډ ضد هم دي، د سترګو کمزوري لید په ښه کولو کې مرسته کوي.

پاڼه لرونکي سبزي

پاڼه لرونکي شنه سبزي کې داسې مادې شتون لري چې د سترګو دید په تېزولو کې مرسته کوي، همدا ډول پاڼه لرونکي سبزي له ویټامین C او E نه ډکه وي، او دغه ویټامینونه د سترګو لید تیزولو کې په عمومي ډول مرسته کوي.

خوږ آلو

خوږ آلو لکه څنګه چې ویټامین E لري او د اکسایډ ضد دي، همدا ډول یې د بیټا کروټین ماده د سترګو لید ښه کولو کې هم مرسته کوي.

غوښه

غوښه په لویه کچه «کوټ، جست/زنک zinc» لري، چې د سترګو په روغتیا کې اوږدمهاله مرسته کوي، او څېړنې زیاتوي چې زنک د عمر تېریدو سره د سترګو خرابوالي مخنیوي کې مرسته کوي، څکه چې سترګې په خپل ځان کې هم زنک ماده لري. همدا ډول د چرګانو غوښه هم زنک ماده لري خو کچه یې کمه ده.

هګۍ

هګۍ هم په لوړه کچه ویټامینونه لري، د سترګو لپاره په کې ځانګړی E ویټامین او زنک ZINC مادې کچه شتون لري، له همدې لامله د سترګو لید کمولو مخنیوی کوي.

اوبه

د زیاتو اوبو څکل یو شمېر روغتیایي ګټې لري، چې یوه یې د سترګو وچوالی ختمول دي، د سترګو اوبه وچېدل ډېر لاملونه لري، چې له کبله یې د سترګو لید خرابیږي.. د پورتنیو خوړو ترڅنګ یې اوبه هم غوره درمل دي.

د سترګو ژغورلو لپاره څو غوره مشورې:

د لمر چشمې په سترګو کول، څکه چې لمر که مستقیم ډول په سترګو لګیږي د سترګو لینز ته زیان رسوي.

سیګرټ څکول هم د سترګو خرابوالي لامل کیږي، د سترګو خرابولي مخنیوي لپاره باید سګرېټ نشه پرېښودل شي.

په منظم ډول د سترګو معاینه کول.

سترګې له میکروبه ساتل، باید په سترګو کې د لاس یا ګوتو وهلو نه وړاندې لاسونه پریمنځل شي.

د کمپیوټر استعمالولو پر وخت احتیاط کول، د کمپیوټر استعمال پر وخت باید هر شل دقیقې وروسته د شلو ثانیو لپاره سترګې لرې ونیول شي، یا د شلو ثانیو لپاره سترګې کلکې بندې کړل شي.

د شکر ناروغ لپاره په کار دي چې د شکر کچې خیال وساتي، څکه چې دا د ړندیدلو لامل هم کیږي.

یادونه: دغه خواره هغه د سترګو لید د کمزوری مخنیوی کوي، چې د عمر په زیاتېدو سره کم شوی وي، که د سترګو لید مو کومه بله ستونزه لري ددې خوړو ترڅنګ له ډاکټر سره هم مشوره وکړئ!

سرچینه: عربي ۲۱

د کندوز د معصومو شهیدانو په یاد

شاعر: مفتون

د پلار امید د مور ارمان ورسره هم شهید دی
طالب شهید دی او قرآن ورسره هم شهید دی

چې شاګردانو ته یې مینه ور ښوده په په مینه
هغه استادِ مهربان ورسره هم شهید دی

یوه کفري طوفان یرغل کړی د دین په ګلشن
ګلاب شهید دی او ریحان ورسره هم شهید دی

دغه یو څو کوچني حسین حافظان نه یادوم
بلکې ښایست دټول جهان ورسره هم شهید دی

دلته یواځې شاګردان شهیدان شوي نه دي
عظمت د علم او عرفان ورسره هم شهید دی

فضاء خاموشه ده مفتونه دښتې غرونه خفه
روح مې د ګران افغانستان ورسره هم شهید دی

Shahamat